# د هجرت کتاب

## سریزه

د هجرت کتاب د تورات دوهم کتاب دی. په دې کتاب کې یوه ډېره مهمه پېښه چې د اسراییلو په تاریخ کې رامنځته شوې وه بیانیږي. دا کتاب مونږ ته د مصر د غلامۍ څخه د اسراییلو د ازادۍ په باره کې خبرې کوي.

دا کتاب څلور مهمې برخې لري: (۱) د غلامۍ څخه د عبرانیانو ازادېدل (۲) د سینا غره ته د هغوی سفر (۳) د خدای پاک لوظ د خپل قوم سره د سینا په غره کې او هغوی ته د ځینو قوانینو ورکول چې د هغو له مخې ژوند وکړي (۴) د اسراییلو دپاره د عبادتخانې جوړول او د کاهنانو او د خدای پاک د عبادت په باره کې قوانین.

برسېره پردې دا کتاب دا بیانوي چې کله چې خدای پاک خپل خلک د غلامۍ څخه خلاص کړل او د هغوی څخه یې یو قوم جوړ کړ، نو د هغوی دپاره یې کوم کارونه وکړل.

په دې کتاب کې مرکزي شخصیت حضرت موسیٰ دی چې خدای پاک هغه انتخاب کړی ؤ چې د هغه قوم د مصر څخه راوباسي. د هجرت د کتاب اولني دولس فصلونه مونږ ته د اسراییلو د تکلیف او عذاب حالت بیانوي چې په مصر کې یې په مهاجرت او غلامۍ کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ژوند تېراوه. مطلق قادر خدای چې پرېکړه يې کړې وه هغوی ته خلاصون ورکړي، نو په مصريانو باندې د ډول ډول بلاګانو په نازلولو سره يې فرعون دې ته مجبور کړ چې هغوی ته د وتلو اجازه ورکړي.

د مصر څخه د اسراييلو د وتلو څخه وروسته په داسې حال کې چې د فرعون لښکرو هغوی تعقيبول، خدای پاک هغوی په معجزانه ډول د سرې بحيرې څخه تېر کړل. خو سره له دې چې اسراييلو څو څو ځلې وليدل چې خدای پاک هغوی په معجزو باندې ساتي او مرسته ورسره کوي، بياهم هغوی د هغه په مقابل کې نافرماني وکړه. د نافرمانۍ په نتيجه کې هغوی وعده شوي وطن يعنې کنعان ته ونه رسېدل او څلوېښت کاله په دښته کې سرګردانه شول. په دې موده کې هغه نافرمانه نسل مړ شو او يو نوی نسل چې غوښتل يې د خدای پاک د حکمونو څخه اطاعت وکړي راپيدا شو.

کله چې هغوی د سينا د غره لمنو ته ورسېدل، خدای پاک په غره باندې د حضرت موسیٰ سره خبرې وکړې او هغوی ته يې لس حکمونه چې د حضرت موسیٰ د شريعت اساس جوړوي ورکړل. د دې شريعت ډېره مهمه برخه د هغوی د ګناهونو دپاره د کفارې ادا کولو په خاطر د حيواناتو د قرباني کولو په باره کې وه. که څه هم دې قربانيو نه شو کولی چې د هغوی د بدنونو څخه د همېشه دپاره ګناه لېرې کړي، خو دا د يوې داسې کاملې قربانۍ نمونه وه چې خدای پاک د ټولو انسانانو دپاره د ګناه څخه د خلاصون په خاطر برابره کړې وه. دا کامله قرباني په آينده کې د راتلو په حال کې وه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د موضوعګانو فهرست

د مصر څخه د اسراییلیانو ازادېدل ۱: ۱ – ۱۵: ۲۱

الف: په مصر کې غلامان ۱: ۱ – ۲۲

ب: د حضرت موسیٰ زېږېدنه او د هغه د ژوند اولني کلونه ۲: ۱ – ۴: ۳۱

ت: حضرت موسیٰ او حضرت هارون د فرعون سره مخالفت کوي ۵: ۱ – ۱۱: ۱۰

ث: د فسحې اختر او د مصر څخه وتل ۱۲: ۱ – ۱۵: ۲۱

د سرې بحيرې څخه د سينا تر غره پورې ۱۵: ۲۲ – ۱۸: ۲۷

قانون او لوظ ۱۹: ۱ – ۲۴: ۱۸

مقدسه خېمه او د عبادت دپاره لارښوونې ۲۵: ۱ – ۴۰: ۳۸

## په اسراييليانو باندې په مصر کې ظلم کېږي

۱-۵ کله چې حضرت يعقوب مصر ته لاړ، د هغه زوی
حضرت يوسف له پخوا نه هلته ؤ. نو حضرت يعقوب خپل نور زامن
د هغوی د کورنيو سره بوتلل. د هغوی نومونه دا دي: روبين، شمعون،
لاوي، يهودا، يساکار، زبولون، بنيامين، دان، نفتالي، جاد او اشير. د
حضرت يعقوب د ټولو زامنو، لمسيو او کړوسيو شمېر اويا تنو ته
رسېده او هغوی ټول د هغه سره لاړل. ۶ د وخت په تېرېدو سره
حضرت يوسف، د هغه ورونه او د هغې زمانې ټول خلک مړه شول،
۷ خو د هغوی اولاده يعنې اسراييليان د زياتو اولادونو خاوندان
شول او هغوی دومره زيات شول چې مصر ورڅخه ډک شو.

۸ له ډېرو کلونو وروسته په مصر کې يو نوي پادشاه قدرت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترلاسه کړ چې هغه د حضرت یوسف په باره کې هیڅ معلومات نه
درلود. ٩ هغه مصریانو ته وویل: <د اسراییلو شمېر زمونږ په
خاوره کې ډېر شوی دی او هغوی زمونږ نه ډېر قوي دي. ١٠ که
چېرې جنګ وشي نو کېدای شي چې هغوی زمونږ د دښمنانو سره
یوځای شي او زمونږ په مقابل کې وجنګېږي او د دې وطن څخه
وتښتي. نو مونږ باید کومه لاره چاره وسنجوو او پرېنږدو چې د
هغوی شمېر له دې څخه هم زیات شي.> ١١ نو مصریانو هغوی د
کار مشرانو ته وروسپارل ترڅو هغوی اسراییلیان په سخت کار
کمزوري کړي. هغوی د فیتوم او رعمسیس ښارونه چې فرعون په
کې خپل ګودامونه ساتل جوړ کړل. ١٢ که څه هم د اسراییلیانو
سره بده رویه کېدله، خو د هغوی شمېر زیاتېده او نوره ځمکه یې هم
ونیوله. له دې کبله مصریانو له هغوی څخه وېره درلودله ١٣-١۴
او سخت ظلم یې ورباندې کاوه چې ژوند یې تریخ شي. هغوی به یې
مجبورول چې خښتې جوړې کړي، ختې وکړي او په پټیو کې کار
وکړي او هیڅ رحم یې ورباندې نه کاوه.

١۵ په آخر کې فرعون دوه دایې ګانې راوغوښتې چې شفره او
فوعه نومېدلې او هغوی د عبراني ښځو سره د اولاد د زېږولو په
وخت کې مرسته کوله. ١۶ هغوی ته یې وویل: <که چېرې یوه
عبراني ښځه نجلۍ وزېږوي، هغه ژوندۍ پرېږدئ او که چېرې هلک
وي نو ویې وژنئ!> ١٧ که څه هم فرعون ورته ویلې وو، مګر دا
ښځې د خدای پاک څخه وېرېدلې او هلکان یې نه وژل. ١٨
فرعون یو ځل بیا دا دوه دایې ګانې راوغوښتې او پوښتنه یې ورڅخه
وکړه: <تاسو ولې هغه هلکان ژوندي پرېږدئ؟>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٩ هغوی په ځواب کښې ووېل: <عبرانی ښځې د مصريو ښځو په
پرتله ژر ماشوم زېږوي او زمونږ له رسېدلو څخه مخکښې د هغوی
ماشوم پيدا کيږي.> ٢٠-٢١ خدای پاک له هغو دوو ښځو سره
ښه وکړل ځکه چې هغوی په رښتيا سره له خدايه وېرېدلې او هغوی
دواړو ته يې اولادونه ورکړل. عبرانيان به زياتېدل او قوي کېدل. ٢٢
باالاخره فرعون ټول قوم ته امر وکړ: <څنګه چې عبرانی هلک پيدا
کيږي، تاسو به هغه د نيل په سيند کې غورزوئ. مګر ټولې انجونې
ژوندی پرېږدئ.>

## د حضرت موسیٰ زېږېدنه

٢ ١ په همدې وخت کې يو سړي چې د لاوي د قبيلې څخه ؤ
د خپلې قبيلې د يوې ښځې سره واده وکړ. ٢ هغه ښځه اميدواره
شوه او زوی يې پيدا شو. کله چې هغې وليدل چې ماشوم يې ښکلی
دی نو هغه يې د دريو مياشتو دپاره پټ وساته. ٣ کله چې هغې
نور نه شو کولی چې هغه ماشوم پټ وساتي، نو د لوخو څخه يې يوه
ټوکرۍ جوړه کړه او د قيرو پوښ يې ورته ورکړ. هغې ماشوم په
ټوکرۍ کې واچاوه او د نيل د سيند په غاړه يې د لوخو په منځ کې
لاهو کړ. ٤ د ماشوم خور لږه لېرې ودرېدله چې وګوري په
ماشوم باندې څه کيږي.

٥ په دې وخت کې د فرعون لور د لمبلو دپاره سيند ته راغله او
د هغې وينځې د سيند په غاړه ګرځېدلې. په دې وخت کې هغې د
لوخو په منځ کې هغه ټوکرۍ وليدله او يوه ښځه يې ورولېږله چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه له اوبو څخه راوباسي. ۶ کله چې د فرعون لور ټوکرۍ
پرانیستله هغې ماشوم ولید او وربانديې خفه شوه ځکه چې هغه ژړل.
هغې وویل: <دا یو عبرانی ماشوم دی.>

۷ یوناځاپه د ماشوم خور راغله او پوښتنه یې وکړه: <آیا ته
غواړې چې زه لاړه شم او دغه ماشوم ته یوه عبرانی ښځه راولم چې
تې ورکړي؟>

۸ د فرعون لور په ځواب کې وویل: <هو، لاړه شه.> نو نجلۍ
لاړه او د ماشوم خپله مور یې راوستله. ۹ د فرعون لور هغې
ښځې ته وویل: <دا ماشوم واخله او زما دپاره شیدې ورکوه او پالنه
یې کوه. زه به تاته پیسې درکوم.> هغې ماشوم یووړ او د هغه پالنه
یې کوله. ۱۰ کله چې دا ماشوم لوی شو، نو هغه یې د فرعون لور
ته یووړ او هغې لکه د خپل زوی په شان وساته. هغې په دې ماشوم
باندې د موسیٰ نوم کېښود، ځکه چې هغې د ځان سره وویل: <ما
هغه له اوبو څخه راوویست.>

## حضرت موسیٰ مدیان ته تېښتي

۱۱ کله چې حضرت موسیٰ لوی شو، هغه د خپل قوم سره د لیدنې
کتنې دپاره لاړ. هغه ولیدل چې د هغه قوم څومره سخت کار کاوه.
هغه یو مصری ولید چې یو عبرانی ورور یې واهه. ۱۲ حضرت
موسیٰ یو خوا بل خوا وکتل کله چې پوه شو څوک یې نهویني، نو
هغه مصری یې وواژه او په شګه کې یې پټ کړ. ۱۳ کله چې
حضرت موسیٰ بله ورځ ووت، هغه دوه عبرانیان ولیدل چې یو د بل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره يې جګړه کوله. نو حضرت موسیٰ له هغه يو شخه چې ملامت ؤ
پوښتنه وکړه: <ته ولې خپل عبرانی وطندار وهې؟>

۱۴ هغه سړي په ځواب کې وويل: <ته چا زمونږ قاضي او حاکم
ټاکلی يې؟ ته غواړې چې ما هم ووژنې لکه څنګه چې دې هغه
مصری وواژه؟> حضرت موسیٰ د دې خبرې په اورېدلو ووېرېده او
د ځان سره يې وويل: <خلک پوه شوي دي چې ما څه کړي دي.>
۱۵ کله چې فرعون د حضرت موسیٰ د کار څخه خبر شو، هغه د
حضرت موسیٰ د وژلو هڅه وکړه. مګر هغه د مديان خاورې ته
وتښتېده.

يوه ورځ حضرت موسیٰ د کوهي په غاړه ناست ؤ، ۱۶ چې د
مديان کاهن يترون اووه لورګانې راغلې چې اوبه راوباسي او د خپلې
رمې دپاره اخورونه ډک کړي. ۱۷ مګر څو شپنو د يترون لورګانې
وشړلې. بيا حضرت موسیٰ د هغوی سره د مرستې کولو دپاره ورغی
او رمې ته يې اوبه ورکړې. ۱۸ کله چې د يترون لورګانې خپل کور
ته راستنې شوې، نو پلار يې پوښتنه ورڅخه وکړه: <تاسو نن دومره
وختې ولې راغلئ؟>

۱۹ هغوی په ځواب کې وويل: <يو مصري د شپنو څخه وژغورلو
او زمونږ دپاره يې اوبه راوويستلې او رمې ته يې ورکړې.>

۲۰ يترون پوښتنه وکړه: <هغه چېرته دی؟ تاسو ولې هغه هلته
پرېښود؟ هغه ته بلنه ورکړئ چې زمونږ سره ډوډۍ وخوري.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ نو حضرت موسیٰ موافقه وکړه چې د يترون سره پاتې شي او
هغه خپله لور صفوره حضرت موسیٰ ته په نکاح ورکړه. ۲۲ کله
چې د هغې زوی پيدا شو، حضرت موسیٰ وفرمايل: <زه به د هغه
نوم جرشون کېږدم ځکه چې زه په دې خاوره کې بېګانه يم.>

۲۳ وروسته له ډېرو کلونو د مصر پادشاه مړ شو. اسراييليانو لا د
غلامۍ له کبله فريادونه کول او د خدای پاک څخه يې مرسته
غوښتله. ۲۴ خدای پاک د دوی فرياد واورېده او هغه لوظ يې را
په ياد کړ چې د حضرت ابراهيم، حضرت اسحاق او حضرت يعقوب
سره يې کړی ؤ، ۲۵ ځکه چې خدای پاک وليدل چې د هغه په قوم
باندې څه تېرېږي. نو هغه وربادې ډېر انديښمن شو.

## خدای پاک د حضرت موسیٰ سره خبرې کوي

۳ ۱ يوه ورځ حضرت موسیٰ د خپل خسر يعنې د مديان کاهن
يترون رمه څروله او حضرت موسیٰ د رمې سره د دښتې په لار د
سينا مقدس غره ته راغی. ۲ هلته هغه ته د يو سوزېدونکي بوټي
څخه د ښښتن فرښته ورښکاره شوه. حضرت موسیٰ وليدل چې
بوټي اور اخيستی ؤ، مګر نه سوزېده. ۳ هغه د ځان سره وويل:
<دا عجيبه خبره ده! زه ځم وګورم چې دا بوټی ولې نه سوزي.>

۴ کله چې ښښتن وليدل چې حضرت موسیٰ بوټي ته ورنژدې
کيږي، هغه غږ ورته وکړ: <ای موسیٰ، ای موسیٰ!>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حضرت موسیٰ په ځواب کې وفرمایل: <زه حاضر یم.>

۵ خدای پاک ورته وفرمایل: <نژدې مه راځه، خپلې څپلۍ
وباسه. په کومه ځمکه باندې چې ته ولاړ يې هغه ځمکه مقدسه ده.
۶ زه ستا د نیکونو ابراهیم، اسحاق او یعقوب خدای یم.>
حضرت موسیٰ خپل مخ پټ کړ ځکه چې هغه وېرېده چې خدای
پاک ته وګوري.

۷ څښتن وفرمایل: <ما ولیدل چې زما د قوم سره په مصر کې
خومره ظالمانه رویه کیږي. ما اورېدلي چې هغوی ماته زاری کوي
چې د خپلو مسئولانو څخه خلاص شي. زه د هغوی د ټولو تکلیفونو
څخه خبر یم. ۸ نو زه راښکته شوی یم چې هغوی د مصریانو
څخه وژغورم. زه به خپل قوم له مصر څخه داسې هېواد ته بوځم
چې پراخ وي او ښه حاصلخېزه ځمکه په کې وي. زه به هغوی ته
هغه ځمکه ورکړم چېرته چې کنعانیان، حیتیان، اموریان، فرزیان،
حویان او یبوسیان اوسیږي. ۹ زما قوم ماته د مرستې دپاره زاری
کولې او ما لیدلي دي چې مصریان په هغوی باندې څومره ظلم کوي.
۱۰ اوس فرعون ته ورشه! زه تا هلته لېږم ترڅو زما قوم یعنې
اسراییلیان له هغې خاورې څخه راوباسې.>

۱۱ مګر حضرت موسیٰ خدای پاک ته وفرمایل: <زه څوک یم
چې فرعون ته ورشم او اسراییلیان له مصر څخه وباسم؟>

۱۲ خدای پاک په ځواب کې وفرمایل: <زه به ستا سره مل یم. او
دا به تاته یوه نښه وي چې دا زه یم چې ته مې ولېږلې: کله چې ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قوم له مصر څخه راوباسې، تاسو به په دې غره باندې د خدای
عبادت وکړئ.>

۱۳ حضرت موسیٰ په ځواب کې وفرمایل: <کله چې زه
اسراییلیانو ته ورشم او هغوی ته ووایم چې زه ستاسو د نیکونو
خدای رالیږلی یم، هغوی به زما څخه ستا د نوم پوښتنه وکړي، نو زه
هغوی ته څه ځواب ورکړم؟>

۱۴-۱۵ خدای پاک حضرت موسیٰ ته په ځواب کې وفرمایل:
<زه هغه څوک یم چې یم. هغوی ته ووایه چې هغه چا زه رالیږلی
یم چې خپل ځان ته وایي چې <زه یم>. اسراییلیانو ته ووایه چې
زه څښتن ستاسو د نیکونو یعنې ابراهیم، اسحاق او د یعقوب خدای
رالیږلی یم او دا به تر ابده پورې زما نوم وي او راتلونکي نسلونه به
هم په دې نوم ما یادوي. ۱۶ لاړ شه او د اسراییلو مشران سره
راغونډ کړه او ورته ووایه چې څښتن ستاسو د نیکونو یعنې ابراهیم،
اسحاق او د یعقوب خدای ماته راښکاره شو. هغوی ته ووایه چې زه
تاسو ته راغلی یم او لیدلي مې دي چې مصریان ستاسو سره څومره
بد چلند کوي. ۱۷ زه دا وعده کوم چې تاسو به د مصر له تکلیفونو
څخه خلاص کړم. او زه به تاسو ته غني او حاصلخیزه ځمکه درکړم
چېرته چې کنعانیان، حیتیان، اموریان، فرزیان، حویان او یبوسیان
اوسیږي.

۱۸ د اسراییلو مشران به ستا خبرو ته غوږ کېږدي. بیا هغوی د
مصر پادشاه ته وروله او ورته ووایئ: د عبرانیانو څښتن خدای مونږ
ته راښکاره شوی دی. مونږ پرېږده چې په دښته کې درې ورځې سفر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړو چې هغه ته قرباني وړاندې کړو. ۱۹ زه پوهېږم چې د مصر
پادشاه به تاسو پرېنږدي چې لاړ شئ که چېرې هغه مجبور نه شي.
۲۰ نو زه به د خپل قدرت څخه کار واخلم او مصریانو ته به په هر
ډول معجزو باندې سزا ورکړم. له هغې وروسته به هغه تاسو پرېږدي
چې لاړ شئ.

۲۱ زه به مصریان دې ته مجبور کړم چې ستاسو عزت وکړي، نو
کله چې زما قوم ځي هغوی به خالي لاس نه ځي. ۲۲ هره
اسراییلی ښځه به خپلې مصری ګاونډۍ یا بلې مصری ښځې ته چې د
هغې په کور کې اوسېږي ورشي او د هغې څخه به د سرو او سپینو
زرو زېورات او کالي واخلي او خپلو لورګانو او زامنو ته به یې
واغوندي. کله چې د مصر څخه وزئ نو د مصریانو شتمني به د ځان
سره یوسئ.>

## خدای پاک حضرت موسیٰ ته د معجزو د ښودلو قدرت ورکوي

۴ ۱ حضرت موسیٰ په ځواب کې وفرمایل: >فرض کړه که
چېرې اسراییلیان زما په خبرو باندې باور ونه کړي او ماته غوږ ونه
نیسي او ووایي چې څښتن تاته نه دی ښکاره شوی، نو بیا څه
وکړم؟>

۲ څښتن له حضرت موسیٰ څخه پوښتنه وکړه: >ستا په لاس
کې څه دي؟>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حضرت موسیٰ په ځواب کې وفرمایل: <امسا.>

۳ خدای پاک وفرمایل: <هغه په ځمکه باندې وغورزوه.> کله چې هغه دا امسا په ځمکه وغورزوله، نو امسا په مار بدله شوه او هغه ورڅخه منډه کړه. ۴ بیا څښتن ورته وفرمایل: <هغه د لکۍ څخه ونیسه.> نو حضرت موسیٰ هغه راونیوه او مار بېرته په امسا بدل شو. ۵ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <داسې کار وکړه. بیا به اسراییلیان باور وکړي چې زه تا لیدلی یم چې ستاسو د نیکونو ابراهیم، اسحاق او یعقوب خدای یم.>

۶ خدای پاک حضرت موسیٰ ته بیا وفرمایل: <خپل لاس دې په ګرېوان کې ننباسه.> هغه همداسې وکړل او کله چې هغه خپل لاس له ګرېوان څخه راوویسته هغه ولیدل چې لاس یې د پوستکي په ناروغۍ باندې اخته شوی ؤ او لکه د واورې په شان سپین شوی ؤ. ۷ خدای پاک بیا ورته وفرمایل: <لاس دې بېرته په ګرېوان کې ننباسه.> حضرت موسیٰ هماغه شان وکړل. کله چې هغه خپل لاس بېرته راوویسته، د هغه لاس د هغه د نور بدن په شان روغ ؤ. ۸ څښتن وفرمایل: <که چېرې هغوی ستا په خبره باور ونه کړي یا په اولنۍ معجزې باندې قانع نه شي، نو بیا به په دې معجزې باندې قانع شي. ۹ که چېرې د دغو دوو معجزو سره سره بیاهم هغوی ستا په خبره باور ونه کړي او ستا خبرو ته غوږ ونه نیسي، نو د نیل د سیند څخه لږې اوبه راواخله او په ځمکه باندې یې توی کړه. هغه اوبه به په وینه بدلې شي.>

۱۰ مګر حضرت موسیٰ وفرمایل: <څښتنه، ما مه لېږه. زه هیڅکله

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هم ښه ویاند نه وم. د اول نه هم نه وم او نه له هغه وخت څخه چې
تا زما سره خبرې وکړې. زه په خبرو کولو کې کمزوری یم او ژبه مې
نښلي.>

١١ ښښتن هغه ته وفرمایل: <هغه څوک دی چې انسان ته یې ژبه
ورکړې ده؟ چا چې کاڼه، ګنګیان، بینا او ړانده پیدا کړل؟ زه ښښتن
یم او دا هرڅه کوم. ١٢ اوس لاړ شه! زه به ستا سره په خبرو کولو
کې مرسته وکړم او درته وبه وایم چې څه ووایې.>

١٣ مګر حضرت موسیٰ وفرمایل: <ښښتنه، ته بل څوک ولیږه
چې دا کار وکړي.>

١٤ ښښتن په حضرت موسیٰ باندې په قهر شو او ویې فرمایل:
<آیا ستا ورور لاوي هارون نشته؟ هغه ښې خبرې کولی شي. هغه
ستا د لیدنې کتنې دپاره راځي او ستا په لیدلو به خوشاله شي. ١٥-
١٦ زه به د خبرو کولو په وخت کې ستاسو دواړو سره یم او تاسو
دواړو ته به ووایم چې څه وکړئ. هغه به ستا ویاند وي او ستا په
ځای به خلکو ته خبرې کوي او ته به د هغه دپاره د خدای په شان
یې او هغه ته به وایې چې داسې وایه. ١٧ اوس دا امسا واخله او
په هغې باندې معجزې ښکاره کوه.>

## حضرت موسیٰ مصر ته ستنیږي

١٨ حضرت موسیٰ خپل خسر یعنې یترون ته ورغی او هغه ته یې
وفرمایل: <ما پرېږده چې مصر ته لاړ شم چې وګورم زما خپلوان لا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ژوندي دي او که نه.>

يترون هغه ته وويل: <ځه په خير لاړ شي.>

١٩ حضرت موسیٰ لا د مديان په خاوره کې ؤ چې ښتن هغه ته
وفرمايل: <مصر ته ستون شه. چا چې غوښتل تا ووژني هغوی اوس
مړه دي.> ٢٠ نو حضرت موسیٰ خپله ښځه او زامن په خره
باندې سپاره کړل او د مصر په لور روان شو. حضرت موسیٰ هغه
امسا هم له ځان سره يووړه د کومې په هکله چې خدای پاک ورته
فرمايلي وو.

٢١ ښتن بيا حضرت موسیٰ ته وفرمايل: <اوس چې ته بېرته
مصر ته روان يې، فرعون ته هغه معجزې وښايه چې تاته مې د هغو د
ښودلو قدرت درکړی دی. مګر زه به د فرعون زړه سخت کړم او هغه
به قوم پرېنږدي چې لاړ شي. ٢٢ بيا فرعون ته ووايه چې ښتن
فرمايي: اسراييل زما دپاره لکه د مشر زوی په شان دي. ٢٣ ما
تاته امر وکړ چې هغوی پرېږده چې د مصر څخه ووزي او زما
عبادت وکړي، مګر تا انکار وکړ. نو اوس به زه ستا مشر زوی
ووژنم.>

٢٤ د مصر په لاره کې چېرته چې هغوی شپه تېروله، ښتن د
حضرت موسیٰ سره مخامخ شو او نژدې ؤ چې هغه ووژني. ٢٥-
٢٦ خو صفورې خپل زوی په تېره تيږه باندې سنت کړ او د
سنتېدو پوستکی يې د هغه په پښو باندې وواهه او د سنت ګيرۍ د
رواج له مخې يې وويل: <زما ګرانه زويه، دا وينه به ستا ساتنه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړي.> نو څښتن حضرت موسیٰ ته زیان ونه رساوه.

۲۷ څښتن حضرت هارون ته وفرمایل: <د موسیٰ د لیدلو دپاره
دښتې ته لاړ شه.> نو حضرت هارون د حضرت موسیٰ د لیدلو
دپاره مقدس غره ته لاړ او کله چې ورسره مخامخ شو هغه یې ښکل
کړ. ۲۸ بیا حضرت موسیٰ هغه ټول شیان چې څښتن ورته
فرمایلي وو او همدارنګه د هغو معجزو په هکله چې هغه ته یې د
هغو د ښودلو حکم ورکړی ؤ حضرت هارون ته وفرمایل. ۲۹ نو
حضرت موسیٰ او حضرت هارون مصر ته لاړل او د اسراییلو ټول
مشران یې راغونډ کړل. ۳۰ هغه ټول شیان چې څښتن حضرت
موسیٰ ته فرمایلي وو حضرت هارون هغوی ته بیان کړل او بیا
حضرت موسیٰ خلکو ته هغه معجزې وروښودلې. ۳۱ مشران ژر
په دې باندې قانع شول چې حضرت موسیٰ او حضرت هارون د
څښتن له خوا رالیږل شوي دي. کله چې هغوی پوه شول چې څښتن
د هغوی بدبختي لیدلې ده او د هغوی دپاره زیات اندېښمن دی، نو
ټول په سجده پرېوتل او عبادت یې وکړ.

## حضرت موسیٰ او حضرت هارون د فرعون په حضور کې

۵ ۱ بیا حضرت موسیٰ او حضرت هارون فرعون ته ورغلل او
ورته ویې فرمایل: <د اسراییلو څښتن خدای فرمایي: زما قوم
پرېږده چې دښتې ته لاړ شي او هلته زما د احترام په خاطر اختر
ولمانځي.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲ فرعون وویل: <څښتن څوک دی؟ زه ولې د هغه خبرو ته
غوږ ونیسم او اسراییلیان پرېږدم چې لاړ شي؟ زه څښتن نه پېژنم او
نه به اسراییلو ته د تګ اجازه ورکړم.>

۳ هغوی په ځواب کې وفرمایل: <د عبرانیانو خدای مونږ ته
راښکاره شوی دی. مونږ پرېږده چې د درېو ورځو دپاره په دښتې
کې سفر وکړو ترڅو خپل څښتن خدای ته قرباني وړاندې کړو. که نه،
نو هغه به مونږ د ناروغیو او جګړې په وسیله ووژني.>

۴ فرعون حضرت موسیٰ او حضرت هارون ته وویل: <تاسو
ولې خلک له کاره وباسئ؟ هر یو بېرته په خپل کار پسې لاړ شئ!
۵ ستاسو شمېر له مصریانو څخه زیات شوی دی. او اوس
غواړئ چې کار بس کړئ!>

۶ په هماغه ورځ فرعون د غلامانو په مصري مسئولانو او د
کارګرانو په اسراییلي مشرانو امر وکړ: ۷ <نور خلکو ته د خښتو
جوړولو دپاره بوس مه ورکوئ. هغوی ته ووایئ چې لاړ شي او په
خپله یې د ځانونو دپاره پیدا کړي. ۸ مګر هغوی باید دومره
خښتې جوړې کړي څومره یې چې پخوا جوړولې. هغوی تنبلان دي،
ځکه ماته زاری کوي چې هغوی پرېږدم چې لاړ شي او خپل خدای
ته قرباني وړاندې کړي! ۹ په هغوی باندې سخت کار وکړئ او
مصروف یې وساتئ چې داسې درواغو ته بیا غوږ ونه نیسي.>

۱۰ نو د غلامانو مسوولان او د کارګرانو مشران راغلل او ویې
ویل: <فرعون وایي: زه به نور تاسو ته بوس درنه کړم. ۱۱ لاړ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شئ او هرچېرته چې کولی شئ د ځانونو دپاره بوس پيدا کړئ، خو
بيا به هم دومره خښتې جوړوئ څومره چې مو مخکې جوړولې.>
١٢ نو خلک په ټول مصر کې وګرځېدل ترڅو د ځانونو دپاره بوس
پيدا کړي. ١٣ د غلامانو مسئولانو به په هغوی فشار اچاوه او
هغوی ته به يې ويل: <تاسو بايد هره ورځ دومره خښتې جوړې
کړئ څومره چې تاسو هغه وخت جوړولې چې بوس درته درکول
کېدل.> ١۴ د غلامانو مصري مسئولانو به هغه اسراييلي مشران
وهل چې په دوی باندې يې مقرر کړي وو او ورته ويل به يې:
<تاسو نن سبا دا غلامان ولې نه مجبوروئ چې دومره خښتې جوړې
کړي څومره چې هغوی مخکې جوړولې؟>

١۵ په آخر کې د کارګرانو مشران فرعون ته ورغلل او ورته ويې
ويل: <تاسو ولې زمونږ سره داسې چلند کوئ؟ ١۶ مونږ ته
هيڅوک بوس نه راوړي، مګر بياهم امر راته کيږي چې هماغومره
خښتې جوړې کړو. هغوی مونږ وهي، حال دا چې ستاسو خپل خلک
ملامت دي.>

١٧ فرعون په ځواب کې وويل: <تاسو تنبلان يئ او نه غواړئ
چې کار وکړئ. په دې خاطر ماته وايئ چې تاسو پرېږدم چې لاړ
شئ او ښښتن ته قرباني وراندې کړئ. ١٨ اوس خپل کار پسې لاړ
شئ! تاسو ته به بوس نه درکول کيږي، مګر بياهم په هماغه اندازه
خښتې جوړې کړئ.> ١٩ د کارګرانو مشران پوه شول چې د
هغوی حال نور هم خراب شو کله چې فرعون په هغوی امر وکړ چې
تاسو به هغومره خښتې جوړوئ لکه مخکې به چې تاسو جوړولې.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٠ ځنګه چې هغوی د فرعون له دربار څخه ووتل، د حضرت
موسیٰ او حضرت هارون لیدلو ته چې ورته په انتظار وو لاړل. ٢١
هغوی حضرت موسیٰ او حضرت هارون ته وویل: <تاسو چې څه
کړي دي هغه څښتن لیدلي دي او تاسو دواړو ته به سزا درکړي ځکه
چې ستاسو د لاسه فرعون او د هغه درباریان زمونږ څخه کرکه کوي.
تاسو هغوی ته بهانه په لاس ورکړه چې مونږ ووژني.>

## حضرت موسیٰ څښتن ته شکایت کوي

٢٢ حضرت موسیٰ بېرته څښتن ته ورغی او ویې فرمایل: <ای
څښتنه، ولې دې خپل قوم د بدبختیو سره مخامخ کړی دی؟ آیا زه
دې د همدې دپاره رالیږلی یم؟ ٢٣ له هغه وخت څخه چې تا ماته
وویل چې د فرعون سره خبرې وکړه، هغه ورباندې ظلم کوي او تا د
هغوی سره هیڅ مرسته ونه کړه.>

٦ ١ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <اوس به ته وګورې
چې زه د فرعون سره څه کوم. زه به هغه دومره مجبور کړم چې زما
قوم پرېږدي چې لاړ شي او هغوی به په زوره د خپلې خاورې څخه
وباسي.>

## خدای پاک حضرت موسیٰ راغواړي

٢ خدای پاک د حضرت موسیٰ سره خبرې وکړې او ویې
فرمایل: <زه څښتن یم. ٣ مګر کله چې زه ابراهیم، اسحاق او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یعقوب ته ورښکاره شوم، زه د مطلق قادر خدای په توګه راغلم او ما
هغوی ته داسې ځان ور ونه پېژانده چې زما نوم ښښتن دی. ۴ ما
د هغوی سره دا لوظ هم وکړ چې زه به د کنعان ځمکه چې هغوی په
کې د بېګانه خلکو په توګه اوسېدل دوی ته ورکوم. ۵ اوس ما د
اسراییلیانو فریاد چې د مصریانو غلامان دي اورېدلی دی او ماته
خپل لوظ په یاد دی. ۶ اسراییلیانو ته ووایه چې زه هغوی ته
وایم: زه ښښتن یم! زه به تاسو وژغورم او په خپل لوی قدرت سره
به مصریانو ته سزا ورکړم او د غلامۍ څخه به مو ازاد کړم. ۷ زه
به ستاسو څخه خپل قوم جوړ کړم او ستاسو خدای به یم. کله چې
زه تاسو د مصریانو د غلامۍ څخه ازاد کړم، بیا به پوه شئ چې زه
ستاسو ښښتن خدای یم. ۸ زه به تاسو هغه وطن ته راولم چې د
هغه د ورکولو ټینګه وعده مې د ابراهیم، اسحاق او یعقوب سره کړې
وه. زه به دا وطن تاسو ته درکړم چې ستاسو شي. زه ښښتن یم!>
۹ حضرت موسیٰ اسراییلیانو ته دا خبرې وکړې، خو هغوی د
هغه خبرو ته غوږ ونه نیوه ځکه چې د هغوی زړونه د بې رحمانه
غلامۍ په سبب مات شوي وو.

۱۰ بیا ښښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۱۱ <لاړ شه او د
مصر پادشاه فرعون ته ووایه چې اسراییلیان پرېږدي چې د مصر
څخه ووزي.>

۱۲ حضرت موسیٰ په ځواب کې وفرمایل: <اسراییلیان چې زما
خبره نه اوري نو فرعون به یې څنګه واوري، ځکه چې زه ښې
خبرې نه شم کولی.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ څښتن په حضرت موسیٰ او حضرت هارون باندې امر وکړ
چې اسراییلیانو او د مصر پادشاه ته ووایي: <څښتن مونږ ته حکم
کړی دی چې اسراییلیان د مصر څخه راوباسئ.>

## د حضرت موسیٰ او حضرت هارون د کورنۍ نسب نامه

۱۴ روبین د حضرت یعقوب مشر زوی څلور زامن درلودل چې
حنوک، فلو، حصرون او کرمي نومېدل. هغوی د هغو طایفو نیکونه وو
چې د هغوی په نوم یادېږي. ۱۵ شمعون شپږ زامن درلودل:
یموئیل، یامین، اوهد، یاکین، صوحر او شائول چې د یوې کنعانۍ
ښځې زوی ؤ. هغوی د هغو طایفو نیکونه وو چې د هغوی په نوم
یادېږي. ۱۶ لاوي درې زامن درلودل چې جرشون، قهات او
مراري نومېدل. هغوی د هغو طایفو نیکونه وو چې د هغوی په نوم
یادېږي. لاوي یوسلو اووه دېرش کاله ژوند وکړ. ۱۷ جرشون دوه
زامن درلودل چې لبني او شمعي نومېدل چې هغوی د خپلو طایفو
نیکونه شول. ۱۸ قهات څلور زامن درلودل چې عمرام، یصهار،
حبرون او عزیئیل نومېدل. قهات یوسلو درې دېرش کاله ژوند وکړ.
۱۹ مراري دوه زامن درلودل چې محلي او موشي نومېدل. دا د
لاوي طایفې وې د هغوی د اولادې په مطابق.

۲۰ عمرام د خپل پلار د خور یوکابد سره واده وکړ چې د هغې نه
حضرت موسیٰ او حضرت هارون پیدا شول. عمرام یوسلو اووه
دېرش کاله ژوند وکړ. ۲۱ یصهار درې زامن درلودل چې قورح،
نافج او زکري نومېدل. ۲۲ عزیئیل هم درې زامن درلودل چې
میشائیل، ایلصافان او ستري نومېدل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۳ حضرت هارون د الیشابع سره چې د عمیناداب لور او د
نشحون خور وه واده وکړ او د هغې څخه ناداب، ابیهو، العازار او
ایتامار پیدا شول. ۲۴ قورح درې زامن درلودل چې اسیر، القانه او
ابیاساف نومېدل. دوی د قورح د طایفو نیکونه وو. ۲۵ العازار د
حضرت هارون زوی د فوتیئیل د یوې لور سره واده وکړ او د هغې نه
فینحاس پیدا شو. دا طایفه په طایفه د لاوي د کورنیو مشران وو.

۲۶ حضرت هارون او حضرت موسیٰ هماغه خلک وو چې څښتن
ورته وفرمایل: <د اسراییلو قبیلې د مصر څخه راوباسئ.> ۲۷ دا
هغه خلک وو چې فرعون سره یې د مصر څخه د اسراییلیانو د
ویستلو په هکله خبرې کړې وې.

## حضرت موسیٰ او حضرت هارون ته د څښتن امر

۲۸ کله چې څښتن د حضرت موسیٰ سره د مصر په خاوره کې
خبرې وکړې، ۲۹ هغه حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <زه څښتن یم.
زه چې هرڅه تاته وایم هغه د مصر پادشاه ته ووایه.>

۳۰ مګر حضرت موسیٰ څښتن ته وفرمایل: <دا چې زه ښې
خبرې نه شم کولی نو څنګه به فرعون راته غوږ ونیسي؟>

۷ ۱ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <زه به تا فرعون ته
لکه د خدای په شان کړم او ستا ورور هارون به ستا د پیغمبر په توګه
د هغه سره خبرې کوي. ۲ زه چې تاته د هر شي په باره کې حکم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوم، هغه هارون ته ووایه او هغه به فرعون ته ووايي چې اسراییلیان
پرېږدي چې د مصر د خاورې څخه لاړ شي. ۳-۴ مګر زه به
د فرعون زړه سخت کړم او هغه به ستا خبرو ته غوږ نه نیسي. حتیٰ
که زه ډېرې وېروونکې معجزې هم هغه او مصریانو ته وروښایم هغه
به درته غوږ ونه نیسي. بیا به زه په مصر باندې سخت عذاب نازل
کړم او د خپل قوم قبیلې به له هغه ځای څخه وباسم. ۵ کله چې
زه مصریانو ته خپل قدرت وښایم او اسراییلیان د هغوی له وطنه
وباسم، بیا به هغوی پوه شي چې زه څښتن یم.> ۶ څنګه چې
څښتن په حضرت موسیٰ او حضرت هارون باندې امر کړی ؤ، هغوی
هماغسې وکړل. ۷ هغه وخت چې هغوی د فرعون سره خبرې
وکړې، حضرت موسیٰ د اتیا کالو او حضرت هارون د دري اتیا کالو
په عمر ؤ.

## د حضرت هارون امسا په مار بدلیږي

۸ څښتن حضرت موسیٰ او حضرت هارون ته وفرمایل: ۹
<که چېرې فرعون تاسو ته ووايي چې ماته یوه معجزه وښایئ، بیا
هارون ته ووایه چې خپله امسا راواخله او د فرعون په مخکې یې
وغورزوه او هغه به په مار بدله شي.> ۱۰ نو حضرت موسیٰ او
حضرت هارون فرعون ته ورغلل او هماغسې یې وکړل څنګه چې
څښتن ورباندې امر کړی ؤ. حضرت هارون خپله امسا د فرعون او د
هغه د درباریانو په مخکې وغورزوله او هغه په مار بدله شوه. ۱۱
بیا فرعون خپل حکیمان او جادوګران راوغوښتل. هغوی هم د خپلې
جادو په وسیله دا کار وکړ. ۱۲ هغوی هر یو خپلې امساګانې په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځمکه وغورزولې او هغه امساګانې په مارانو بدلې شوې. مګر د
حضرت هارون مار هغه نور ماران روغ تېر کړل. ١٣ بیاهم د
فرعون زړه سخت پاتې شو او څنګه چې څښتن فرمایلي وو، فرعون
حضرت موسیٰ او حضرت هارون ته غوږ ونه نیوه.

## د وینې بلا

١٤ بیا څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <د فرعون زړه ډېر
سخت دی او د اسراییلو قوم نه پرېږدي چې لاړ شي. ١٥ سهار کله
چې فرعون د نیل سیند ته ځي خپله امسا چې په مار بدله شوې وه
هغه هم د ځان سره یوسه او د سیند په غاړه هغه ته انتظار وکړه.
١٦ بیا هغه ته ووایه: څښتن د عبرانیانو خدای زه رالېږلی یم چې
تاته داسې ووایم: زما قوم پرېږده چې دښتې ته لاړ شي او هلته زما
عبادت وکړي. مګر تر اوسه پورې دې ورته توجه نه ده کړې. ١٧
اعلیحضرته، څښتن داسې فرمایي: زه به داسې کار وکړم چې ته پوه
شې چې زه څښتن یم. اوس ګوره، دا امسا چې زما په لاس کې ده،
په دې به د نیل د سیند اوبه ووهم او هغه به په وینه بدلې شي. ١٨
د سیند ماهیان به مړه شي او د نیل سیند به بد بوی کوي. مصریان به
نه شي کولی چې له هغه څخه اوبه وڅښي.>

١٩ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <هارون ته ووایه چې
خپله امسا د ځان سره یوسي او د مصر د اوبو یعنې ویالو، نهرونو او
ډنډونو خواته یې ونیسي چې هغه به په وینه بدلې شي. د مصر په
هرځای کې به اوبه په وینه باندې بدلې شي، حتیٰ د خلکو په کورونو
کې به هم د لرګیو په لوښو او د تیږو په منګیو کې وینه وي.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۰ بیا حضرت موسیٰ او حضرت هارون د څښتن په امر باندې
عمل وکړ. د فرعون او د هغه د درباریانو په حضور کې حضرت
هارون خپله امسا پورته کړه او د سیند اوبه یې په هغې ووهلې او
ټولې اوبه چې په کې وې په وینه بدلې شوې. ۲۱ د سیند ماهیان
مړه شول او سیند دومره ډېر بد بوی کاوه چې مصریانو نه شو کولی
چې له هغه څخه اوبه وڅښي. د مصر په هر ګوټ کې وینه وه. ۲۲
بیا د فرعون جادوګرانو هم د خپلې جادو په وسیله همداسې عمل
سرته ورساوه او د فرعون زړه د مخکې په شان سخت پاتې شو. لکه
څنګه چې څښتن فرمایلي وو، فرعون د حضرت موسیٰ او حضرت
هارون خبرو ته غوږ ونه نیوه. ۲۳ د دې په ځای چې هغه دې
خبرې ته پام وکړي، هغه تاو شو او بېرته خپلې ماڼۍ ته لاړ. ۲۴
ټولو مصریانو د نیل د سیند غاړه وکیندله چې د څښلو اوبه راپیدا
کړي، ځکه چې هغوی نه شو کولی د سیند اوبه وڅښي.

۲۵ د هغه وخت څخه چې څښتن د نیل د سیند اوبه په وینه باندې
بدلې کړې پوره اووه ورځې تېرې شوې.

## د چونګښو بلا

۸ ۱ بیا څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <فرعون ته ورشه
او هغه ته ووایه چې څښتن فرمایي: زما قوم پرېږده چې لاړ شي او
زما عبادت وکړي. ۲ که چېرې ته د هغوی د پرېښودلو څخه
انکار وکړې، زه به ستا په ټول هېواد باندې د چونګښو بلا نازله کړم.
۳ د نیل سیند به د چونګښو څخه ډک شي. هغوی به ستا ماڼۍ او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا د خوب کوټې ته درننوزي او ستا کټ ته به دروخېژي. حتی ستا
د قوم او د درباریانو کورونو او ستا تنورونو او د خمیره کولو لګنونو
ته به هم ورننوزي. ۴ چونګښې به ستا، ستا د قوم او ستا د ټولو
درباریانو سرونو ته ټوپونه وهي.>

۵ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <هارون ته ووایه: خپله
امسا د ویالو، نهرونو او ډنډونو خواته ونیسه ترڅو چونګښې بیرون
ووزي او د مصر ځمکه په هغو پټه شي.> ۶ نو حضرت هارون
خپله امسا د اوبو په سر ونیوله او چونګښې راووتلې او ځمکه
ورباندې پټه شوه. ۷ مګر جادوګرانو هم همداسې کار وکړ. هغوی
هم د جادو په وسیله چونګښې ځمکې ته راوویستلې.

۸ فرعون حضرت موسیٰ او حضرت هارون راوغوښتل او ورته
ویې ویل: <تاسو څښتن ته دعا وکړئ چې زمونږ څخه دا چونګښې
لیرې کړي نو زه به ستاسو قوم پرېږدم چې لاړ شي او څښتن ته
قرباني ورباندې کړي.>

۹ حضرت موسیٰ په ځواب کې وفرمایل: <زه به ستا دپاره دعا
وکړم. ماته وخت وټاکه چې زه کله ستا، ستا د درباریانو او ستا د قوم
دپاره دعا وکړم. بیا به تاسو او ستاسو کورونه د چونګښو څخه
خلاص شي او یوازې د نیل په سیند کې به چونګښې پاتې شي.>

۱۰ فرعون په ځواب کې وویل: <سبا زما دپاره دعا وکړه.>

حضرت موسیٰ وفرمایل: <څنګه چې ستا خوښه وي زه به هماغسې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړم. بیا به ته پوه شې چې زمونږ د څښتن خدای په شان بل خدای
نشته. ١١ ته، ستا درباریان او ستا خلک به له چونګښو څخه
خلاص شئ او چونګښې به بغیر د نیل د سیند څخه په بل ځای کې
پاتې نه شي.> ١٢ بیا حضرت موسیٰ او حضرت هارون له فرعون
څخه لاړل او حضرت موسیٰ څښتن ته سوال وکړ چې هغه
چونګښې له منځه یوسي چې څښتن په فرعون باندې نازلې کړې
وې. ١٣ څښتن د حضرت موسیٰ سوال قبول کړ او هغه چونګښې
چې په کورونو، حویلیو او پټیو کې وې مړې شوې. ١۴ مصریانو
هغه ډېرۍ کړې او ټوله ځمکه خوسا بوی ونیوله. ١۵ کله چې
فرعون ولیدل چې چونګښې مړې شوې، هغه بیا خپل زړه سخت کړ
او لکه څنګه چې څښتن فرمایلي وو هغه د حضرت موسیٰ او
حضرت هارون خبرو ته غوږ ونه نیوه.

## د ورېږو بلا

١۶ بیا څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <هارون ته ووایه چې
په خپله امسا باندې ځمکه ووهي چې د مصر ټولې خاورې په ورېږو
بدلې شي.> ١٧ نو حضرت هارون ځمکه په امسا باندې ووهله او
د مصر ټولې خاورې په ورېږو بدلې شوې او ټول انسانان او حیوانات
په کې پټ شول. ١٨ جادوګرانو هڅه وکړه چې د جادو په وسیله
ورېږې پیدا کړي، مګر هغوی ونه شو کولی. په انسانانو او حیواناتو
باندې ورېږې وې. ١٩ جادوګرانو فرعون ته وویل: <دا کار خدای
کړی دی!> مګر د فرعون زړه سخت ؤ او څنګه چې څښتن فرمایلي
وو، فرعون د حضرت موسیٰ او حضرت هارون خبرو ته غوږ ونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نیوه.

## د مچانو بلا

۲۰ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <سبا سهار وختي پاڅه او
کله چې فرعون سیند ته ځي، ورشه او ورسره وګوره او هغه ته ووایه
چې څښتن داسې فرمایي: زما قوم پرېږده چې لاړ شي او زما عبادت
وکړي. ۲۱ که ته زما قوم پرېنږدې چې لاړ شي، زه به په تا، ستا په
درباریانو او ستا په قوم او په کورونو باندې مچان نازل کړم. د
مصریانو کورونه به د مچانو څخه ډک شي او ځمکه به ورباندې پټه
شي. ۲۲ مګر زه به د جوشن سیمه چې زما قوم په کې اوسي، بچ
کړم چې هلته هیڅ مچان نه وي. دا کار د دې دپاره کوم ترڅو تاسو
پوه شئ چې زه حتیٰ په دې خاوره باندې هم اختیار لرم. ۲۳ زه به
ستا او د خپل قوم ترمنځ ښکاره فرق وکړم. دا معجزه به سبا
پېښېږي.> ۲۴ نو څښتن د فرعون په ماڼۍ او د هغه د درباریانو په
کورونو باندې ډېر زیات مچان نازل کړل. مچانو د مصر ټول هېواد
وران کړ.

۲۵ بیا فرعون حضرت موسیٰ او حضرت هارون راوغوښتل او
هغوی ته یې وویل: <لاړ شئ او په همدې هېواد کې خپل خدای ته
قربانۍ وړاندې کړئ.>

۲۶ حضرت موسیٰ په ځواب کې وفرمایل: <دا ښه کار نه دی.
ځکه مصریان به زموږ څخه خفه شي چې موږ خپل څښتن خدای
ته حیوانات قرباني کړو. که چېرې دا حیوانات په داسې ځای کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قرباني کړو چې مصريان مو ووينې، نو هغوی به مونږ سنګسار کړي.
۲۷ لکه څنګه چې زمونږ څښتن خدای امر کړی دی، مونږ باید
هغه ته د قربانی وړاندې کولو په خاطر درې ورځې په دښته کې سفر
وکړو.>

۲۸ فرعون ووېل: <زه به تاسو پرېږدم چې لاړ شئ او خپل
څښتن خدای ته په دښته کې قرباني وړاندې کړئ. مګر ډېر لېرې لاړ
نه شئ او زما دپاره دعا وکړئ.>

۲۹ حضرت موسیٰ په ځواب کې وفرمايل: <څنګه چې زه لاړ
شم نو ستا دپاره به دعا وکړم چې څښتن ستا، ستا له درباريانو او
ستا له قوم څخه مچان لېرې کړي. مګر ته به بيا مونږ نه غولوې او د
قوم مخنيوی به نه کوې چې هغوی څښتن ته قرباني وړاندې کړي.>

۳۰ حضرت موسیٰ د فرعون څخه لاړ او څښتن ته يې دعا وکړه.
۳۱ څښتن د حضرت موسیٰ دعا قبوله کړه. مچانو فرعون، د هغه
درباريان او د هغه قوم پرېښودل. يو مچ هم پاتې نه شو. ۳۲ مګر
دا ځل هم فرعون خپل زړه سخت کړ او د اسراييلو قوم يې پرېنښود
چې لاړ شي.

## په حيواناتو باندې بلا

**۹** ۱ بيا څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: <فرعون ته ورشه
او ورته ووايه چې د عبرانيانو څښتن خدای داسې فرمايي: زما قوم
پرېږده چې لاړ شي او زما عبادت وکړي. ۲ که چېرې ته بيا د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی د پرېښودلو څخه انکار وکړي، ٣ زه به تاته سزا درکړم او ستا حیوانات یعنې اسونه، خره، اوښان، رمې او پادې به په خطرناکه ناروغی باندې اخته کړم. ٤ زه به د اسراییلیانو او مصریانو د حیواناتو ترمنځ فرق وکړم او د اسراییلیانو یو حیوان به هم مړ نه شي.
٥ ما ښښتن سبا ورځ د دې کار دپاره ټاکلي ده.>

٦ په راتلونکې ورځ ښښتن په خپلې خبرې باندې عمل وکړ. د مصریانو ټول حیوانات مړه شول، مګر د اسراییلیانو یو حیوان هم مړ نه شو. ٧ فرعون د دې خبرې د څېړنې دپاره نفر ولېږل او معلومه شوه چې د اسراییلیانو یو حیوان هم مړ شوی نه ؤ. بیاهم د هغه زړه سخت ؤ او د اسراییلو قوم یې تګ ته نه پرېښوده.

## د دانو بلا

٨ بیا ښښتن حضرت موسیٰ او حضرت هارون ته وفرمایل: <له تنور څخه یو څو لپې ایرې راواخلئ چې موسیٰ یې د فرعون په مخکې په هوا کې وشیندي. ٩ هغه به د مصر په ټول هېواد کې لکه د دوړې په شان خپره شي او په هرځای کې به په خلکو او حیواناتو باندې دانې وخېژي چې زخمونه به ورڅخه پیدا شي.>
١٠ نو هغوی لږه ایره د ځانه سره واخیستله او د فرعون په مخکې ودرېدل. حضرت موسیٰ هغه په هوا کې وشیندله او له هغې څخه دانې پیدا شوې او په خلکو او حیواناتو باندې یې زخمونه جوړ کړل.
١١ جادوګران د حضرت موسیٰ په مقابل کې نه شول درېدلی ځکه چې د هغوی بدنونه هم لکه د نورو مصریانو په شان د دانو څخه ډک وو. ١٢ مګر ښښتن د فرعون زړه سخت کړ او لکه څنګه چې هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حضرت موسیٰ ته فرمایلي وو، فرعون د حضرت موسیٰ او حضرت
هارون خبرو ته غوږ ونه نیوه.

## د ږلۍ بلا

۱۳ ښبښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <سبا سهار وختي پاڅه او
د فرعون سره ووینه او هغه ته ووایه چې د عبرانیانو ښبښتن خدای
داسې فرمايي: زما قوم پرېږده چې لاړ شي او زما عبادت وکړي.
۱۴ زه به دا ځل یوازې ستا درباریانو او ستا خلکو ته سزا نه
ورکوم بلکه تاته به هم سزا درکړم، ترڅو پوه شې چې په ټوله دنیا
کې زما په شان بل خدای نشته. ۱۵ که چېرې ما ته او ستا قوم په
ناروغۍ باندې اخته کړي وای، اوس به تاسو د ځمکې له مخ څخه
ورک شوي وای. ۱۶ مګر د دې دپاره مې ژوندی ساتلی یې چې
تاته خپل قدرت وښایم او زما نوم په ټوله دنیا کې مشهور شي. ۱۷
بیاهم په خپل ځان باندې غره یې او زما قوم ته د تګ اجازه نه
ورکوې. ۱۸ سبا دا وخت به زه داسې سخته ږلۍ واوروم چې
هیڅکله د مصر په تاریخ کې نه وي شوې. ۱۹ اوس حکم ورکړه
چې ستا ټول حیوانات او هرڅه چې په پټیو کې دي یو پناه ځای ته
راوړي. ځکه هغه خلک او حیوانات چې په پټیو کې دي په هغوی
باندې به ږلۍ واورېږي او ټول به مړه شي.> ۲۰ د فرعون ځینې
درباریان د ښبښتن د دې خبرې څخه ووېرېدل او په چټکۍ سره یې
خپل غلامان او حیوانات دننه راوستل. ۲۱ نورو د ښبښتن خبرداري
ته غوږ ونه نیوه او خپل غلامان او حیوانات یې په پټیو کې پرېښودل.

۲۲ بیا ښبښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <خپل لاس د اسمان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خواته اوږد کړه نو په ټول مصر، په خلکو، په حيواناتو او هرڅه چې
د مصر په ځمکه کې شنه کيږي په هغوی باندې بهږلۍ واوريږي.>
۲۳ کله چې حضرت موسیٰ خپله امسا د اسمان خواته اوږده کړه،
څښتن تندر او ږلۍ نازله کړه او برېښنا په ځمکه باندې پرېکېدله. ۲۴
ږلۍ واورېدله او برېښنا پرله پسې پرېکېدله. دا د مصر په تاريخ کې
ترټولو بد طوفان ؤ. ۲۵ په ټول مصر کې هرڅه چې په پټيو کې وو،
د ټولو خلکو او حيواناتو سره ږلۍ له منځه يوړل. ږلۍ د پټيو بوټي
هم له منځه يوړل او ټولې ونې يې ماتې کړې. ۲۶ يوازې په جوشن
کې چې اسراييليان په کې اوسېدل ږلۍ ونه اورېدله.

۲۷ فرعون حضرت موسیٰ او حضرت هارون راوغوښتل او ورته
ويې ويل: <دا ځل ګناه زما ده. څښتن په حقه دی او زه او زما قوم
ملامت يو. ۲۸ څښتن ته دعا وکړه چې مونږ د دې تندر او ږلۍ
څخه تنګ شوي يو. زه به تاسو پرېږدم چې لاړ شئ. تاسو نور
مجبور نه يئ چې دلته پاتې شئ.>

۲۹ حضرت موسیٰ هغه ته په ځواب کې وفرمايل: <کله چې زه د
ښار څخه ووزم، زه به څښتن ته په دعا کې لاسونه پورته کړم. تندر
به ودريږي او ږلۍ به نوره ونه اوريږي، نو ته به پوه شې چې څښتن
د ټولې دنيا خاوند دی. ۳۰ مګر زه پوهيږم چې ته او ستا درباريان
لا تر اوسه پورې د څښتن خدای څخه نه ويرېږئ.>

۳۱ د کتان بوټي او اوربشې له منځه لاړل، ځکه چې اوربشې پخې
وې او د کتان بوټو غوټۍ کړې وې. ۳۲ مګر د غنمو فصلونه له
منځه نه وو تللي ځکه چې هغه وروسته پخيږي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۳ بیا حضرت موسیٰ د فرعون څخه لاړ او له ښار څخه ووت.
هغه څښتن ته خپل لاسونه پورته کړل او تندر او ږلۍ ودرېدل او په
ځمکه باندې نور باران ونه اورېده. ۳۴ کله چې فرعون ولیدل چې
باران، ږلۍ او تندر ودرېدل هغه بیا ګناه وکړه. هغه او درباریانو یې
خپل زړونه سخت کړل. ۳۵ نو لکه څنګه چې څښتن د حضرت
موسیٰ په وسیله فرمایلي وو، فرعون اسراییلیان پرېښودل چې لاړ
شي.

## د ملخانو بلا

۱۰ ۱ بیا څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <فرعون ته
ورشه، ځکه چې ما د هغه او د هغه درباریانو زړونه سخت کړي دي
ترڅو هغوی ته خپلې معجزې وښایم ۲ او د دې دپاره چې تاسو
وکولی شئ خپلو اولادونو او لمسیو ته ووایئ چې څنګه مې د معجزو
په ښودلو سره د مصریانو څخه احمقان جوړ کړل. بیا به تاسو ټول
پوه شئ چې زه څښتن یم.>

۳ نو حضرت موسیٰ او حضرت هارون فرعون ته ورغلل او ورته
ویې فرمایل: <د عبرانیانو څښتن خدای داسې فرمایي: ترڅو پورې
به ماته نه تسلیمېږې؟ زما قوم پرېږده چې لاړ شي او زما عبادت
وکړي. ۴ که چېرې ته د هغوی د پرېښودلو څخه انکار وکړې، زه
به سبا ستا په هېواد باندې ملخان نازل کړم. ۵ هغوی به د ځمکې
مخ پټ کړي او ځمکه به نه ښکاري. او هرڅه چې د ږلۍ څخه پاتې
شوي دي هغه به وخوري، حتیٰ هغه ونې چې پاتې شوې دي هغه به

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هم وخوري. ۶ ستا کورونه، ستا د ټولو درباريانو او ستا د ټول
قوم کورونه به د ملخانو څخه ډک شي. دا به د هغو شيانو څخه بدتر
وي کوم چې ستاسو نيکونو د دې وطن په تاريخ کې ليدلي دي.< بيا
حضرت موسیٰ د فرعون څخه لاړ.

۷ فرعون ته خپلو درباريانو وويل: >ترڅه وخته پورې به دا
سړی مونږ ته تکليف راکوي؟ د اسراييلو خلک پرېږده چې لاړ شي
ترڅو وکولی شي د څښتن خپل خدای عبادت وکړي. ته خبر نه يې
چې مصر وران شوی دی؟<

۸ حضرت موسیٰ او حضرت هارون يې بېرته فرعون ته راوستل
او فرعون هغوی ته وويل: >تاسو لاړ شئ او د خپل څښتن خدای
عبادت وکړئ. مګر څوک به لاړ شي؟<

۹ حضرت موسیٰ په ځواب کې وفرمايل: >مونږ ټول به د
ځوانانو او سپين ږيرو سره لاړ شو. مونږ به خپل زامن، لورګانې، رمې
او پادې هم د ځان سره بوځو، ځکه مونږ غواړو چې څښتن ته د
احترام په خاطر جشن ونيسو.<

۱۰ فرعون وويل: >زه په څښتن باندې قسم خورم چې تاسو به
هيڅکله پرېنږدم چې خپلې ښځې او اولادونه له ځانه سره بوځئ! دا
ښکاره خبره ده چې تاسو کوم بد نيت لرئ. ۱۱ نه! يوازې سړي
دې لاړ شي او د څښتن عبادت دې وکړي ځکه چې دا ستا غوښتنه
ده.< بيا حضرت موسیٰ او حضرت هارون د فرعون د حضور څخه
وشړل شول.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٢ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <خپل لاس دې د مصر په
خاوره باندې پورته کړه چې د ملخانو بلا راشي او هرڅه چې د ږلۍ
څخه شنه پاتې شوي دي هغه وخوري.> ١٣ نو حضرت موسیٰ
خپله امسا پورته کړه او څښتن له ختیځ له لوري په مصر باندې د
یوې شپې او ورځې دپاره باد راوالوزاوه او د سهار په وخت کې یې
ملخان له ځانه سره راوړي وو. ١۴ دې ملخانو د مصر ټول وطن
ونیوه او دومره زیات وو چې داسې بلا نه چا لیدلې وه او نه به یې
کله ووینې. ١۵ ځمکه په ملخانو باندې داسې پټه شوه چې توره
ښکاریدله. هرڅه چې د ږلۍ څخه پاتې شوي وو هغه یې وخوړل
چې په هغو کې د ونو میوې هم شاملې وې. یو شین بوټی او یا ونه
هم د مصر په ځمکه کې پاتې نشوه.

١۶ فرعون ژر حضرت موسیٰ او حضرت هارون راوغوښتل او
ورته ویې ویل: <ما ستاسو د څښتن خدای او ستاسو په مقابل کې
ګناه کړې ده. ١٧ اوس یو ځل بیا زما ګناه وبخښئ او خپل څښتن
خدای ته دعا وکړئ چې زما څخه دا وژونکې بلا لیرې کړي.> ١٨
حضرت موسیٰ له فرعون څخه لاړ او څښتن ته یې دعا وکړه. ١٩
څښتن د ختیځ باد په یو سخت لویدیځ باد باندې بدل کړ او دغه باد
ملخان سرې بحیرې ته یوړل. او په ټول مصر کې یو ملخ هم پاتې نه
شو. ٢٠ مګر څښتن د فرعون زړه سخت کړ او هغه اسراییلیان
پرینښودل چې لاړ شي.

## د تیارې بلا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ بیا څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <خپل لاس د اسمان
خواته پورته کړه ترڅو د مصر په خاوره باندې توره تیاره راشي.>
۲۲ نو حضرت موسیٰ خپل لاس د اسمان خواته پورته کړ او په
مصر باندې د دریو ورځو دپاره بېخي تیاره راغله. ۲۳ مصریانو نه
شو کولی چې یو بل ووینې او هیڅوک هم په هغه وخت کې د خپل
کور څخه ونه وت. مګر چېرته چې اسراییلیان اوسېدل هلته رڼا وه.

۲۴ بیا فرعون حضرت موسیٰ راوغوښت او ورته ویې ویل: <لاړ
شئ او د څښتن عبادت وکړئ. حتیٰ ستاسو ښځې او ماشومان هم
ستاسو سره تللی شي. مګر یوازې خپلې رمې او پادې پرېږدئ.>

۲۵ حضرت موسیٰ وفرمایل: <ته باید مونږ ته د دې اجازه راکړې
چې د ځان سره خپل حیوانات بوځو چې خپل څښتن خدای ته
قربانۍ ګانې او سوزېدونکې نذرانې وړاندې کړو. ۲۶ نه، مونږ د
ځان سره به خپل حیوانات بوځو او یو حیوان به هم پاتې نه شي.
مونږ به په خپله هغه انتخابوو چې له هغو څخه د خدای پاک په
عبادت کې کار واخلو. ترڅو پورې چې هلته نه یو رسېدلي مونږ نه
پوهېږو چې کوم حیوانات هغه ته قرباني کړو.>

۲۷ مګر څښتن د فرعون زړه سخت کړ او هغه راضي نه ؤ چې
هغوی تګ ته پرېږدي. ۲۸ فرعون حضرت موسیٰ ته وویل: <زما
له مخې څخه لرې شه! بیا زما د لیدلو هڅه ونه کړې! که چېرې بیا
زما سره مخامخ شوې نو په هماغه ورځ به ووژل شې!>

۲۹ حضرت موسیٰ په ځواب کې وفرمایل: <ته رښتیا وایې، زه به

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بیا هیڅکله تا ونه وینم.>

## د اخرنی بلا خبرداری

١١ ١ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <زه به په فرعون
او د هغه په خلکو باندې اخرنی بلا نازله کړم. د هغې څخه وروسته
به هغه تاسو پرېږدي چې له دې ځای څخه لاړ شئ او تاسو ټول به
له دې ځایه وشړي. ٢ د اسراییلو خلکو ته ووایه چې نارینه او
ښځې دې د خپلو ګاونډیانو څخه د سرو زرو او سپینو زرو ګاڼې
وغواړي.> ٣ څښتن اسراییلیان د مصریانو په نظر کې عزتمن
کړل او په خپله حضرت موسیٰ په مصر کې د فرعون د درباریانو او
د قوم په نظر کې ډېر لوی سړی وګڼل شو.

٤ بیا حضرت موسیٰ وفرمایل: <څښتن فرمایي چې زه به په
نیمه شپه کې له مصر څخه تېر شم ٥ او هر مشر زوی به په مصر
کې مړ شي، د فرعون د زوی څخه نیولې چې د تخت وارث دی د
هغې وینځې د مشر زوی پورې څوک چې په مېچن کې غلې دانې
میده کوي او د حیواناتو اولني زېږېدلي بچي به هم مړه شي. ٦ په
ټول مصر کې به داسې ژړا او واویلا وي چې هلته هیڅ کله نه وه او
نه به وي. ٧ مګر په اسراییلیانو کې به داسې ارامي وي چې حتیٰ
د سپي غپا به هم نه وي. بیا به تاسو وپوهېږئ چې څښتن د مصریانو
او اسراییلیانو ترمنځ فرق کوي.> ٨ حضرت موسیٰ خپله وینا
پای ته ورسوله او ویې فرمایل: <ستا ټول درباریان به ماته راشي او
ماته به سجده وکړي او زاری به راته وکړي چې زه خپل ټول قوم له

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځان سره واخلم او لېرې لاړ شم.> بیا حضرت موسیٰ ډېر په قهر سره د فرعون څخه لاړ.

٩ ښبنتن حضرت موسیٰ ته فرمايلي وو: <فرعون به ستا خبرې ته غوږ ونه نيسي، خو په دې کار سره به ماته موقعه په لاس راشي چې په مصر کې به نورې معجزې هم وښايم.> ١٠ حضرت موسیٰ او حضرت هارون فرعون ته دا ټولې معجزې وروښودلې، مګر ښبنتن د فرعون زړه سخت کړ او هغه اسراييليان پرېنښودل چې د هغه له هېواد څخه لاړ شي.

## د فسحې اختر

١٢ ١ ښبنتن په مصر کې حضرت موسیٰ او حضرت هارون ته وفرمايل: ٢ <له دې وروسته به دا مياشت ستاسو دپاره د کال اوله مياشت وي. ٣ د اسراييلو ټول قوم ته دا لاربښودنې ورکړه: د دې مياشتې په لسمه ورځ بايد هر سړی د خپلې کورنۍ دپاره يو يو ورى يا سېرلی واخلي. ٤ که چېرې يوه کورنۍ دومره کوچنۍ وي چې ټول حيوان نه شي خوړلی، نو د خپل نژدې ګاونډي سره دې هغه ووېشي او د خلکو شمېر دې په نظر کې ونيسي. د هر نفر دپاره دې دومره وټاکل شي څومره چې خوړلی شي. ٥ تاسو کولی شئ چې پسه او يا وز انتخاب کړئ. مګر هغه بايد يو کلن وي او نر وي او کوم عيب هم ونلري. ٦ تاسو بايد د دې مياشتې تر څوارلسمې ورځې پورې هغه وساتئ، بيا به ټول قوم هغه په ماښام کې حلال کړي. ٧ خلک دې لږه وينه واخلي او د دروازې په چوکاټ او د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کورونو د دروازو په سرونو باندې دې چې د دې حیواناتو غوښه په
کې خوړل کیږي وشیندي. ۸ په هماغه شپه دې هغوی غوښه په
اور باندې کباب کړي او د ترخو بوټو او فطیرې ډوډۍ سره دې
وخوري. ۹ تاسو هغه غوښه خامه او یا خوټول شوې مه خورئ.
هغه د سر، پښو او د نس د دننیو برخو سره په اور باندې کباب کړئ.
۱۰ د هغې غوښې څخه تر سهار پورې لږه هم مه پرېږدئ. که
څېرې لږه ورځخه پاتې شي نو هغه وسوزوئ. ۱۱ تاسو به هغه ژر
ژر خورئ، ځکه چې د سفر دپاره به ملا تړئ. خپلې څپلۍ به په
پښو کړئ او امساګانې به مو په لاسونو کې ونیسئ. دا د فسحې اختر
دی چې زما یعنې څښتن د احترام په خاطر لمانځل کیږي.

۱۲ په هغه شپه به زه په مصر باندې تېرېږم او هر اولنی زېږېدلی
انسان او حیوان به ووژنم او د مصر ټولو خدایانو ته به سزا ورکړم. زه
څښتن یم. ۱۳ هغه وینه چې ستاسو د کورونو د دروازو په سرونو
او دواړو چوکاټونو باندې وي، هغه به ستاسو د کورونو نښې وي او
کله چې زه هغه ووینم نو ستاسو د کورونو څخه به تېرېږم او یوازې
مصریان به وژنم او تاسو ته به هیڅ زیان نه رسوم. ۱۴ تاسو باید دا
ورځ د یو مذهبي اختر په توګه ولمانځئ ترڅو دا تاسو ته در په یاد
کړي چې ما یعنې څښتن ستاسو دپاره کوم کارونه کړي دي. دا به د
ټولو راتلونکو وختونو دپاره لمانځئ.>

## د فطیرې ډوډۍ اختر

۱۵ څښتن وفرمایل: <تاسو باید اووه ورځې فطیره ډوډۍ
وخورئ. په اوله ورځ ټوله خمیره له خپلو کورونو څخه لیرې کړئ،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې که چېرې څوک په هغو اوووه ورځو کې خمیره ډوډۍ
وخوري هغه به زما له قوم څخه وشړل شي. ١٦ په اوله او اوومه
ورځ تاسو د عبادت دپاره سره راغونډ شئ. په هغو ورځو کې د
ډوډۍ تیارولو څخه پرته بل کار مه کوئ. ١٧ دا اختر ولمانځئ،
ځکه چې دا هماغه ورځ ده چې ما ستاسو قبیلې له مصر څخه
راوویستلې. تاسو باید دا ورځ د یو اختر په توګه د همېش دپاره
ولمانځئ. ١٨ د اولې میاشتې د څوارلسم ماښام څخه نیولې د
یوویشتمې ورځې تر ماښامه پورې باید تاسو فطیره ډوډۍ وخورئ.
١٩ اووه ورځې باید ستاسو په کورونو کې خمیره پیدا نه شي. ځکه
که چېرې څوک که هغه بېګانه وي او یا اسراییلی وي خمیره ډوډۍ
وخوري، هغه به د اسراییلو د قوم څخه وشړل شي. ٢٠ هیڅ داسې
شی مه خورئ چې له خمیرې څخه تیار شوی وي. هرچېرته چې
تاسو اوسېږئ باید فطیره ډوډۍ وخورئ.>

## د فسحې اولنی اختر

٢١ بیا حضرت موسیٰ د اسراییلو ټول مشران راوغوښتل او ورته
ویې فرمایل: <لاړ شئ او د خپلو کورنیو دپاره د رمو څخه وري او
وزې واخلئ او د فسحې د اختر دپاره یې حلال کړئ. ٢٢ د وړلنیو
د بوټو یوه غنچه واخلئ او په هغې وینه کې یې غوټه کړئ چې په
لوښي کې ده او د چوکاټ په دواړو څنګونو او د دروازې په پورتنۍ
برخه یې ووهئ. هیڅوک به د خپل کور څخه تر سهار پورې نه
وزي. ٢٣ کله چې څښتن د مصریانو د وژلو دپاره د مصر څخه
تېرېږي، هغه به د دروازو په چوکاټونو او د دروازو په پورتنیو برخو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وينه ويني او د مرګ فرښته به پرېږدي چې ستاسو کورونو ته
ستاسو د وژلو دپاره ورننوزي. ٢٤ تاسو او ستاسو اولادونه بايد د
تل دپاره په دې اصولو باندې عمل وکړي. ٢٥ کله چې تاسو هغې
ځمکې ته چې څښتن يې د ورکولو وعده ستاسو سره کړې ده
ورداخل شئ، بايد دا مراسم هلته سرته ورسوئ. ٢٦ کله چې
ستاسو ماشومان له تاسو څخه پوښتنه وکړي چې د دې مراسمو
معنیٰ څه ده؟ ٢٧ تاسو به په ځواب کې ووايئ: دا د فسحې د اختر
قرباني ده چې د څښتن د احترام دپاره يې کوو، ځکه چې هغه شپه
چې څښتن په مصر کې د اسراييليانو د کورونو دپاسه تېر شو. هغه
مصريان ووژل، مګر مونږ يې ژوندي پرېښودلو.> بيا قوم په سجده
شو او عبادت يې وکړ. ٢٨ بيا هغوی لاړل او څنګه چې څښتن په
حضرت موسیٰ او حضرت هارون باندې امر کړی ؤ، هماغسې يې
وکړل.

## د مشرانو اولادونو مړينه

٢٩ په نيمه شپه کې څښتن په مصر کې ټول مشران زامن ووژل. د
فرعون د زوی څخه چې د تخت وارث ؤ نيولې د بندي تر مشر زوی
پورې چې په زندان کې ؤ او د ټولو حيواناتو اولنې بچيان يې هم
ووژل. ٣٠ فرعون، د هغه ټول درباريان او مصريان د شپې راويښ
شول او په مصر کې سخته ژړا او واويلا وه، ځکه چې هلته داسې
کور نه ؤ چې مړی په کې نه ؤ شوی. ٣١ په هماغه شپه فرعون
حضرت موسیٰ او حضرت هارون راوغوښتل او ورته ويې ويل: <د
خپلو خلکو سره ووزئ! زما خاوره پرېږدئ. لاړ شئ او لکه څرنګه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې تاسو غوښتل د ښبتن عبادت وکړئ. ۳۲ خپلې رمې او پادې
هم د ځان سره بوځئ او لاړ شئ. او ماته هم برکت راکړئ.>

۳۳ مصریانو د اسراییلو قوم وهڅاوه چې د هغه هېواد څخه ژر لاړ
شي. هغوی وویل: <که چېرې تاسو لاړ نه شئ نو مونږ ټول به مړه
شو.> ۳۴ نو خلکو بې خمیرې اوړه په لګنونو کې واچول، په
ټوکرونو کې یې تاو کړل او په خپلو اوږو یې کېښودل. ۳۵
اسراییلیانو د حضرت موسیٰ په لارښودنې عمل وکړ او د مصریانو
څخه یې د سرو او سپینو زرو شیان او کالي وغوښتل. ۳۶ ښبتن
اسراییلیان د مصریانو په نظر کې عزتمن کړل او هرڅه یې چې له
مصریانو څخه غوښتل هغوی ته یې ورکول. په دې ډول اسراییلیانو د
مصریانو شتمني له ځانه سره یووړه.

## اسراییلیان له مصر څخه وزي

۳۷ اسراییلیانو له رعمسیس څخه سوکوت ته په پښو سفر وکړ. له
ښځو او ماشومانو څخه پرته د سړیو شمېر نژدې شپږ لکو تنو ته
رسېده. ۳۸ ډېر نور خلک هم د هغوی سره لاړل او هغوی سره
خپلې رمې او پادې هم وې. ۳۹ هغوی له هغو اوړو څخه فطیره
ډوډۍ پخه کړه چې له مصر څخه یې راوړي وو او هغوی وخت نه
درلود چې د ځان دپاره خمیره ډوډۍ یا نور خواړه تیار کړي، ځکه
چې یوناڅاپه له مصر څخه شړل شوي وو.

۴۰ اسراییلیان څلورسوه دېرش کاله په مصر کې اوسېدلي وو. ۴۱
په هماغه ورځ چې څلورسوه دېرش کاله پوره شول، د ښبتن د قوم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټولې قبیلې له مصر څخه ووتلې. ۴۲ دا هغه شپه وه چې څښتن په
هغوی باندې پام کاوه چې هغوی له مصر څخه راوباسي. همدا شپه د
څښتن دپاره وقف شوه، په دې خاطر باید د اسراییلو راتلونکي
نسلونه د تل دپاره دا شپه د څښتن دپاره د یادګار په توګه ولمانځي.

## د فسحې د اختر مقررات

۴۳ څښتن حضرت موسیٰ او حضرت هارون ته وفرمایل: <دا د
فسحې د اختر مقررات دي: هیڅ بېګانه سړی باید د فسحې د اختر
خواړه ونه خوري. ۴۴ مګر کوم غلام چې تاسو په بیه اخیستی وي
او سنت شوی وي هغه کولی شي چې دا خواړه وخوري. ۴۵ هیڅ
موقتي اوسېدونکی یا مزدور دې هغه ونه خوري. ۴۶ ټول خواړه
باید په یو کور کې دننه وخوړل شي او غوښه د کور څخه دباندې مه
راوباسئ. یو هډوکی هم مات نه کړئ. ۴۷ د اسراییلو ټول قوم باید
دا اختر ولمانځي. ۴۸ کوم سړی چې سنت شوی نه وي هغه دې دا
ونه خوري. که چېرې کوم بېګانه سړی په تاسو کې اوسېږي او
غواړي چې د څښتن د احترام دپاره د فسحې اختر ولمانځي، تاسو
باید اول د هغه د کورنۍ ټول نران سنت کړئ. بیا به د هغه سره لکه د
یو اصلي اسراییلي په شان چلند کېږي او کولی شي چې په دې اختر
کې برخه واخلي. ۴۹ په اصلي اسراییلي او هغو بېګانه خلکو باندې
چې ستاسو په منځ کې اوسېږي باید یوشان مقررات عملي شي.>
۵۰ ټولو اسراییلیانو د څښتن په امر باندې چې په حضرت موسیٰ
او حضرت هارون باندې یې کړی ؤ عمل وکړ. ۵۱ په هماغه ورځ
څښتن د اسراییلو قبیلې د مصر څخه راوویستلې.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اولنیو زیږېدل شویو وقفول

# ١٣
١ ښښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ٢ <د
اسراییلیانو ټول اولني زیږېدل شوي زامن او هر اولنی زیږېدلی نر
حیوان ماته وقف کړه. هغه زما دي.>

## د فطیرې ډوډۍ اختر

٣ حضرت موسیٰ قوم ته وفرمایل: <دا ورځ په یاد ساتئ، یعنې
هغه ورځ چې تاسو له مصر څخه چې په کې غلامان وئ ووتلئ. دا
هغه ورځ ده چې ښښتن د خپل لوی قدرت په وسیله تاسو له مصر
څخه راوویستلئ. تاسو خمیره ډوډۍ مه خورئ. ٤ نن تاسو په
اوله میاشت چې د ابیب میاشت ده د مصر څخه روان یئ. ٥ کله
چې ښښتن تاسو د کنعانیانو، حیتیانو، اموریانو، حویانو او یبوسیانو
ښې او حاصلخېزې ځمکې ته چې د هغې وعده یې ستاسو نیکونو
سره کړې ده راولي، تاسو باید دا اختر د هر کال په اوله میاشت
ولمانځئ. ٦ اووه ورځې فطیره ډوډۍ وخورئ او په اوومه ورځ د
ښښتن د احترام دپاره جشن ونیسئ. ٧ اووه ورځې باید فطیره
ډوډۍ وخورئ، ستاسو د هېواد په هیڅ ځای کې دې خمیره نه وي او
نه دې خمیره ډوډۍ وي. ٨ د اختر په پیل کې خپلو زامنو ته
داسې ووایئ چې مونږ دا هرڅه د هغه څه له کبله کوو چې ښښتن
زمونږ دپاره د مصر څخه د راوتلو په وخت کې وکړل. ٩ دا
مراسم به لکه د یوې نښې په شان چې تاسو یې په خپل لاس یا
تندي باندې تړئ، یو یادګار وي. دا به تاسو ته د ښښتن د شریعت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دوامداره تلاوت کول در په يادوي، ځکه چې ښښتن په خپل لوی
قدرت تاسو له مصر څخه راوويستلئ. ۱۰ تاسو بايد دا اختر د هر
کال په ټاکل شوي وخت کې ولمانځئ.

## اولني زېږېدلي

۱۱ ښښتن به تاسو د هغې وعدې سره سم چې تاسو او ستاسو د
نيکونو سره يې کړې ده د کنعانيانو وطن ته راولي. کله چې هغه وطن
تاسو ته درکړي، ۱۲ بايد ټول اولني زېږېدل شوي نارينه ښښتن ته
وقف کړئ. هر اولنی زېږېدلی نر حيوان د ښښتن دی. ۱۳ تاسو
بايد هر نر خر بېرته په بيه واخلئ او د هغه په ځای يو وری قرباني
کړئ. که چېرې تاسو نه غواړئ چې هغه خر بېرته په بيه واخلئ، نو
د هغه اورمېږ مات کړئ. تاسو بايد خپل ټول مشران زامن بېرته په بيه
واخلئ. ۱۴ کله چې په راتلونکي کې ستاسو څخه خپل زامن
پوښتنه وکړي چې دا مراسم څه معنیٰ لري؟ تاسو به هغوی ته په
ځواب کې ووايئ چې ښښتن په خپل لوی قدرت سره له مصر څخه
چې مونږ په کې غلامان وو راوويستلو. ۱۵ هغه وخت چې د
فرعون زړه سخت ؤ او مونږ يې نه پرېښودلو چې له مصر څخه لاړ
شو، نو ښښتن په مصر کې هر اولنی زېږېدلی نر حيوان او انسان
ووژه. ځکه مونږ ښښتن ته هر اولنی زېږېدلی نر حيوان قرباني کوو
او خپل ټول اولني زامن بېرته په بيه اخلو. ۱۶ دا مراسم به لکه د
يوې نښې په شان چې مونږ يې په لاسونو يا په خپلو تنديو باندې
وتړو، يو يادګار وي. دا به مونږ ته دا خبره را په يادوي چې ښښتن
په خپل قدرت مونږ له مصر څخه راوويستلو.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## اور او وریځ

۱۷ کله چې فرعون قوم پرېښود چې لاړ شي، خدای پاک هغوی
پرېنښودل چې د فلسطین په لارې باندې لاړ شي، که څه هم هغه
لاره لنډه وه. ځکه چې خدای پاک وفرمایل: <که چېرې هغوی د
جګړې سره مخامخ شي، کېدای شي چې خپله پرېکړه بدله کړي او
بېرته مصر ته راستانه شي.> ۱۸ د هغې په ځای یې هغوی د
دښتې په لاره چې کړه وړه لار وه، د سرې بحیرې خواته بوتلل.
اسراییلیان د جګړې دپاره په وسلو سمبال وو.

۱۹ حضرت موسیٰ د حضرت یوسف هډوکي د ځان سره یوړل،
ځکه چې حضرت یوسف اسراییلیانو ته قسم ورکړی ؤ. هغه فرمایلي
وو: <خدای پاک به په رښتیا سره ستاسو مرستې ته راشي، بیا تاسو
زما هډوکي د دې ځای څخه یوسئ.>

۲۰ اسراییلیان د سوکوت څخه لاړل او په ایتام کې یې د دښتې په
یوه ګوښه کې خېمې ودرولې. ۲۱ د ورځې له خوا به څښتن په
وریځو کې د هغوی په مخ کې روان ؤ چې هغوی ته لاره وروښایي
او د شپې له خوا به په اور کې روان ؤ ترڅو هغوی ته رڼا وکړي. نو
هغوی کولی شول چې شپه او ورځ سفر وکړي. ۲۲ وریځ به په
ورځ کې او اور به په شپه کې د هغوی د مخې څخه نه لېرې کېده.

## له سرې بحیرې څخه تېرېدل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ ۱ بیا ښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۲
<اسراییلیانو ته ووایه چې بېرته راوګرځي او فم الحیروت ته مخامخ
چې د مجدل او د سرې بحیرې ترمنځ او بعل صفون ته نژدې دی
خېمې ودروي. ۳ فرعون به دا فکر وکړي چې اسراییلیان به په
وطن کې سرګردانه ګرځي او د وارخطایۍ په حالت کې په دښته کې
بند پاتې دي. ۴ زه به د فرعون زړه سخت کړم او هغه به دوی
تعقیب کړي. مګر د فرعون او د هغه په لښکرو باندې به زما کامیابي
زما د جلال سبب شي. بیا به مصریان پوه شي چې زه ښتن یم.>
لکه څنګه چې هغوی ته ویل شوي وو اسراییلیانو هماغسې وکړل.

۵ کله چې فرعون خبر شو چې د اسراییلو قوم تښتېدلی دی، هغه
او د هغه درباریانو د هغوی په هکله خپله پرېکړه بدله کړه او ویې
ویل: <مونږ څه وکړل؟ مونږ اسراییلیان پرېښودل چې وتښتي او
هغوی چې زمونږ غلامان وو له لاسه مو ورکړل!> ۶ فرعون
خپلې جنګي ګاډۍ ګانې او لښکرې تیارې کړې. ۷ هغه د ځان
سره شپږسوه ښې ښې جنګي ګاډۍ ګانې د مصر د نورو ټولو جنګي
ګاډیو سره چې د هر یو سره خپل خپل قوماندان ؤ یوړلې. ۸
ښتن د فرعون زړه سخت کړ، نو هغه د اسراییلیانو پسې چې په
جرأت سره د مصر څخه ووتل، روان شو. ۹ د مصریانو، د فرعون
ټول اسونه، جنګي ګاډۍ ګانې، اس سواران او لښکرې د اسراییلیانو
پسې روان شول او له هغوی څخه مخکې شول، چېرته چې هغوی د
دریاب سره چې فم الحیروت او بعل صفون ته نژدې ؤ خېمې ودرولې
وې.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ ځنګه چې فرعون نژدې شو، اسراییلیانو سترګې پورته کړې او
ويې ليدل چې مصريان هغوی پسې راروان دي. هغوی ډېر وویرېدل
او ښښتن ته یې فریاد وکړ. ۱۱ هغوی حضرت موسیٰ ته وویل:
<آیا په مصر کې قبرونه نه وو چې تا دلته دښتې ته راوستلو چې مړه
شو؟ ګوره تا زمونږ سره څه وکړل چې له مصر څخه دې راوویستلو؟
۱۲ آیا تاته مونږ په مصر کې ونه ویل چې مونږ پرېږده چې د
مصریانو غلامان اوسو؟ مونږ ته په دښتې کې د مړه کېدلو څخه د
مصریانو غلامي ښه ده.>

۱۳ حضرت موسیٰ په ځواب کې وفرمايل: <مه وېرېږئ! په خپل
ځای کې ودرېږئ. تاسو به ووینئ چې ښښتن نن تاسو ته ځنګه
خلاصون درکوي. کوم مصريان چې نن یې وینئ، هغه به بیا هیڅکله
ونه وینئ. ۱۴ تاسو غلي اوسئ، ښښتن به ستاسو دپاره جګړه
وکړي.>

۱۵ ښښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: <ته ولې ماته د مرستې په
خاطر فریاد کوې؟ خلکو ته ووایه چې وړاندې لاړ شي. ۱۶ خپله
امسا پورته کړه او د دریاب خواته یې ونیسه. اوبه به بېلې شي او
اسراییلیان به وکولی شي چې په دریاب کې په وچه ځمکه باندې تېر
شي. ۱۷ زه به د مصریانو زړونه سخت کړم چې هغوی تاسو پسې
درشي او زه به په فرعون، د هغه په لښکرو او جنګي ګاډیو په
چلوونکو باندې د بریالیتوب په سبب جلال ومومم. ۱۸ کله چې زه
د فرعون، د هغه جنګي ګاډیو او اس چلوونکو ته ماتې ورکړم او
خپل جلال ښکاره کړم، مصريان به پوه شي چې زه ښښتن یم.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ د خدای پاک فرښته چې د اسراییلو د لښکرو په مخ کې روانه
وه شاته لاړه. وريځې هم د هغوی شاته حرکت وکړ ۲۰ او هغه د
مصريانو او د اسراييليانو په منځ کې شوه. د شپې په دوران کې وريځو
په مصريانو باندې تياره راوستله، مګر د اسراييلو په قوم يې رڼا
راوستله. نو لښکرې په ټوله شپه کې يو بل ته نژدې نه شوې ورتلی.

۲۱ حضرت موسیٰ د درياب دپاسه خپل لاس ونيوه او څښتن په
قوي ختيځ باد باندې د درياب اوبه شاته يوړلې. دا باد ټوله شپه
ولګېده او درياب يې په وچه ځمکه بدل کړ. اوبه بېلې شوې ۲۲ او
اسراييليان په درياب کې په وچه ځمکه تېر شول او دواړو خواو ته د
اوبو دېوالونه وو. ۲۳ مصريان د خپلو ټولو اسونو، جنګي ګاډيو او
د اس سوارانو سره هغوی تعقيب کړل او په درياب کې ورپسې روان
شول. ۲۴ د سباوون څخه مخکې، څښتن د اور او وريځو له منځ
څخه د مصريانو لښکرو ته وکتل او هغوی يې وارخطا کړل. ۲۵
څښتن د هغوی د ګاډيو عرابې له کاره وغورزولې نو هغه په سختی
سره چلېدلې. او مصريانو وويل: <راځئ چې له دې ځای څخه
وتښتو، ځکه چې څښتن زمونږ په ضد د اسراييليانو دپاره
جنګيږي!>

۲۶ بيا څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: <خپل لاس دې
درياب ته اوږد کړه. نو اوبه به بېرته په مصريانو، د هغوی په جنګي
ګاډيو او اس چلوونکو باندې راشي.> ۲۷ نو حضرت موسیٰ خپل
لاس د درياب خواته اوږد کړ او د سباوون په وخت کې اوبه خپل
اولني حالت ته راوګرځېدلې. مصريانو هڅه وکړه چې وتښتي، مګر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښبنتن دریاب ته وروغورزول. ۲۸ اوبه راوګرځېدلې او جنګي
ګاډي‌ګاني، اس سواران او ټولې مصري لښکرې یې چې په دریاب
کې د اسراییلیانو پسې وې غرق کړل او یو هم پاتې نه شو. ۲۹
مګر اسراییلیان په دریاب کې په وچه ځمکه باندې چې اوبه د هغې
دواړو خواو ته لکه د دېوالونو په شان ولاړې وې تېر شول.

۳۰ په هغه ورځ ښبنتن اسراییلیان د مصریانو څخه وژغورل او
اسراییلیانو هغوی ولیدل چې د دریاب په غاړه مړه پراته وو. ۳۱
کله چې اسراییلیانو د ښبنتن لوی قدرت چې هغه مصریانو ته وښوده
ولید، قوم د ښبنتن څخهووېرېده او په هغه او د هغه په خدمتګار
حضرت موسیٰ باندې یې ایمان راوړ.

## د حضرت موسیٰ روحاني سندره

۱۵ ۱ بیا حضرت موسیٰ او اسراییلیانو ښبنتن ته دا سندره
وویله:

<زه به د ښبنتن دپاره سندره ووایم

ځکه چې د جلال سره یې بری ومونډ

اسونه او د هغو سپاره یې دریاب ته ورګوزار کړل

۲ ښبنتن زما قوي ساتونکی دی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا هغه څوک دی چې زه یې ژغورلی یم

هغه زما خدای دی او زه به یې ستاینه کوم

زما د پلار خدای دی او وبه وایم چې لوړ دی

٣ څښتن جنګیالی دی

څښتن د هغه نوم دی

٤ د فرعون جنګي ګاډی او لښکرې

هغه ورګوزارې کړې دریاب ته

د فرعون ښه ښه منصبداران

ډوب شول په سره بحیره کې

٥ ژور دریاب هغوی لاندې کړل

هغوی تل ته د یوې تیږې په شان ورسېدل

٦ ستا په ښي لاس کې څښتنه

هیبتناک زور موجود دی

ستا ښي لاس ای څښتنه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دښمنان ټوټې ټوټې کوي

۷ خپل د حضور په لوی والي کې

ته خپل مخالفین له پښو غورزوې

ستا قهر لمبه کيږي او

هغوی د بوسو په شان سوزوي

۸ تا درياب پو کړ

او اوبه ډېرې شوې

سيلابونه د يو ديوال په شان کلک ودرېدل

د درياب ډېره ژوره برخه جامده شوه

۹ دښمن به لافې وهلې

زه به هغوی تعقيب کړم او ورپسې وبه رسيږم

زه به د هغوی غنيمت وويشم

زه به ځان ورباندې موړ کړم

زه به خپله توره راوباسم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او زه به هغوی له منځه یوسم

۱۰ مګر تا یو پوکی وکړ

او دریاب هغوی لاندې کړل

په زورورو اوبو کې

هغوی د سرپو په شان ډوب شول

۱۱ د خدایانو په منځ کې

څوک ستا په شان دی ای څښتنه؟

څوک ستا په شان دی؟

ته مقدس او لوی یې

ستا جلال هیبتناک دی

ته عجیب عجیب کارونه کوې

۱۲ تا خپل ښي لاس اوږد کړ

او ځمکې زمونږ دښمنان ژوندي تیر کړل

۱۳ تل ولاړ په خپل وعده یې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړي به خپل قوم ته لاربنودنه

کوم چې تا ژغورلی

په خپل قوت سره به ته هغوی

خپلې پاکې ځمکې ته بوځې

۱۴ قومونه به خبر شي او په لړزان به شي

د فلسطين په قوم به راشي سخته وېره

۱۵ د ادوم مشران به وویرېږي ډېر

د موآب مشران به په لړزه شي

د کنعان خلک به خپل همت د لاسه ورکړي

۱۶ سخته وېره او لړزه به په هغوی باندې پرېوزي

ستا د مټ په زور باندې به

هغوی تر هغه وخته پورې

د تيږې په شان غلي وي

ترڅو ستا قوم تېر شي ای څښتنه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترخو ستا قوم چې تا د غلامۍ نه

ازاد کړی تېر شي

١٧ ته به هغوی دننه راولې

او په خپل غره باندې به یې ځای په ځای کړې

هغه ځای څښتنه

چې تا د خپل کور دپاره انتخاب کړی دی

مقدس ځای چې تا په خپله ودان کړی دی

١٨ تل ترتله به څښتن

پادشاهي کاندي>

## د مریم روحاني سندره

١٩ کله چې د فرعون اسونه، جنګي ګاډۍ او سپاره دریاب ته
ورداخل شول، څښتن په هغوی باندې اوبه بېرته راوستلې. مګر
اسراییلیان په دریاب کې په وچه ځمکه باندې تېر شول.

٢٠ بیا مریم د حضرت هارون خور چې پیغمبره وه په خپل لاس
کې یوه چمبه واخیستله او ټولې ښځې د چمبو سره ورپسې شوې او
نڅا یې کوله. ٢١ مریم د هغوی دپاره دا سندره وویله:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

<څښتن ته سندره ووایئ

ځکه چې هغه په سرلوړی سره بریالی شوی دی

هغه اسونه او سپاره دریاب ته غورزولي دي>

## ترخې اوبه

۲۲ بیا حضرت موسیٰ اسراییلیان د سرې بحیرې څخه د شور
دښتې ته بوتلل. درې ورځې هغوی په دښته کې روان وو، مګر اوبه
یې ونه موندلې. ۲۳ بیا هغوی یو ځای ته چې ماره نومېدله راغلل.
مګر د هغه ځای اوبه ډېرې ترخې وې او هغوی نه شو کولی چې هغه
وڅښي. له دې امله په هغه باندې د ماره نوم کېښودل شو. ۲۴ نو
خلک د حضرت موسیٰ په مقابل کې راپورته شول او ویې ویل:
<مونږ به څه څښو؟> ۲۵ بیا حضرت موسیٰ څښتن ته زاری
وکړې او څښتن ورته د لرګي یوه ټوټه وروښودله. حضرت موسیٰ
هغه په اوبو کې وغورزوله او اوبه خوږې شوې.

څښتن هلته هغوی ته قوانین ورکړل چې د هغو له مخې ژوند وکړي
او هغوی وازمایي چې د هغه قوانینو ته غاړه ږدي او که نه. ۲۶
هغه وفرمایل: <که چېرې تاسو خپل څښتن خدای ته په غور سره
غوږ ونیسئ او هغه څه وکړئ کوم چې د هغه په نظر کې ښه دي او
که چېرې تاسو د هغه په امرونو باندې عمل وکړئ او د هغه د
فرمانونو څخه پیروي وکړئ، نو زه به په تاسو باندې هغه ناروغۍ
نازلې نه کړم کومې چې ما په مصریانو باندې نازلې کړې وې. ځکه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې زه ښښتن یم او زه تاسو ته شفا درکوونکی یم.<

۲۷ بیا هغوی ایلیم ته راغلل. هلته دولس چینې او د خرما اویا ونې
وې. نو هغوی هلته د چینو په غاړه خېمې ودرولې.

## د من ډوډۍ او مړزان

۱۶ ۱ د اسراییلو ټول قوم د ایلیم څخه لاړ او د دوهمې
میاشتې په پنځلسمه ورځ د مصر څخه د تګ څخه وروسته هغوی د
سین دښتې ته چې د ایلیم او سینا ترمنځ وه راغلل. ۲ په دښته
کې د اسراییلو ټول قوم حضرت موسیٰ او حضرت هارون ته شکایت
وکړ ۳ او ورته ویې ویل: <کاشکې مونږ د ښښتن په لاس په
مصر کې وژل شوي وای. مونږ به هلته د غوښې د دېګونو څنګ ته
کښېناستو او څومره خواړه چې مونږ غوښتل مونږ به خوړل. مګر
تاسو مونږ دې دښتې ته راوستلو چې ټول له لوږې ووژنئ.>

۴ ښښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <اوس به زه په تاسو ټولو
باندې د اسمان څخه د ډوډۍ باران واوروم. خلک دې هره ورځ ځي
او د ځان دپاره دې د یوې ورځې خواړه راټولوي. په دې ډول به زه
هغوی وازمایم چې زما لارښوونې ته غاړه ږدي او که نه. ۵ په
شپږمه ورځ دې هغوی د دوو ورځو خواړه راوړي او ځان دپاره دې
تیار کړي.>

۶ نو حضرت موسیٰ او حضرت هارون ټولو اسراییلیانو ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وفرمایل: <نن ماښام به تاسو پوه شئ چې دا څښتن ؤ چې تاسو يې
د مصر څخه راوویستلئ. ۷ تاسو به په سهار کې د څښتن جلال
ووینئ، ځکه چې هغه د خپل ځان په ضد ستاسو شکایتونه اورېدلي
دي. مونږ څوک یو چې زمونږ څخه ګیله کوئ؟> ۸ حضرت
موسیٰ دا هم وفرمایل: <تاسو به پوه شئ چې دا څښتن دی چې په
ماښام کې به درته غوښه او په سهار کې چې څومره ډوډۍ غواړئ
درکوي، ځکه چې هغه د خپل ځان په ضد ستاسو شکایتونه اورېدلي
دي. مونږ څوک یو؟ تاسو زمونږ څخه نه بلکه له څښتن څخه مو
شکایت کړی دی.>

۹ حضرت موسیٰ هارون ته وفرمایل: <ټول قوم ته ووایه چې د
څښتن په مخکې ودرېږي، ځکه چې هغه د هغوی شکایتونه اورېدلي
دي.> ۱۰ کله چې حضرت هارون د اسراییلو ټول قوم ته وینا
کوله، هغوی د دښتې خواته وکتل او هلته د څښتن جلال په ورېځ کې
ښکاره شو. ۱۱ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۱۲ <ما د
اسراییلیانو شکایتونه اورېدلي دي. هغوی ته ووایه: ماښام به تاسو
غوښه وخورئ او په سهار کې به په ډوډۍ باندې ماړه شئ. بیا به
تاسو پوه شئ چې زه ستاسو څښتن خدای یم.>

۱۳ ماښام د مړزانو یوه لویه ډله راغله او ټول کمپ يې ونیوه او په
سهار کې د کمپ په شاوخوا کې پرخه پرته وه. ۱۴ کله چې پرخه
والوتله، په ځمکه باندې د واورې په شان واړه بخرکي رابښکاره شول.
۱۵ کله چې اسراییلیانو هغه ولیدل، نو ويې نه پېژندل او د یو او بل
څخه يې پوښتنه کوله: <دا څه شی دي؟>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حضرت موسیٰ هغوی ته وفرمایل: >دا هغه ډوډی ده چې ښبنتن
تاسو ته د خوړلو دپاره درکړې ده. ۱۶ ښبنتن امر کړی دی چې
هرڅوک دې د خپلې ورځنۍ اړتیا په اندازه هغه راټوله کړي. دوه دوه
لیتره دې د خپلې کورنۍ هر یو تن ته راټوله کړي.>

۱۷ اسراییلیانو همداسې وکړل. ځینو ډېره او ځینو لږه راټوله کړه.
۱۸ کله چې هغوی هغه اندازه کړه، چا چې ډېره راټوله کړې وه د
هغه سره زیاته نه وه او چا چې لږه راټوله کړې وه د هغه سره کمه نه
وه. هر یو د خپلې اړتیا په اندازه راټوله کړې وه. ۱۹ حضرت
موسیٰ هغوی ته وفرمایل: >هیڅوک دې هغه تر سهار پورې ونه
ساتي.> ۲۰ مګر له هغوی څخه ځینو حضرت موسیٰ ته غوږ ونه
نیوه او لږه یې وساتله. په راتلونکي سهار هغې چینجي وکړل او بد
بوی یې کاوه او حضرت موسیٰ هغوی ته په قهر شو. ۲۱ هر سهار
هرچا د خپلې اړتیا په مطابق خواړه راټولول او کله به چې لمر
ګرمېده نو څه چې په ځمکه باندې پاتې کېدل هغه به ویلي کېدل.
۲۲ په شپږمه ورځ هغوی دوه چنده راټوله کړه، یعنې څلور لیتره د
هر یو تن دپاره. نو د قوم ټول مشران راغلل او حضرت موسیٰ یې
خبر کړ. ۲۳ حضرت موسیٰ هغوی ته وفرمایل: >ښبنتن امر کړی
دی چې سبا د ارام کولو مقدسه ورځ ده چې ښبنتن ته وقف شوې
ده. نن هرڅه چې غواړئ پاخه یې کړئ او هرڅه چې غواړئ ویې
ایشوئ. هرڅه چې پاتې کېږي هغه د سهار دپاره وساتئ.> ۲۴
څنګه چې حضرت موسیٰ امر کړی ؤ، څه چې پاتې شول هغوی تر
راتلونکې ورځې پورې وساتل او هغه بوی او چینجي ونه کړل. ۲۵
حضرت موسیٰ وفرمایل: >دا نن وخورئ، ځکه چې نن د سبت او د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ارام کولو ورځ ده چې ښبنتن ته وقف شوې ده او تاسو به بیرون په
ځمکه باندې خواړه ونه مومئ. ۲۶ تاسو باید شپږ ورځې خواړه
راټول کړئ، مګر په اوومه ورځ چې د سبت ورځ ده هیڅ شی به نه
وي.>

۲۷ بیاهم ځینې خلک په اوومه ورځ د خواړو د راټولولو دپاره
لاړل، مګر هغوی هیڅ څه ونه موندل. ۲۸ بیا ښبنتن حضرت
موسیٰ ته وفرمایل: <تاسو به ترڅه وخته پورې زما د امرونو څخه
سرغړونه کوئ؟ ۲۹ یاد ساتئ چې زه ښبنتن یم او ما تاسو ته د
ارام کولو دپاره یوه ورځ درکړې ده. همدا دلیل دی چې زه به په
شپږمه ورځ همېشه د دوه ورځو خواړه درکوم. په اوومه ورځ دې
هرڅوک په خپل کور کې پاتې شي او د هغه ځای څخه دې نه
راوزي.> ۳۰ نو قوم په اوومه ورځ ارام وکړ.

۳۱ دا خواړه د اسراییلو قوم د من په نوم یادول. هغه د دنیا د دانو
په شان وو، هغه سپین وو او د شاتو په شان خوند یې درلود. ۳۲
حضرت موسیٰ وفرمایل: <ښبنتن امر کړی دی چې دوه لیتره من
واخلئ او د راتلونکو نسلونو دپاره یې وساتئ. نو هغوی به دا خواړه
ووینې چې هغه مې تاسو ته په هغه وخت کې په دښته کې درکړې وو
چې کله مې د مصر څخه راوویستلئ.> ۳۳ حضرت موسیٰ هارون
ته وفرمایل: <یو لوښی راواخله او دوه لیتره من په کې واچوه او په
عبادتخانه کې یې کېږده چې د راتلونکو نسلونو دپاره د یادګار په
توګه وساتل شي.> ۳۴ څنګه چې ښبنتن په حضرت موسیٰ
باندې امر کړی ؤ، حضرت هارون هغه د لوظ د صندوق مخې ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کېښود چې وساتل شي. ٣٥ اسراييليانو څلوېښت کاله من وخوړ تر
هغې پورې چې هغوی د کنعان خاورې ته ورسېدل او هلته ځای په
ځای شول. ٣٦ (هغه لوښی چې د من د اندازه کولو دپاره
استعمالېده هغه د عومر په نوم يادېده او د شلو ليترو سره برابر ؤ.)

## د ګټې څخه اوبه

١٧ ١ د اسراييلو ټول قوم د سين دښته پرېښودله او د څښتن
په امر يې د يو ځای څخه بل ځای ته کډه کوله. هغوی په رفيديم کې
خېمې ودرولې، مګر هلته د قوم دپاره د څښلو اوبه نه وې. ٢ نو
هغوی حضرت موسیٰ ته شکايت وکړ او ورته يې وويل: <مونږ ته د
څښلو دپاره اوبه راکړه.> حضرت موسیٰ په ځواب کې وفرمايل:
<تاسو ولې شکايت کوئ؟ تاسو ولې څښتن ازمايئ؟>

٣ مګر خلک ډېر تږي وو او په حضرت موسیٰ باندې غورېدل.
هغوی وويل: <تا مونږ ولې له مصر څخه راوويستو چې د خپلو
ماشومانو او حيواناتو سره مو له تندې مړه کړې؟>

٤ حضرت موسیٰ څښتن ته زارۍ وکړې او ويې فرمايل: <زه د
دې خلکو سره څه وکړم؟ نژدې دی چې دوی مې سنګسار کړي.>

٥ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: <د اسراييلو ځينې مشران
د ځان سره بوځه او د خلکو په مخ کې ځه. د ځان سره هغه امسا
يوسه په کومې چې تا د نيل سيند وهلی ؤ. ٦ زه به د سينا د غره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره په یو ګټ باندې ستا په مخکې ودرېږم. ته هغه ګټ ووهه او خلکو ته به د څښلو دپاره له هغه څخه اوبه جاري شي.> نو حضرت موسیٰ د اسراییلو د مشرانو په مخکې همداسې وکړل.

٧ او هغه د دې ځای نوم مسا او مریبه کېښود، ځکه چې اسراییلیانو شکایت وکړ او څښتن یې وازمایه او ویې ویل: <آیا څښتن زمونږ په منځ کې دی او که نه؟>

## د عمالیقیانو سره جګړه

٨ عمالیقیان رفیدیم ته راغلل او په اسراییلیانو باندې یې حمله وکړه. ٩ حضرت موسیٰ یوشع ته وفرمایل: <زمونږ له خلکو څخه یو څو تنه انتخاب کړه او لاړ شه د عمالیقیانو سره جګړه وکړه. زه به سبا د غونډۍ په سر ودرېږم او د خدای پاک امسا به زما په لاسونو کې وي.> ١٠ څنګه چې حضرت موسیٰ حکم کړی ؤ، یوشع د عمالیقیانو سره جګړه وکړه او حضرت موسیٰ، حضرت هارون او حور د غونډۍ سرته لاړل. ١١ ترڅو پورې چې د حضرت موسیٰ لاسونه پورته وو، اسراییلیان بریالي کېدل. مګر کله چې هغه خپل لاسونه ښکته کول نو عمالیقیان به بریالي کېدل. ١٢ کله چې د حضرت موسیٰ لاسونه ستړي شول، نو حضرت هارون او حور یوه تیږه راوړه او حضرت موسیٰ یې په هغې باندې کښېناوه. په دواړو خواو یې د حضرت موسیٰ لاسونه پورته ونیول، نو د هغه لاسونه د لمر تر پرېوتلو پورې ټینګ پاتې شول. ١٣ په دې ډول یوشع عمالیقیانو ته په بشپړه توګه ماتې ورکړه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ بیا ښښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: >د دې برې یو بیان
ولیکه ترڅو هغه یو یادګار پاتې شي. یوشع ته ووایه چې زه به
عمالیقیان په بېشپړه توګه تباه کړم.> ۱۵ حضرت موسیٰ د قربانۍ
ځای جوړ کړ او دا نوم يې ورباندې کېښود ښښتن زما د بریالیتوب
بیرغ دی. ۱۶ هغه وفرمایل: >د ښښتن بیرغ جګ ونیسئ! ښښتن
به د تل دپاره د عمالیقیانو په ضد جګړې ته دوام ورکړي!>

## یترون د حضرت موسیٰ سره لیدنه کتنه کوي

# ۱۸

۱ یترون د مدیان کاهن او د حضرت موسیٰ خسر
واورېدل چې خدای پاک د حضرت موسیٰ او د اسراییلو د خلکو
دپاره کوم کارونه کړي وو او څنګه يې هغوی له مصر څخه
راوویستل. ۲ څه موده مخکې حضرت موسیٰ خپله ښځه صفوره
او خپل دوه زامن لېږلي وو چې د هغه د خسر یترون سره واوسېږي.
۳ د حضرت موسیٰ د اولني زوی نوم جرشون ؤ، ځکه کله چې د
هغه هلک پیدا شو نو حضرت موسیٰ فرمایلي وو: >زه په پردی
خاوره کې مسافر یم.> ۴ هغه وفرمایل: >د خپل پلار خدای زما
سره مرسته وکړه او زه يې له دې څخه وژغورلم چې فرعون مې
ووژني> نو په دې خاطر يې د بل زوی نوم الیعازر کېښود. ۵
یترون د حضرت موسیٰ د ښځې او د هغې د دوو زامنو سره هغې
دښتې ته راغی چېرته چې حضرت موسیٰ مقدس غره ته نژدې خېمه
ودرولې وه. ۶ یترون هغه ته دا خبر ورولېږه: >زه ستا خسر
یترون ستا د ښځې او دوو زامنو سره تاته راځم.> ۷ نو حضرت
موسیٰ د هغه مخې ته ورغی او هغه ته يې د احترام دپاره سر ټیټ کړ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هغه يې ښکل کړ. هغوی د يو بل د صحت پوښتنه وکړه او بيا د
حضرت موسیٰ خېمې ته ورننوتل. ۸ حضرت موسیٰ خپل خسر
ته د هغو کارونو په هکله چې څښتن د اسراييلو د خلاصون په خاطر
په فرعون او د مصر په خلکو باندې کړي وو بيان کړل. همدارنګه د
هغو ټولو سختيو په هکله يې ورته وويل چې هغوی په لاره کې
ورسره مخامخ شوي وو او څښتن هغوی څنګه وژغورل. ۹
يترون د هغه احسان په سبب چې څښتن په اسراييلو باندې کړی ؤ
چې هغوی يې له مصريانو څخه وژغورل خوشاله شو. ۱۰ هغه
وويل: <د څښتن ثنا او صفت دې وي چې تاسو يې د فرعون او د
مصريانو څخه وژغورلئ! د څښتن ثنا او صفت دې وي چې خپل
قوم يې له غلامۍ څخه وژغوره! ۱۱ اوس زه پوهېږم چې څښتن له
ټولو نورو خدايانو څخه لوی دی، ځکه چې هغه اسراييل د خپلو
مغرورو دښمنانو څخه خلاص کړل.> ۱۲ بيا د حضرت موسیٰ
خسر يترون سوزېدونکې نذرانه او نورې قربانۍ خدای پاک ته
راوړلې او حضرت هارون د اسراييلو د ټولو مشرانو سره راغی چې د
عبادت په ځای کې د حضرت موسیٰ د خسر سره ډوډۍ وخوري.

## د قاضيانو ټاکل

(تثنيه ۱: ۹ – ۱۸)

۱۳ بله ورځ حضرت موسیٰ په يو ځای کې کښيناست چې د
خلکو دعوې فيصله کړي او هغه د سهار څخه تر مابنام پورې
مصروف ؤ. ۱۴ کله چې يترون هغه ټول کارونه وليدل چې حضرت
موسیٰ کول، هغه پوښتنه وکړه: <دا څه دي چې ته يې د خلکو دپاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوي؟ دا کار ولې په يوازې ځان کوې او خلک د سهار څخه نيولې
تر ماښامه پورې درڅخه چاپېر وي چې تا سره مشوره وکړي؟>

۱۵ حضرت موسیٰ په ځواب کې وفرمايل: <ځکه چې خلک دلته
راځي چې په دې پوه شي چې خدای پاک د هغوی څخه څه غواړي
چې وېې کړي. ۱۶ کله چې دوه تنه په خپل منځ کې کومه شخړه
ولري، هغوی ماته راځي او زه دا پرېکړه کوم چې څوک په حقه دی.
بيا هغوی ته د خدای پاک فرمانونه او قوانين بيانوم.>

۱۷ بيا يترون ورويل: <ته دا کار په صحيح طريقې سره نه کوې.
۱۸ ته به خپل ځان او دا خلک سخت ستړي کړې. دا کار ستا
دپاره ډېر سخت دی، ته يوازې دا کار نه شې کولی. ۱۹ اوس ماته
غوږ ونيسه چې تاته يوه ښه مشوره درکړم او خدای پاک به ستا سره
مل وي. ستا دپاره دا ښه ده چې ته د خدای پاک په حضور کې د
قوم نمايندګي وکړې او د هغوی شخړې هغه ته راوړې. ۲۰ هغوی
ته د خدای پاک فرمانونه او قوانين ورزده کړه او د ژوند کولو طريقه
ورورښايه او ورته وښايه چې څه بايد وکړي. ۲۱ مګر له ټول قوم
څخه لايق نفر وټاکه، داسې نفر چې د خدای پاک څخه وېرېږي او د
اعتبار وړ وي او د رشوت څخه کرکه کوي. هغوی په زر نفري، سل
نفري، پنځوس نفري او لس نفري ډلو باندې مشران وټاکه. ۲۲
هغوی پرېږده چې په دايمي توګه د قاضيانو په توګه د قوم خدمت
وکړي. هغوی به سختې دعوې تاته راوړي او د کوچنيو شخړو
پرېکړه به په خپله کوي. او په دې به ستا کار آسانه او بار به دې
سپک شي. ۲۳ که چېرې ته دا کار د خدای پاک د امر سره سم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړي، هم به خپله ستړی نه شي او هم به د خلکو شخړې ژر حل
شي او په خاطر جمعی سره به وکولی شي چې خپلو کورونو ته لاړ
شي.>

۲۴ حضرت موسیٰ د خپل خسر مشوره ومنله ۲۵ او د ټولو
اسراييليانو څخه يې قابله نفر وټاکل. هغوی يې په زر نفري، سل
نفري، پنځوس نفري او لس نفري ډلو باندې مشران وټاکل. ۲۶
هغوی به همېشه د قاضيانو په توګه د خلکو خدمت کاوه. هغوی به
سختې دعوې حضرت موسیٰ ته راوړلې، مګر د ساده دعوو پرېکړه
به يې په خپله کوله.

۲۷ بيا حضرت موسیٰ خپل خسر يترون رخصت کړ او يترون خپل
وطن ته ستون شو.

## اسراييليان د سينا په غره کې

۱-۲ د اسراييلو قوم له رفيديم څخه لاړ او د مصر څخه له
راوتلو وروسته د دريمې مياشتې په اوله ورځ د سينا دښتې ته راغلل.
هلته يې د سينا د غره په لمنه کې خېمې ودرولې. ۳ حضرت
موسیٰ د خدای پاک سره د ملاقات دپاره غره ته وخوت.

ښښتن هغه ته د غره څخه غږ وکړ او ورته ويې فرمايل: >د يعقوب
اولادې يعنې اسراييليانو ته داسې ووايه: ۴ تاسو وليدل چې ما په
مصريانو باندې څه وکړل او څنګه مې تاسو لکه د عقاب په شان چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل بچیان په خپلو وزرونو باندې وړې دلته خپل ځان ته راوستلئ.
٥ اوس که چېرې تاسو په وفادارۍ سره زما اطاعت وکړئ او زما
په لوظ باندې ټینګ ودرېږئ، بیا به تاسو په ټولو قومونو کې زما
خاص قوم شئ. که څه هم دا ټوله دنیا زما ده، ٦ خو تاسو به زما
دپاره کاهنان او مقدس قوم اوسئ. دا هغه خبره ده چې ته یې باید
اسراییلیانو ته ورسوې.> ٧ نو حضرت موسیٰ د غره څخه راکوز
شو او د قوم مشران یې سره راغونډ کړل او څه چې څښتن ورته
فرمایلي وو، هغوی ته یې بیان کړل. ٨ ټول قوم په یو اواز په
ځواب کې وویل: <هرڅه چې څښتن فرمایلي دي مونږ به په هغه
باندې عمل وکړو.> نو حضرت موسیٰ د هغوی ځواب بېرته څښتن
ته راوړ.

٩ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <زه به تاته په ټینګې
ورېځې کې راشم، نو کله چې زه ستا سره خبرې کوم قوم به یې
واورې او په تا باندې به اعتبار وکړي.>

څه چې قوم ویلي وو حضرت موسیٰ هغه څښتن ته وویل. ١٠
څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <خلکو ته ورشه او ورته ووایه
چې نن او سبا خپل ځانونه د عبادت دپاره پاک کړي او باید خپل
کالي ومینځي ١١ او په دریمه ورځ تیار اوسي. ځکه چې زه په هغه
ورځ د ټولو خلکو په حضور کې د سینا غره ته رانښکته کېږم. ١٢ د
غره ګردچاپېره حد وټاکه چې خلک ورڅخه تېر نه شي او هغوی ته
ووایه: پام کوئ چې غره ته راونه خېژئ او حتیٰ هغه ته نژدې هم
ورنه شئ. که څوک په هغه باندې پښه کېږدي نو وبه وژل شي. ١٣

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه باید سنګسار شي او یا په غشو وویشتل شي او هیڅوک باید
هغه ته لاس ورنه وړي. دا به په انسان او حیوان دواړو باندې عملي
کیږي. مګر کله چې سرنی ووهل شي، بیا خلک کولی شي چې د غره
لمنې ته راشي.>

۱۴ بیا حضرت موسیٰ له غره څخه راښکته شو او خلکو ته یې
وفرمایل چې د عبادت دپاره تیار شي. نو هغوی خپل کالي ومینځل
۱۵ او حضرت موسیٰ خلکو ته وفرمایل: <د دریمې ورځې دپاره
ځانونه تیار کړئ او په دې موده کې ښځو ته مه ورنږدې کیږئ.>

۱۶ د دریمې ورځې په سهار تندر او بریښنا شوه او د غره په سر
باندې یوه ټینګه وریځ ښکاره شوه او د سرني یو ډیر لوړ غږ واوریدل
شو. ټول خلک چې په کمپ کې وو د ویرې له لاسه ولړزیدل. ۱۷
حضرت موسیٰ هغوی د کمپ څخه دباندې راوستل چې د خدای
پاک سره ملاقات وکړي او هغوی د غره په لمنه کې ودریدل. ۱۸ د
سینا ټول غر په لوګي کې پټ ؤ، ځکه چې څښتن په هغه باندې په
اور کې راښکته شوی ؤ. دا لوګی د داش د لوګي په شان پورته کیده
او ټول غر سخت لړزیده. ۱۹ د سرني غږ نور هم لوړیده. حضرت
موسیٰ خبرې کولې او خدای پاک هغه ته په تندر کې ځواب ورکاوه.
۲۰ څښتن د سینا د غره په سر راښکته شو او حضرت موسیٰ یې
د غره سرته راوغوښت. حضرت موسیٰ وروخوت ۲۱ او څښتن
هغه ته وفرمایل: <ښکته لاړ شه او خلکو ته خبرداری ورکړه چې له
حد څخه راوانه وړي چې راشي او ما ووینې. که چیرې داسې وکړي،
له هغوی څخه به ډیر نفر مړه شي. ۲۲ حتیٰ کاهنان هم چې ماته
نږدې راځي باید ځانونه پاک کړي او که نه زه به هغوی ته هم سزا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکړم.»

۲۳ حضرت موسیٰ څښتن ته وفرمایل: «خلک د سینا غره ته نه
شي راختلی، ځکه چې تا په خپله مونږ ته خبرداری راکړ چې د غره
ګردچاپېره حد وټاکو او هغه غر مقدس وګڼو.»

۲۴ څښتن په ځواب کې وفرمایل: «ښکته لاړ شه او هارون د
ځان سره راوخېژوه. مګر کاهنان او خلک باید د خپل حد څخه
راتېر نه شي چې ماته راشي. که نه، نو زه به ورته سزا ورکړم.» ۲۵
بیا حضرت موسیٰ خلکو ته ورښکته شو او د څښتن خبرې یې ورته
وکړې.

## لس حکمونه

(تثنیه ۵: ۱ – ۲۱)

۲۰ ۱ خدای پاک خبرې وکړې او د هغه خبرې دا وې: ۲
«زه ستاسو څښتن خدای یم او تاسو مې له مصر څخه چې په کې
غلامان وئ راوویستلئ.

۳ زما څخه پرته د بل خدای عبادت مه کوئ.

۴ د خپلو ځانونو دپاره د هیڅ شي په شکل چې هغه په اسمان
کې یا په ځمکه باندې یا د ځمکې لاندې په اوبو کې وي بتان مه
جوړوئ. ۵ هیڅ بت ته سجده یا عبادت مه کوئ ځکه چې زه
ستاسو څښتن خدای یو غیرتي خدای یم. څوک چې زما څخه کرکه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوي زه به هغوی او د هغوی اولادې ته تر دریم او څلورم نسله
پورې سزا ورکړم. ۶ مګر زه د هغو زرګونو نسلونو سره چې زما
سره مینه کوي او زما امرونو ته غاړه ږدي مینه کوم.

۷ زما نوم د بدو مقصدونو دپاره مه استعمالوئ، ځکه چې زه
ستاسو څښتن خدای به هغه چاته سزا ورکړم څوک چې زما نوم په
غلطه استعمال کړي.

۸ د سبت ورځ ولمانځئ او هغه مقدسه وګڼئ. ۹ تاسو د کار
کولو دپاره شپږ ورځې لرئ، ۱۰ مګر اوومه ورځ د ارام کولو ورځ
ده چې څښتن خدای ته وقف شوې ده. په دې ورځ به تاسو هیڅ کار
نه کوئ، نه تاسو، نه ستاسو زامن یا لورګانې، نه غلامان، نه ستاسو
حیوانات، نه هغه بیګانه خلک چې ستاسو په وطن کې اوسیږي. ۱۱
ما څښتن په شپږو ورځو کې ځمکه، اسمان، دریابونه او هرڅه چې
په هغو کې دي جوړ کړل، مګر په اوومه ورځ مې ارام وکړ. ځکه ما
سبت ته برکت ورکړ او هغه مې مقدس کړ.

۱۲ د خپل پلار او مور احترام کوئ ترڅو تاسو په هغه خاوره کې
چې زه یې درکوم زیات عمر ولرئ.

۱۳ قتل مه کوئ.

۱۴ زنا مه کوئ.

۱۵ غلا مه کوئ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ د هیچا په ضد د دروغو شهادت مه ورکوئ.

۱۷ د بل سړي کور ته د طمعې په سترګه مه ګورئ. د هغه ښځې،
غلامانو، غوایانو، خرو یا هرڅه چې هغه یې لري ورته د طمعې په
سترګه مه ګورئ.>

## د خلکو وېره

(تثنیه ۵: ۲۳ – ۳۳)

۱۸ کله چې ټولو خلکو د تندر او سرني غږ واورېد او برېښنا او
هغه غر یې ولیده چې لوګی ورڅخه پورته کېده، نو هغوی د وېرې د
لاسه ولړزېدل او لیرې ودرېدل. ۱۹ هغوی حضرت موسیٰ ته
ووېل: >که چېرې ته زمونږ سره خبرې وکړې، غوږ به درته ونیسو.
مګر مونږ وېرېږو چې که چېرې خدای پاک زمونږ سره خبرې وکړي
نو مړه به شو.>

۲۰ حضرت موسیٰ قوم ته وفرمایل: <مه وېرېږئ. خدای پاک
ستاسو د ازمایلو دپاره راغلی دی ترڅو د هغه وېره درسره وي او
ګناه ونه کړئ.> ۲۱ خو خلک په یوې لیرې فاصلې کې ودرېدل
او حضرت موسیٰ هغې تورې تیارې ته ورنژدې شو چې خدای پاک
په کې ؤ.

## د قربانۍ د ځایونو په هکله قوانین

۲۲ بیا څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <اسراییلیانو ته داسې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووايه: تاسو په خپله ليدلي دي چې ما څنګه ستاسو سره د اسمان
څخه خبرې وکړې. ۲۳ د ځانونو دپاره د سپينو او سرو زرو
خدايان مه جوړوئ چې زما څخه بغير د هغه عبادت وکړئ. ۲۴
زما دپاره د خاورو څخه د قربانۍ ځای جوړ کړئ او په هغه باندې
خپلې سوزېدونکې او د سلامتۍ نذرانې او د خپلو رمو او پادو
حيوانات قرباني کړئ. هرځای چې زه يې ستاسو دپاره ټاکم چې زما
عبادت په کې وکړئ، زه به هلته درشم او تاسو ته به برکت درکوم.
۲۵ که چېرې تاسو زما دپاره د تيږو څخه د قربانۍ ځای جوړوئ
نو د تراش شويو تيږو څخه يې مه جوړوئ، ځکه که چېرې په هغو
باندې د کوم سامان څخه کار واخلئ هغه به ناپاک کړئ. ۲۶ زما د
قربانۍ ځای ته په زينه باندې مه ورخېژئ، ترڅو په هغې باندې
ستاسو د شرم ځای ښکاره نه شي.>

## د عبراني غلامانو سره چلند

(تثنيه ۱۵: ۱۲ – ۱۸)

۲۱ ۱ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: <دا هغه قوانين دي
چې ته يې بايد اسراييليانو ته ورکړې: ۲ که چېرې تاسو يو
عبرانی غلام په بيه واخلئ، هغه دې شپږ کاله ستاسو خدمت وکړي.
مګر په اووم کال به پرته له دې چې څه بيه ورڅخه واخيستل شي
هغه ازاد شي. ۳ که چېرې په هغه وخت کې چې هغه ستاسو غلام
شوی ؤ واده يې نه ؤ کړی، هغه به د تګ په وخت کې خپله ښځه له
ځانه سره نه بيايي. خو که چېرې په هغه وخت کې چې هغه ستاسو
غلام شو واده يې کړی ؤ، هغه به خپله ښځه هم له ځانه سره بوځي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ که چېرې بادار يې ورته ښځه وکړي او هغه ښځه ورته زامن يا لورګانې وزېږوي، هغه ښځه او د هغې ماشومان د بادار کېږي او يوازې هغه سړى دې ازاد شي. ۵ مګر که چېرې هغه غلام داسې اعلان وکړي چې زه د خپل بادار او د خپلې ښځې او ماشومانو سره مينه لرم او نه غواړم چې ازاد شم، ۶ بيا به يې خپل بادار د عبادت ځاى ته بوځي. هغه دې هلته د دروازې يا د دروازې د چوکاټ په مخکې ودروي او په رينه باندې دې د هغه غوږ سورى کړي. بيا به دا سړى ټول عمر د هغه غلام وي.

۷ که چېرې يو سړى خپله لور د يوې غلامې په توګه خرڅوي، هغه دې د نارينه غلامانو په شان ازاده نه شي. ۸ که چېرې هغه په يو داسې نفر باندې خرڅه شي چې داسې نيت ولري چې هغه خپله ښځه کړي، مګر هغه يې نه خوښېږي نو بيا دې هغه بېرته د خپل پلار له خوا په بيه واخيستل شي. د هغې بادار هغه په بېګانه خلکو باندې نه شي خرڅولى، ځکه چې د هغې سره يې بې وفايي کړې ده. ۹ که چېرې يو سړى يوه غلامه واخلي چې خپل زوى ته يې وکړي، نو د هغې سره دې لکه د خپلې لور په شان رويه کوي. ۱۰ که چېرې يو سړى دوهم واده وکړي، نو بايد اولنۍ ښځه د خواړو، کاليو او د واده د حقونو څخه بې برخې نه کړي. ۱۱ که چېرې هغې ته دا درې شيان نه برابروي، بايد ازاده يې کړي او هيڅ بيه دې وانخلي.

## د ظالمانه عملونو په هکله قوانين

۱۲ هرڅوک چې يو بل سړى ووهي او ويې وژني، هغه بايد ووژل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شي. ۱۳ خو که چېرې هغه دا کار په قصد سره نه وي کړی مګر د
خدای له خوا ورته پېښه شي، هغه دې داسې ځای ته وتښتي چې زه
يې ټاکم. ۱۴ مګر که چېرې يو سړی دسيسه جوړه کړي او په قصد
سره بل سړی ووژني حتیٰ که چېرې هغه د خوندي پاتې کېدو دپاره
زما د قربانۍ ځای ته هم وتښتي، بايد ووژل شي.

۱۵ هرڅوک چې خپل پلار يا خپله مور ووهي هغه بايد ووژل
شي.

۱۶ هرڅوک چې يو بل نفر وتښتوي او هغه خرڅ کړي يا تر هغه
وخته پورې ورسره وي چې هغه ونيول شي، هغه بايد ووژل شي.

۱۷ هرڅوک چې خپل پلار يا خپلې مور ته ښکنځلې وکړي، هغه
بايد ووژل شي.

۱۸-۱۹ که چېرې د دوه نفرو ترمنځ جګړه وي او يو نفر بل نفر په
تيږه يا په سوک باندې ووهي خو هغه ونه وژني، نو بايد سزا ورته
ورنه کړای شي. خو که چېرې هغه نفر چې وهل شوی دی بستر شي،
مګر وروسته وکولی شي چې پاڅېږي او د خپلې امسا په کومک سره
بيرون وګرځي، نو کوم سړي چې هغه يې وهلی دی بايد د هغه د
وخت د ضايع کېدلو بيه ورکړي او ترڅو پورې چې هغه روغ شوی
نه وي د هغه د علاج مصرف به ورکوي.

۲۰ که چېرې يو سړی خپل غلام يا غلامه په کوټک باندې ووهي
او هغه غلام ځای په ځای مړ شي، هغه ته بايد سزا ورکړل شي. ۲۱

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مګر که چېرې دا غلام یوه یا دوه ورځې ژوندی پاتې شي نو هغه ته دې سزا نه ورکول کیږي، ځکه چې دا غلام د هغه خپله شتمني ده او د هغه دپاره دا تاوان بس دی.

٢٢ که چېرې ځو نفره سره جګړه کوي او یوه امیدواره ښځه داسې ژوبله کړي چې خپل ماشوم له لاسه ورکړي او بل ځای یې زخمي نه شي، هر یوه چې هغه ژوبله کړې وي نو کومه جریمه چې د هغې ښځې مېړه یې غواړي او قاضیانو ته د تائید وړ وي هغه دې ورکړي.
٢٣ که چېرې په خپله دا ښځه زخمي شي، نو سزا به یې د ژوند په بدل کې ژوند وي، ٢٤ د سترګې په بدل کې سترګه، د غاښ په بدل کې غاښ، د لاس په بدل کې لاس، د پښې په بدل کې پښه، ٢٥ د سوزولو په بدل کې سوزول، د زخم په بدل کې زخم، د وهلو ټکولو په بدل کې وهل ټکول.

٢٦ که چېرې یو څوک خپل غلام یا غلامه په سترګه باندې ووهي او سترګه یې له منځه یوسي، هغه دې غلام د سترګې د تاوان په توګه ازاد کړي. ٢٧ که چېرې هغه د خپل غلام یا غلامې غاښ مات کړي، هغه دې د غاښ د تاوان په توګه هغه غلام ازاد کړي.

## د خاوندانو مسئولیت

٢٨ که چېرې یو غویی یو څوک په ښکر ووهي چې هغه مړ شي، غویی دې سنګسار شي او د هغه غوښه دې ونه خوړل شي. مګر د هغه خاوند ته به سزا نه ورکول کیږي. ٢٩ مګر که چېرې هغه غویي د خلکو د وهلو عادت درلود او خاوند یې ورڅخه خبر ؤ او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه دا غويی تړلی نه وي ساتلی، نو که چېرې هغه يو سړی يا يوه
ښځه داسې ووهي چې مړ شي، نو سنګسار دې شي او د هغه خاوند
دې هم ووژل شي. ۳۰ خو که چېرې خاوند دا اجازه ولري چې د
خپل د ژوند د ژغورلو دپاره تاوان ورکړي، نو هغه بايد پوره بيه
ورکړي. ۳۱ که چېرې هغه غويی د چا زوی يا لور ووهي، همدا
قانون عملي کېږي. ۳۲ که چېرې هغه غويی يو غلام يا غلامه
ووهي، د هغه خاوند بايد دېرش مثقاله سپين زر د غلام بادار ته
ورکړي او غويی بايد سنګسار شي.

۳۳ که چېرې يو سړی يوه کنده لوڅه کړي يا يوه کنده وباسي او
هغه پټه نه کړي او يو غويی يا يو خر په کې وغورزېږي، ۳۴ د
کندې خاوند بايد د حيوان خاوند ته تاوان ورکړي او مړ حيوان به د
کندې د خاوند شي. ۳۵ که چېرې د يو سړي غويی د بل چا غويی
زخمي کړي او هغه مړ شي، هغوی دې ژوندی حيوان خرڅ کړي او
پيسې او مړ حيوان دواړه دې په خپل منځ کې سره مساوي ووېشي.
۳۶ خو که چېرې دا معلومه شي چې هغه غويي د وهلو عادت
درلود او بياهم د هغه خاوند هغه تړلی نه ؤ ساتلی، هغه خاوند بايد د
حيوان په بدل کې حيوان ورکړي او مړ حيوان به د هغه خپل شي.

## د تاوان په هکله قوانين

۲۲ ۱ که چېرې يو سړی يو غويی يا يو پسه غلا کړي او هغه
حلال يا خرڅ کړي، نو هغه بايد د هر غويي په بدل کې پنځه غوايان
او د هر پسه په بدل کې څلور پسونه ورکړي. ۲-۴ څه چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه غلا کړي دي باید د هغه تاوان ورکړي. که چېرې هغه هیڅ شی ونلري، نو د غلام په توګه دې خرڅ شي چې د غلا شوي شي تاوان ورکړي. که غلا شوی حیوان که هغه غویی، یا خر یا پسه وي د هغه سره ژوندی وموندل شي، هغه باید د هغه دوه چنده بیه ورکړي.

که چېرې غل د شپې له خوا کور ته د ننوتلو په وخت کې ونیول شي او هغه ووژل شي نو چا چې هغه وژلی دی هغه د ده د قتل په خاطر مجرم نه دی. خو که دا کار د ورځې له خوا وشي نو هغه به د دې قتل په خاطر مجرم وګڼل شي.

۵ که چېرې یو سړی خپل حیوانات په یو پټي یا د انګورو په باغ کې ځروي او هغه پرېږدي چې وګرځي او د بل سړي په پټي کې وڅرېږي، نو هغه باید د خپل پټي یا د انګورو د باغ ترټولو ښه حاصل په تاوان کې ورکړي.

۶ که چېرې یو څوک په خپل پټي کې اور ولګوي او دا اور د اغزیو په وسیله د بل چا پټي ته خپور شي او د هغه ګېډۍ یا ولاړې غلې دانې وسوزوي، نو هرچا چې اور لګولی وي باید پوره تاوان یې ورکړي.

۷ که چېرې یو سړی بل چاته پیسې یا قیمتي شیان د امانت په توګه ورکړي او هغه د هغه سړي د کور څخه غلا شي، که چېرې غل ونیول شي باید دوه چنده بیه ادا کړي. ۸ مګر که چېرې هغه غل پیدا نه شي، د کور خاوند باید د قاضي په حضور کې ځان حاضر کړي او په دې ځای کې به هغه قسم خوري چې هغه د دې سړي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شتمني نه ده غلا کړې.

٩ فرض کړئ د دوه نفرو ترمنځ د غويي، خره، پسه، کاليو يا نورو شيانو په سر شخړه ده او هر يو وايي چې هغه زما دي. نو دواړه خواوې دې د فيصلې کولو دپاره قاضي ته راشي. نو کوم يو چې د قاضي له طرفه مجرم وګڼل شو، هغه بل نفر ته بايد دوه چنده تاوان ورکړي.

١٠ که چېرې يو سړی خپل خر، غويی، پسه يا کوم بل حيوان بل چاته د امانت په توګه ورکړي او هغه مړ يا زخمي شي يا په داسې وخت کې غلا شي چې هيڅوک يې ونه ويني، ١١ د هغوی ترمنځ به دا شخړه د ښتن په نوم په قسم خوړلو سره حل شي چې هغه سړي د دې بل سړي حيوان نه دی غلا کړی. نو خاوند دې دا ومني او هيڅ تاوان ته اړتيا نشته. ١٢ مګر که چېرې دا حيوان غلا شوی وي، هغه سړی بايد د هغه خاوند ته تاوان ورکړي. ١٣ که چېرې هغه د کوم وحشي حيوان له خوا وژل شوی وي، هغه سړی دې د هغه حيوان د بدن پاتې برخه د ثبوت په ډول د هغه خاوند ته راوړي، نو دا لازمه نه ده چې هغه د وژل شوي حيوان په خاطر تاوان ورکړي.

١٤ که چېرې يو سړی د بل چا څخه يو حيوان په قرض واخلي او هغه په داسې وخت کې زخمي يا مړ شي چې د هغه خاوند حاضر نه وي، هغه يې بايد تاوان ورکړي. ١٥ مګر که چېرې دا پېښه د هغه د خاوند په موجوديت کې وشي، نو د تاوان ورکولو اړتيا نشته. که چېرې دا حيوان په کرايه نيول شوی وي، نو د کرايې پيسې چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خاوند ته يې ورکړل شوې دي د هغه تاوان پوره کوي.

## اخلاقي او مذهبي قوانين

۱۶ که چېرې يو سړی يوه داسې پېغله چې چاته کوژدن شوې نه
وي وغولوي او د هغې سره زنا وکړي، نو هغه بايد مهر ورکړي او د
هغې سره دې واده وکړي. ۱۷ که چېرې د هغې پلار ښځې راضي
نه وي چې خپله لور هغه ته ورکړي، بياهم بايد هغه نفر د پېغلې پلار
ته د ناوې د مهر په اندازه پيسې ورکړي.

۱۸ کوډګره ژوندۍ مه پرېږدئ.

۱۹ هرڅوک چې د يو حيوان سره جنسي اړيکې لري بايد ووژل
شي.

۲۰ هرڅوک چې د ښښتن څخه پرته بل خدای ته قرباني وکړي
بايد له منځه يوړل شي.

۲۱ د يو بېګانه سړي سره بده رويه مه کوئ يا ظلم وربانديې مه
کوئ، ياد ساتئ چې تاسو هم په مصر کې بېګانه وئ. ۲۲ د کونډې
يا يتيم سره بده رويه مه کوئ. ۲۳ که چېرې تاسو داسې وکړئ او
هغوی ماته د مرستې دپاره فرياد وکړي، زه به د هغوی دعا قبوله
کړم. ۲۴ زه به په قهر شم او تاسو به په جنګ کې ووژنم. ستاسو
ښځې به کونډې شي او اولادونه به مو بې پلاره شي.

۲۵ که چېرې تاسو زما د قوم څخه کوم غريب ته پيسې په قرض

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکړئ، د يو قرض ورکوونکي په شان عمل ورسره مه کوئ او هغه
مه مجبوروئ چې سود درکړي. ۲۶ که چېرې تاسو د يو چا چپنه
په ګرو واخلئ، بايد هغه د لمرپرېواته څخه مخکې بېرته ورکړئ.
۲۷ ځکه چې دا د هغه يوازينی لباس دی چې هغه ورباندې تود
وي. کېدای شي چې د هغه سره بل داسې شی نه وي چې هغه په کې
ويده شي. که چېرې هغه ماته د مرستې دپاره فرياد وکړي، زه به د
هغه دعا قبوله کړم ځکه چې زه رحيم يم.

۲۸ د خدای پاک په باره کې بدې خبرې مه کوئ او نه د خپل قوم
کوم مشر ته ښېرا کوئ.

۲۹ د خپلو غلو دانو، د انګورو د شربتونو او زيتونو د تېلو د نذرانو
په ورکولو کې ځنډ مه کوئ.

تاسو بايد خپل مشران زامن ماته وقف کړئ. ۳۰ د خپلو غواګانو او
پسونو اولني زېږېدل شوي بچي ماته راکړئ. پرېږدئ چې اولني
زېږېدل شوي نران بچي د خپلو مورګانو سره اووه ورځې پاتې شي
او په اتمه ورځ يې ماته راکړئ.

۳۱ تاسو بايد زما مقدس قوم اوسئ. نو د داسې حيوان غوښه مه
خورئ چې وحشي حيواناتو داړلی وي. هغه سپيو ته واچوئ.

## عدالت او انصاف

۲۳ ۱ د درواغو خبر مه خپروئ. د درواغو په شاهدۍ ورکولو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره د بدکاره سړي سره مرسته مه کوئ. ۲ په بد کار کې د
اکثريت څخه پيروي مه کوئ. کله چې تاسو په يوه دعوه کې شاهدي
ورکوئ، د اکثريت څخه په پلوي کولو سره عدالت تر پښو لاندې
کوئ مه. ۳ د يو غريب سړي په محاکمه کې په دې خاطر چې
هغه غريب دی د هغه طرفداري مه کوئ.

۴ که چېرې تاسو يوناڅاپه د خپل دښمن غويی يا خر ووينئ
چې لار يې غلطه کړې ده، هغه بېرته ورولئ. ۵ که چېرې تاسو
وليدل چې ستاسو د دښمن خر د بار لاندې پرېوتی دی، هغه هلته مه
پرېږدئ، د هغه سره مرسته وکړئ چې خر يې بېرته پاڅېږي.

۶ په محکمه کې د غريب سره بې انصافي مه کوئ. ۷ په
درواغو تهمت مه لګوئ او د يو بې ګناه يا صادق سړي د مړينې سبب
کېږئ مه. ځکه چې زه به ګناهکار ونه بخښم. ۸ رشوت مه اخلئ،
ځکه چې رشوت بينا خلک ړندوي او د بې ګناه خلکو حق ورباندې
تر پښو لاندې کيږي.

۹ په يو مسافر سړي باندې تيری مه کوئ. ځکه چې تاسو خپله
په مصر کې مسافران وئ او د مسافرانو د حال څخه خبر يئ.

## د سبت قوانين

۱۰ تاسو بايد شپږ کاله خپلې ځمکې وکرئ او حاصل يې ورېبئ.
۱۱ مګر په اووم کال هغه ځمکه شاړه پرېږدئ او څه شی چې په
کې شنه شوي وي هغه ورڅخه مه رېبئ. څه چې په کې پاتې وي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه به غریبان خلک او وحشي حیوانات وخوري. خپل د انګورو باغونو او د زیتونو د ونو د باغونو سره همداسې کار وکړئ.

۱۲ په هفته کې شپږ ورځې خپل کار وکړئ، مګر په اوومه ورځ کار مه کوئ ترڅو ستاسو غلامان او بېګانه خلک چې ستاسو دپاره کار کوي او حتیٰ ستاسو حیوانات هم وکولی شي ارام وکړي.

۱۳ هرڅه چې ما ښبنتن درته ویلي دي په هغو باندې عمل کوئ. د نورو خدایانو په نوم دعا مه کوئ، حتیٰ د هغوی نومونه په ژبه هم مه اخلئ.

## درې لوی اخترونه

(هجرت ۳۴: ۱۸ – ۲۶ او تثنیه ۱۶: ۱ – ۱۷)

۱۴ زما د احترام په خاطر په کال کې درې ځله اخترونه کوئ،
۱۵ اول د فطیرې ډوډۍ اختر. لکه څنګه چې ما درباندې امر کړی دی اووه ورځې فطیره ډوډۍ وخورئ. دا کار د ابیب په میاشت کې وکړئ، ځکه چې په دې میاشت کې تاسو له مصر څخه راووتلئ. په دې اختر کې دې هیڅوک زما حضور ته خالي لاس نه راځي.

۱۶ تاسو د لو کولو اختر د خپلو اولنیو حاصلاتو سره چې په خپلو پټیو کې مو کرلي دي ولمانځئ.

د کال په آخر کې د حاصل د راټولولو اختر ولمانځئ، یعنې کله چې تاسو د پټیو څخه حاصل راټولوئ. ۱۷ هر کال باید په دغو درېو
اخترونو کې ستاسو ټول نارینه زما یعنې ستاسو د ښبنتن خدای د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عبادت دپاره راشي.

۱۸ کله چې تاسو ماته يو حيوان قرباني کوئ، د هغه سره خميره ډوډۍ مه وړاندې کوئ. هغه حيوانات چې په دغو اخترونو کې ماته قرباني کيږي، د هغې وازګه بايد تر سهاره پورې پاتې نه شي.

۱۹ هر کال د خپل ښبنتن خدای کور ته د خپل اولني حاصل ډيرې ښې غلې دانې راوړئ.

يو سېرلی د خپلې مور په شيدو کې مه پخوئ.

## وعدې او لارښوونې

۲۰ ګورئ، زه ستاسو مخې ته يوه فرښته درلېږم چې په لاره کې ستاسو ساتنه وکړي او هغه ځای ته مو راولي چې ستاسو دپاره مې تيار کړی دی. ۲۱ هرڅه چې هغه فرښته فرمايي په غور سره ورڅخه اطاعت وکړئ. د هغې په مقابل کې سرکشي مه کوئ، هغه به ستاسو سرکشي ونه بخښي، ځکه چې پوره اختيار مې ورته ورکړی دی. ۲۲ که چېرې تاسو په غور سره د هغې خبرو ته غوږ ونيسئ او زما ټولې خبرې ومنئ، زه به ستاسو د دښمنانو دښمن شم او زه به د هغه چا په خلاف شم څوک چې ستاسو په خلاف وي. ۲۳ زما فرښته به ستاسو په مخکې روانه وي او تاسو به د اموريانو، حيتيانو، فرزيانو، کنعانيانو، حويانو او يبوسيانو خاورې ته بوځي او زه به هغوی ټول له منځه يوسم. ۲۴ د هغوی خدايانو ته سجده يا عبادت مه کوئ او د هغوی د رواجونو څخه پيروي مه کوئ. د هغوی بتان له

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

منځه یوسئ او هغه لویې تیږې چې د هغوی د عبادت دپاره
استعمالیږي ټوټې ټوټې کړئ. ۲۵ که چېرې تاسو زما یعنې د خپل
څښتن خدای عبادت وکړئ نو زه به ستاسو په خوراک او اوبو کې
برکت واچوم او ستاسو ټولې ناروغۍ به لېرې کړم. ۲۶ ستاسو په
خاوره کې به هیڅ یوه ښځه خپل اولاد نقصان نه کړي او نه به شنډه
شي. زه به تاسو ته اوږده عمرونه درکړم.

۲۷ زه به په هغو قومونو باندې سخته وېره راولم او ستاسو دښمنان
به دومره وارخطا کړم چې درڅخه وتښتي. ۲۸ زه به ستاسو په
دښمنانو کې سخته وېره پیدا کړم او حویان، کنعانیان او حیتیان به
ستاسو له مخې څخه لېرې کړم. ۲۹ مګر زه به هغوی په یو کال کې
ونه باسم، ځکه چې ځمکه به ویجاړه پاتې شي او وحشي حیوانات
به ډېر زیات شي. ۳۰ بلکه هغوی به لږ لږ شړم ترڅو تاسو دومره
ډېر شئ چې هغه خاوره ونیسئ. ۳۱ زه به ستاسو د خاورې
سرحدونه د سرې بحیرې څخه نیولې د مدیترانې تر بحیرې پورې او
د دښتې څخه نیولې د فرات تر سینده پورې وغزوم. زه به ستاسو
سره مرسته وکړم چې هغو خلکو ته چې اوس په دې خاوره کې
اوسیږي ماتې ورکړئ او هغوی به وشړئ. ۳۲ د هغوی یا د هغوی
د خدایانو سره هیڅ قسم تړون مه کوئ. ۳۳ هغوی مه پرېږدئ چې
ستاسو په هېواد کې واوسیږي. که چېرې تاسو هغوی پرېږدئ، هغوی
به تاسو زما په مقابل کې په ګناه کولو باندې مجبور کړي. که چېرې
تاسو د هغوی د خدایانو عبادت وکړئ، نو دا به ستاسو دپاره یو
وژونکی دام وي.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۲۴

۱ ښبنتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <ته، هارون،
ناداب، ابیهو او د اسراییلو اویا مشران ماته غره ته راوخېژئ او له
لیرې فاصلې څخه راته سجده وکړئ. ۲ یوازې ته ماته نژدې
راشه او نور دې راته نژدې نه راځي. د اسراییلو د قوم د نورو خلکو
څخه دې هیڅوک هم غره ته نه راخېژي.>

۳ کله چې حضرت موسیٰ راغی او خلکو ته یې د ښبنتن ټولې
خبرې او قوانین اعلان کړل، هغوی په یو اواز په ځواب کې وویل:
<مونږ به د ښبنتن په هره خبره باندې عمل کوو.> ۴ حضرت
موسیٰ د ښبنتن ټول امرونه ولیکل. هغه سهار وختي پاڅېد او د غره
په لمنه کې یې د قربانۍ ځای جوړ کړ او هلته یې دولس تیږې چې د
اسراییلو د دولسو قبیلو نمایندګي یې کوله ودرولې. ۵ بیا
حضرت موسیٰ اسراییلي ځینې ځوانان ولیږل او هغوی سوزېدونکې
نذرانې او ځینې غوایان د سلامتۍ د نذرانې په توګه ښبنتن ته قربانې
کړل. ۶ حضرت موسیٰ نیمه وینه راواخیستله او په لګنونو کې یې
واچوله او نیمه یې په قربانګاه باندې وشیندله. ۷ بیا هغه د لوظ
کتاب راواخیست او خلکو ته یې په لوړ اواز سره ولوست. هغوی
وویل: <مونږ به د ښبنتن اطاعت کوو او د هغه په ټولو امرونو باندې
به عمل کوو.>

۸ بیا حضرت موسیٰ هغه وینه چې په لګنونو کې وه راواخیستله
او په خلکو باندې یې وشیندله. هغه وفرمایل: <دا د هغه لوظ وینه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ده چې څښتن د دغو ټولو حکمونو په مطابق له تاسو سره کړی
دی.>

۹ حضرت موسیٰ د حضرت هارون، ناداب، ابيهو او د اسراييلو د
اويا مشرانو سره غره ته وخوت ۱۰ او د اسراييلو خدای يې وليد. د
هغه د پښو لاندې د شين ياقوت د فرش په شان يو څه ښکاره کېدل
چې د اسمان په شان شنه وو. ۱۱ که څه هم د اسراييلو دغو
مشرانو خدای پاک وليد، خو هغه ورته زيان ونه رساوه. بيا هغوی
وخوړل او ويې څښل.

## حضرت موسیٰ د سينا په غره کې

۱۲ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: <ماته د غره سرته
راوخېژه او دلته پاتې شه. زه به تاته د تيږو لوحې چې په هغو باندې
مې د خلکو د لارښودنې دپاره حکمونه ليکلي دي درکړم.> ۱۳
حضرت موسیٰ او د هغه مرستيال يعنې يوشع تيار شول او حضرت
موسیٰ مقدس غره ته ورپورته شو. ۱۴ حضرت موسیٰ مشرانو ته
وفرمايل: <تاسو دلته انتظار وباسئ، ترڅو مونږ بېرته راشو. حضرت
هارون او حور ستاسو سره دي او هرڅوک چې کومه مسئله لري
هغوی ته دې ورشي.>

۱۵ کله چې حضرت موسیٰ غره ته پورته شو، ورېځو غر پټ کړ
۱۶ او د څښتن جلال د سينا په غره باندې خپور شو. غر شپږ
ورځې په ورېځو کې پټ ؤ او په اوومه ورځ څښتن له ورېځو څخه
حضرت موسیٰ ته غږ وکړ. ۱۷ د څښتن جلال اسراييليانو ته داسې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښکارېده لکه د غره په سر باندې چې اور بل وي. ۱۸ کله چې
حضرت موسیٰ غره ته ورپورته شو، هغه په ورېځو کې ورننوت او
څلوېښت ورځې او څلوېښت شپې په غره کې پاتې شو.

## د مقدسې خېمې دپاره نذرانې

(هجرت ۳۵: ۴ – ۹)

**۲۵** ۱ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۲ <اسراييليانو
ته ووايه چې ماته يوه نذرانه راوړي. ته بايد زما دپاره د هغه چا
څخه نذرانه واخلې چې زړه يې غواړي ورېې کړي. ۳ دا هغه
نذرانې دي چې ته يې بايد د هغوی څخه واخلې: سره زر، سپين زر
او برنج، ۴ ښه کتان، آبي، بانجاني او سرې وړی، هغه ټوکر چې د
وزو د وړيو څخه جوړ شوی وي، ۵ سره رنګ شوي د پسه
پوستکي، ښه څرمن، د غز لرګی، ۶ د څراغونو دپاره د زيتون
تېل، د مسح کولو د تېلو او د خوشبويی دپاره مسالې، ۷ سليماني
تيږې او نورې قيمتي تيږې چې د مشر کاهن په مقدس پېشبند او د
هغه په سينه پوښ باندې ولګول شي. ۸ بيا په خلکو باندې زما
دپاره يوه مقدسه خېمه جوړه کړه ترڅو وکولی شم د هغوی په منځ
کې واوسېږم. ۹ دا خېمه او د هغې ټول سامان کټ مټ د هغې
نقشې په مطابق جوړ کړه چې زه يې درته ښايم.

## د لوظ صندوق

(هجرت ۳۷: ۱ – ۹)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ په هغوی باندې د غز د لرګي څخه يو صندوق جوړ کړه چې
يو متر او لس سانتي اوږد وي، پنځه شپېته سانتي پلن وي او پنځه
شپېته سانتي لوړ وي. ۱۱ د هغه منځنی او بيرونی برخې ته د
سوچه سرو زرو پوښ ورکړه او ګردچاپېره څنډې يې د سرو زرو
څخه جوړې کړه. ۱۲ د هغه دپاره څلور د سرو زرو کړۍ ګانې
جوړې کړه او هغه په څلورو پايو باندې وتړه، يعنې دوه کړۍ ګانې په
يو خوا او دوه په بلې خوا. ۱۳ د صندوق د وړلو دپاره د غز د
لرګي څخه دوه ميلې جوړې کړه او د سرو زرو پوښ ورته ورکړه.
۱۴ هغه ميلې هغو کړيو ته چې د صندوق په څنګونو کې دي
ورننباسه ترڅو صندوق ورباندې يوړل شي. ۱۵ ميلې دې په کړيو
کې پاتې شي او هغه بايد راونه ايستل شي. ۱۶ بيا به د تيږو هغه
دوه لوحې چې حکمونه ورباندې ليکل شوي دي درکړم چې هغه په
صندوق کې کېږدې.

۱۷ د صندوق سرپوښ چې کفاره ورباندې ادا کيږي د سوچه سرو
زرو څخه جوړ کړه چې يو متر او لس سانتي اوږد وي او پنځه شپېته
سانتي پلن وي. ۱۸ د سرپوښ په سرونو کې د ټکول شويو سرو
زرو څخه دوه کروبيان جوړ کړه. ۱۹ يو کروب په يو سر او دوهم
کروب په بل سر کې جوړ کړه. په دوو سرونو کې د سرپوښ سره
کروبيان د سرو زرو د يوې ټوټې څخه جوړ کړه. ۲۰ د کروبيانو
وزرونه دې پورته خپاره شوي وي چې په سرپوښ باندې سيورى
وکړي. کروبيان دې يو بل ته مخامخ وي او د سرپوښ خواته دې
ګوري. ۲۱ په صندوق کې د تيږو دوه لوحې کېږده او هغه سرپوښ
د صندوق دپاسه کېږده. ۲۲ زه به د سرپوښ دپاسه د دوو کروبيانو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترمنځ چې د لوظ په صندوق باندې دي ستا سره ليدنه کتنه وکړم او د
اسراييلو د قوم دپاره به خپل ټول حکمونه درکړم.

## د مقدسې ډوډۍ دپاره مېز

(هجرت ۳۷: ۱۰ – ۱۶)

۲۳ د غز د لرګي څخه يو داسې مېز جوړ کړه چې نوي سانتي اوږد
وي، پنځه څلوېښت سانتي پلن وي او پنځه شپېته سانتي لوړ وي.
۲۴ هغه ته د سوچه سرو زرو پوښ ورکړه او د هغه ګردچاپېره
څنډې د سرو زرو څخه جوړې کړه. ۲۵ همدارنګه د هغه
ګردچاپېره يو چوکاټ جوړ کړه چې پراخوالی يې پنځه اويا ملي متره
وي او په چوکاټ باندې د سرو زرو څنډې جوړې کړه. ۲۶ د مېز
دپاره څلور د سرو زرو کړۍ ګانې جوړې کړه او په هغو څلورو
کنجونو کې چېرته چې څلور پايې دي وتړه. ۲۷ کړۍ ګانې دې
چوکاټ ته نژدې وي، د دې دپاره چې هغه میلې ونيسي چې د مېز
په وړلو کې ورڅخه کار اخيستل کيږي. ۲۸ د غز د لرګي څخه
ميلې جوړې کړه، د سرو زرو پوښ ورته ورکړه او مېز وربانډې وړئ.
۲۹ ټولې کاسې، قابونه او د څښلو د نذرانو دپاره منګي او جامونه
دې د سوچه سرو زرو څخه جوړ شي. ۳۰ مېز بايد د لوظ د
صندوق مخې ته کېښودل شي او په هغه باندې دې همېشه هغه
مقدسه ډوډۍ چې ماته نذرانه کيږي پرته وي.

## څراغدان

(هجرت ۳۷: ۱۷ – ۲۴)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۱ د سوچه سرو زرو څخه يو څراغدان جوړ کړه او د هغه پايه او
ميله، د هغه د پيالو په شان ګلان، غوټۍګاني او ګلپاڼې د ټکول شويو
سرو زرو څخه جوړ کړه چې ټول د يوې ټوټې سرو زرو څخه جوړ
شوي وي. ۳۲ شپږ څانګې دې د څراغدان د څنګونو څخه
غزېدلې وي يعني درې د يو څنګ څخه او درې د بل څخه. ۳۳
درې پيالې چې شکل يې د بادام د ګل په شان دی، د غوټيو او ګلپاڼو
سره بايد په يوې څانګې باندې وي، درې په بلې څانګې باندې او
همدا ډول د شپږو واړو څانګو دپاره چې د څراغدان څخه غزيږي.
۳۴ په خپله په څراغدان باندې دې څلور د بادام د ګل په شان
پيالې وي، د غوټۍګانو او ګلپاڼو سره. ۳۵ يوه غوټۍ به د څانګو د
اولې جوړې لاندې وي چې د څراغدان څخه غزيږي، دوهمه غوټۍ
د دوهمې جوړې لاندې او دريمه غوټۍ د دريمې جوړې لاندې يعنې
ټولې شپږ څانګې. ۳۶ غوټۍګانې، څانګې او څراغدان دې د ټکول
شويو سوچه سرو زرو د يوې ټوټې څخه وي. ۳۷ د څراغدان
دپاره اووه څراغونه جوړ کړه او ويې دروه ترڅو مخې ته رڼا ورکړي.
۳۸ د هغه پلته پاکوونکي او پتنوسونه دې د سوچه سرو زرو وي.
۳۹ د څراغدان او د هغه د ټول سامان په جوړولو کې د
څلوردېرشو کيلوګرامه سوچه سرو زرو څخه کار واخله. ۴۰ دې
خبرې ته پام وکړه چې دا د هغې نقشې په مطابق جوړ کړې چې ما
درته په غره باندې دروښودله.

## مقدسه خېمه

(هجرت ۳۶: ۸ – ۳۸)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۶ ﴿۱﴾ د لسو داسې پردو څخه يوه مقدسه خېمه جوړه کړه چې
د ښه کتان او د آبي، بانجاني او سرو وړيو څخه وي او په پردو کې
يې د کروبيانو نقش ګلدوزي شوی وي. ﴿۲﴾ د ټولو پردو اندازه دې
يوشان وي، دولس متره دې اوږدې او دوه متره دې پلنې وي. ﴿۳﴾
د دې پردو څخه پنځه په يوه جوړه کې سره يوځای کړه او بيا نورې
پنځه پردې په دوهمه جوړه کې. ﴿۴﴾ په هره جوړه کې د بيرونۍ
پردې په څنډه باندې د آبي رنګه ټوټې کړۍ ګانې جوړې کړه. ﴿۵﴾
پنځوس کړۍ ګانې په يوې پردې باندې او پنځوس د بلې جوړې په
اخرنۍ پردې باندې جوړې کړه چې دا کړۍ ګانې يو بل ته مخامخ
وي. ﴿۶﴾ بيا د سرو زرو پنځوس چنګکونه جوړ کړه او د پردو په
يوځای ترلو کې ورڅخه کار واخله ترڅو ټوله يوه خېمه ورڅخه
جوړه شي.

﴿۷﴾ د خېمې د پټولو دپاره د وزو د وړيو څخه پردې جوړې کړه.
ټولې دې يوولس دانې وي. ﴿۸﴾ يوولس واړه پردې دې په يوه
اندازه وي، يعنې ديارلس متره دې اوږدې او دوه متره دې پلنې وي.
﴿۹﴾ پنځه پردې په يوه جوړه کې يو تر بله سره وګنډه او نورې شپږ
په بله جوړه کې. شپږمه پرده د خېمې په مخکينۍ برخه کې سره
غبرګه کړه. ﴿۱۰﴾ پنځوس کړۍ ګانې د يوې جوړې د اخرنۍ پردې په
څنډه کې او پنځوس د بلې جوړې د اخرنۍ پردې په څنډه کې
جوړې کړه. ﴿۱۱﴾ بيا د برنجو پنځوس چنګکونه جوړ کړه او په کړيو
کې يې واچوه چې خېمه سره ونښلوي. ﴿۱۲﴾ د دې پردو اضافه نيمه
برخه دې د خېمې شاته ځوړنده شي. ﴿۱۳﴾ د پردې دواړو خواو ته
چې نيم متر زيات شوی دی هغه به راځوړند وي چې خېمه ورباندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پټه شي. ۱۴ د خېمې دپاره د پسه د داسې پوستکي څخه پوښ
جوړ کړه چې سور رنګ ورکړل شوی وي او په هغه باندې د شنې
څرمنې څخه يو پوښ جوړ کړه.

۱۵ د خېمې دپاره د غز د لرګي څخه ولاړ چوکاټونه جوړ کړه.
۱۶ هر چوکاټ دې څلورنيم متره اوږد او پنځه شپېته سانتي پلن
وي ۱۷ او بايد دوه يوشان نښلوونکې تختې ولري، ترڅو چوکاټونه
سره يوځای شي. ټول چوکاټونه دې دا تختې ولري. ۱۸ د خېمې د
جنوب خوا دپاره شل چوکاټونه جوړ کړه ۱۹ او څلوېښت د سپينو
زرو پايې چې ورلاندې شي، د هر چوکاټ لاندې دې دوه دوه پايې
وي د دې دپاره چې دوه تختې يې ونيسي. ۲۰ د خېمې د شمال
خوا دپاره شل چوکاټونه جوړ کړه ۲۱ او څلوېښت د سپينو زرو
پايې جوړې کړه چې د هر چوکاټ لاندې دوه دوه وي. ۲۲ د
خېمې د شا دپاره چې د لوېديځ خواته ده، شپږ چوکاټونه جوړ کړه
۲۳ او دوه چوکاټونه د خېمې شاته کنجونو دپاره جوړ کړه. ۲۴
دا چوکاټونه بايد په دغو دوو کنجونو کې د ښخ څخه نيولې تر سره
پورې سره غبرګ کړای شي او په يوې کړۍ کې ولګول شي. دا دواړه
کنجونه دې په همدې شان وي. ۲۵ نو اته چوکاټونه او شپاړس د
سپينو زرو پايې به وي، د هر چوکاټ لاندې به دوه دوه وي.

۲۶ د غز د لرګي څخه پنځلس اړمونه جوړ کړه، پنځه د هغو
چوکاټونو دپاره جوړ کړه چې د خېمې په يوې خوا باندې دي. ۲۷
پنځه د هغو چوکاټونو دپاره چې په بلې خوا باندې دي او پنځه د
هغو چوکاټونو دپاره چې شاته د لوېديځ خواته په آخر سر کې دي.
۲۸ منځنی اړم دې د چوکاټونو تر نيمايي پورې کېښودل شي او د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خېمې له يو سر څخه دې تر بل سره پورې وغزيږي. ۲۹ چوکاټونو
ته د سرو زرو پوښ ورکړه او په هغو باندې د سرو زرو کړۍ ګانې
ولګوه چې اړمونه ونيسي او هغو ته هم بايد د سرو زرو پوښ ورکړل
شي. ۳۰ خېمه د هغې نقشې په مطابق جوړه کړه چې ما په غره
باندې درته دروښودله.

۳۱ د آبي، بانجاني او سرو وړيو او د ښه کتان څخه يوه پرده جوړه
کړه چې د کروبيانو داسې نقش په کې وي چې ګلدوزي شوی وي.
۳۲ د غز د لرګي په څلورو ستنو باندې چې د سرو زرو پوښ ورته
ورکړل شوی وي او د سپينو زرو په څلورو پايو باندې ولاړې دي،
پرده د سرو زرو په چنګکونو باندې راځوړنده کړه. ۳۳ پرده د
چنګکونو څخه راځوړنده کړه او د پردې شاته د لوظ صندوق چې
دوه د تيږو لوحې په کې دي کېږده. دا پرده به مقدس ځای د ډېر
مقدس ځای څخه جلا کړي. ۳۴ د لوظ په صندوق باندې چې په
ډېر مقدس ځای کې پروت دی سرپوښ کېږده. ۳۵ هغه مېز د
پردې څخه دباندې د خېمې شمال خواته کېږده او څراغدان ورته
مخامخ جنوب خواته کېږده.

۳۶ د خېمې د دروازې دپاره د آبي، بانجاني او سرو وړيو او د ښه
کتان څخه يوه پرده جوړه کړه چې ګلدوزي په کې شوې وي. ۳۷
د دغې پردې دپاره د سرو زرو چنګکونه جوړ کړه او د غز د لرګي
څخه پنځه داسې ستنې جوړې کړه چې د سرو زرو پوښ ورته
ورکړل شوی وي. د هغو دپاره پنځه برنجي پايې جوړې کړه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د قربانۍ ځای

(هجرت ۳۸: ۱ – ۷)

۲۷ (۱) د غز د لرګي څخه د قربانۍ يو ځای جوړ کړه چې يو
متر او دېرش سانتي لوړ وي. هغه دې څلور کنجه وي، دوه متره او
شل سانتي دې اوږد وي او دوه متره او شل سانتي دې پلن وي. (۲)
د څلورو کنجونو دپاسه برجونه جوړ کړه ترڅو برجونه او قربانګاه
ټول د يوې ټوټې لرګي څخه جوړ شي او ټولو ته دې د برنجو پوښ
ورکړل شي. (۳) د هغه ټول سامان د برنجو څخه جوړ کړه يعنې د
ايرو د لېږې کولو لوښي او د هغه بېلچې، د وينې د شيندلو کاسې، د
غوښې قاشق پنجې او د اور لوښي. (۴) يوه د برنجو جالۍ جوړه
کړه او د هغې په څلورو کنجونو باندې څلور د برنجو کړۍ ګانې
ولګوه. (۵) دا جالۍ د قربانۍ د ځای د څنډې لاندې کېږده ترڅو د
قربانګاه تر نيمايي پورې ورسېږي. (۶) د غز د لرګي څخه د وړلو
ميلې جوړې کړه او د برنجو پوښ ورته ورکړه (۷) او د وړلو په
وخت کې يې د قربانۍ د ځای د دواړو اړخونو په کړيو کې ولګوه.
(۸) د هغې نقشې په مطابق چې ما درته په غره باندې دروښودله، د
قربانۍ ځای د تختو څخه جوړ کړه او تش يې پرېږده.

## د مقدسې خيمې حويلۍ

(هجرت ۳۸: ۹ – ۲۰)

(۹) د ښه کتان د پردو څخه د مقدسې خيمې دپاره يوه حويلۍ
جوړه کړه چې جنوب خوا يې پنځه څلوېښت متره اوږده وي. (۱۰)
هغه دې د برنجو په شلو پايو کې د شلو برنجي ستنو په وسيله د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چنګکونو او سیخونو سره چې د سپینو زرو څخه جوړ شوي دي
ټینګه شي. ۱۱ د حویلۍ شمال خوا دې هم همداسې جوړه شي.
۱۲ د حویلۍ لوېدیځې خواته به دوه ویشت متره اوږدې پردې وي
د لسو ستنو او پایو سره. ۱۳ ختیځې خواته یعنې په هغه ځای کې
چې د ننوتلو دروازه ده، هم باید حویلۍ دوه ویشت متره پلنه وي.
۱۴-۱۵ د دروازې دواړو خواو ته دې د درې ستنو او پایو سره
اووه متره پردې وي. ۱۶ د حویلۍ د دروازې دپاره دې یوه داسې
پرده وي چې نهه متره اوږده وي. هغه دې د آبي، بانجاني او سرو
وړیو او د ښه کتان څخه جوړه وي او د ګلدوزۍ کار دې په کې
وشي. هغه دې د څلورو ستنو او څلورو پایو په وسیله ټینګه کړای
شي. ۱۷ ټولې ستنې چې د حویلۍ ګردچاپېره دي، د سپینو زرو د
سیخونو سره دې ونښلول شي او چنګکونه یې باید د سپینو زرو
څخه جوړ شي او پایې یې د برنجو څخه. ۱۸ حویلۍ دې پنځه
څلوېښت متره اوږده او دوه ویشت متره پلنه وي. پردې دې د ښه
کتان څخه جوړې شي چې دوه متره او شل سانتي لوړې وي او د
برنجو پایې به هم ورسره وي. ۱۹ نور ټول سامان چې په خېمې
کې ورڅخه کار اخیستل کېږي او هغه ټول مېخونه چې د خېمې او
حویلۍ دپاره دي، هغه دې د برنجو څخه جوړ شوي وي.

## د څراغونو دپاره تېل

(لاویان ۲۴: ۱ – ۴)

۲۰ په اسراییلیانو باندې امر وکړه چې د ړنا دپاره د زیتونو سوچه
تېل راوړي ترڅو څراغونه بل وساتل شي. ۲۱ په مقدسه خېمه کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغې پردې څخه دباندې چې د لوظ د صندوق په مخ کې ده،
هارون او د هغه زامن دې دا څراغونه د ماښام څخه نيولې تر سهاره
پورې د څښتن په حضور کې بل وساتي. اسراييليان او د هغو اولاده
دې د تل دپاره په دې حکم باندې عمل کوي.

## د کاهنانو دپاره لباس

(هجرت ۳۹: ۱ – ۷)

۲۸ ۱ خپل ورور هارون او د هغه زامن ناداب، ابيهو، العازار او
ايتامار راوغواړه. هغوی د اسراييلو د خلکو څخه جلا کړه ترڅو د
کاهنانو په توګه زما خدمت وکړي. ۲ خپل ورور هارون دپاره
خاص لباس جوړ کړه، ترڅو هغه ته عزت او ښکلا وروبخښي. ۳
ټولو هغو ماهرو خلکو ته چې ما ورته په داسې کارونو کې توان
ورکړی دی ووايه چې د هارون دپاره لباس جوړ کړي، ترڅو هغه د
کاهن په توګه زما خدمت ته وقف شي. ۴ هغه لباس چې هغوی
يې بايد جوړ کړي: سينه پوښ، مقدس پېشبند، چپنه، اوبدل شوی
کميس، لونګۍ او يوه پټۍ. هغوی دې دا خاص لباس ستا ورور
هارون او د هغه د زامنو دپاره جوړ کړي، ترڅو هغوی وکولی شي
چې د کاهنانو په توګه زما خدمت وکړي. ۵ هغه ماهر نفر دې د
آبي، بانجاني او سرو وړيو، د سرو زرو د تار او د ښه کتان څخه کار
واخلي.

۶ د سرو زرو تار او د آبي، بانجاني او سرو وړيو او د ښه کتان
څخه مقدس پېشبند جوړ کړه، په دې کې دې ګلدوزي وشي. ۷

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مقدس پېشبند دې د اوږې دوه تسمې ولرې چې د هغه په دواړو
خواو باندې ونښلول شي چې پېشبند ورسره وتړل شي. ۸ ښه
اوبدل شوی کمربند چې د همدغه شان موادو څخه جوړ شي، هغه
دې د مقدس پېشبند سره ونښلول شي چې د يوې ټوټې په شان
ښکاره شي. ۹ دوه سليماني تيږې واخله او د يعقوب د زامنو د
نومونو نقش ورباندې وباسه، ۱۰ يعنې د هغوی د عمر په ترتيب،
شپږ نومونه په يوه تيږه باندې او پاتې شپږ په بله تيږه باندې. ۱۱ د
يعقوب د زامنو د نومونو نقش په دوو تيږو باندې داسې وباسه لکه
څنګه چې د غمې جوړوونکی د يو مهر نقش وباسي. بيا تيږې په
هغو ځايونو کې ولګوه چې د سرو زرو د قابونو په شان جوړ شوي
دي. ۱۲ هغه تيږې د مقدس پېشبند د اوږې په تسمو باندې ولګوه
چې د اسراييلو د دولسو قبيلو استازيتوب وکړي. په دې ډول به
هارون د هغوی نومونه په خپلو اوږو باندې انتقالوي، ترڅو زه څښتن
تل خپل قوم په ياد وساتم. ۱۳ د سرو زرو د قابونو په شان دوه
ځايونه جوړ کړه ۱۴ او دوه د سوچه سرو زرو تاو شوي ځنځيرونه
د يوې رسۍ په شان جوړ کړه او په هغو ځايونو کې يې ولګوه.

## سينه پوښ

(هجرت ۳۹: ۸ – ۲۱)

۱۵ د مشر کاهن دپاره سينه پوښ جوړ کړه چې د خدای پاک د
رضا د معلومولو دپاره ورڅخه کار واخلي. هغه دې د هماغو موادو
څخه جوړ شي چې مقدس پېشبند ورڅخه جوړ شوی دی او
هماغسې ګلدوزي دې په کې وشي. ۱۶ هغه دې څلور کنجه وي،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دوه ویشت سانتي دې اوږد وي او دوه ویشت سانتي دې پلن وي او
دوه قاته دې وي. ۱۷ بیا په هغه باندې څلور قطاره قیمتي تیږې
ولګوه. په اول قطار کې یو یاقوت، یو ژیړ یاقوت او یو لعل ولګوه.
۱۸ په دوهم قطار کې یو زمروت، یو شین یاقوت او یو الماس
ولګوه. ۱۹ په دریم قطار کې یوه فیروزه، یو عقیق او یو ارغواني
یاقوت ولګوه ۲۰ او په څلورم قطار کې یو شینکی یاقوت، یوه
سلیماني تیږه او یو یشم ولګوه. هغه دې په داسې ځایونو کې ولګول
شي چې د سرو زرو د قابونو په شان جوړ شوي دي. ۲۱ دولس
تیږې دې وي، د یعقوب د زامنو د هر نوم دپاره یوه یوه تیږه. په هرې
یوې کې دې د یو مهر په شان نقش وایستل شي او د دولسو قبیلو
څخه دې د یوې قبیلې نوم په کې وي. ۲۲ د سینه پوښ دپاره د
سوچه سرو زرو څخه داسې ځنځیرونه جوړ کړه چې د یوې رسۍ په
شان تاو شوي وي. ۲۳ دوه د سرو زرو کړۍ ګانې جوړې کړه او د
سینه پوښ په پورتنیو کنجونو یې ونښلوه ۲۴ او په دغو دوو کړیو
باندې دوه د سرو زرو ځنځیرونه وتړه. ۲۵ د ځنځیرونو دوه نور
سرونه د هغو ځایونو پورې وتړه چې د سرو زرو څخه جوړ شویو
قابونو په شان دي او په دې ډول یې د مقدس پېشبند د اوږې د تسمو
په مخکینۍ برخې باندې ونښلوه. ۲۶ بیا د سرو زرو دوه کړۍ ګانې
جوړې کړه او د سینه پوښ په لاندینیو کنجونو پورې یې ونښلوه. هغه
دې په دننۍ څنډې باندې د مقدس پېشبند په څنګ کې وي. ۲۷
دوه نورې کړۍ ګانې جوړې کړه او د اوږې د تسمو په لاندینۍ برخه
کې یې ونښلوه چې د مقدس پېشبند په مخکینۍ برخې باندې بخۍ ته
نژدې او د مقدس پېشبند د کمربند دپاسه دي. ۲۸ د سینه پوښ
کړۍ ګانې دې د مقدس پېشبند د کړۍ ګانو سره چې کمربند سره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وصل دي په آبي مزي باندې وتړل شي، ترڅو سينه پوښ د مقدس
پېشبند څخه لېرې نه شي.

٢٩ هرکله چې هارون مقدس ځای ته ورننوزي، هغه به هغه
سينه پوښ اغوندي چې د اسراييلو د قبيلو نومونه ورباندې ليکل
شوي دي. هغه به دا نومونه د خپل زړه دپاسه وړي، ترڅو زه ښښتن
تل خپل قوم رایادوم. ٣٠ اوريم او تميم په سينه پوښ کې د هغه د
زړه دپاسه کېږده. نو کله چې هارون زما پاک حضور ته راځي، هغه
به يې وړي. په داسې وختونو کې بايد هغه همېشه دا سينه پوښ
واغوندي، ترڅو د اسراييلو د قوم دپاره زما رضا معلومه کړي.

## د کاهنانو نور لباس

(هجرت ٣٩: ٢٢ – ٣١)

٣١ هغه چپنه چې د مقدس پېشبند لاندې اغوستل کيږي هغه ټوله
دې د آبي ټوکر څخه جوړه شي. ٣٢ د هغې په منځ کې دې د سر
دپاره يو سورى پرېښودل شي او د سوري ګردچاپېره دې يوه غاړه
وګنډل شي ترڅو چپنه ونه شليږي. ٣٣ د چپنې د لمنې په څنډه
باندې د آبي، بانجاني او سرو وړيو څخه داسې انار جوړ کړه چې په
منځ کې يې د سرو زرو زنګونه وي. ٣٤ د سرو زرو زنګونه او انار
دې د چپنې د لمنې ګردچاپېره د يو بل ترمنځ راشي. ٣٥ هارون
دې د کاهن په توګه د خدمت کولو په وخت کې دغه چپنه واغوندي.
کله چې هغه زما حضور ته په مقدس ځای کې راننوزي يا کله چې
هغه ځي، د زنګونو اواز به اورېدل کيږي او هغه به نه وژل کيږي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣٦ د سوچه سرو زرو څخه يو ګل جوړ کړه او په هغه باندې د دې
لغتونو يعنې څښتن ته وقف شوی يو نقش وباسه لکه څنګه چې په
يو مهر باندې ايستل کيږي. ٣٧ هغه ګل په يو آبي مزي باندې د
لونګۍ په مخکينۍ برخې پورې وتړه. ٣٨ هارون دې هغه په خپل
تندي باندې وتړي ترڅو زه څښتن هغه ټولې مقدسې نذرانې چې
اسراييليان يې ماته وقف کوي قبولې کړم، حتیٰ که چېرې خلک د
هغو په وړاندې کولو کې کومه سهوه هم وکړي.

٣٩ د هارون دپاره د ښه کتان څخه کميس او يوه لونګۍ جوړ کړه.
پټۍ هم جوړه کړه او هغه دې ګلدوزي شي.

٤٠ د هارون د زامنو دپاره کميسونه، پټۍ ګانې او خولۍ ګانې
جوړې کړه چې هغوی ته عزت او ښکلا ورکړي. ٤١ خپل ورور
هارون او د هغه زامنو ته دغه لباس ورواغونده. هغوی د زيتون په
تېلو باندې مسح کړه او مقرر يې کړه. هغوی وقف کړه ترڅو د
کاهنانو په توګه زما خدمت وکړي. ٤٢ د هغوی دپاره د کتان داسې
نيکرونه جوړ کړه چې د ملا څخه نيولې تر ورنونو پورې ورسيږي
چې بدنونه يې ښکاره نه شي. ٤٣ کله چې هارون او د هغه زامن
مقدسې خېمې ته ورننوزي يا د قربانۍ ځای ته ورنژدې کيږي چې په
مقدس ځای کې د کاهنانو په توګه خدمت وکړي، بايد هغه تل
واغوندي ترڅو هغوی خپل ځانونه ګناهکار نه کړي او مړه نه شي. دا
دې د هارون او د هغه د اولادې دپاره يو دايمي حکم وي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د کاهنانو ټاکنه

(لاويان ۸: ۱ – ۳۶)

۲۹ ۱ دا هغه مراسم دي چې د کاهنانو په توګه د هارون او د
هغه د زامنو د ټاکنې دپاره دې سرته ورسيږي: يو داسې ځوان غويی
او دوه پسونه واخله چې کوم عيب په کې نه وي. ۲ د غنمو د
ډېرو ښو اوړو څخه فطيرې ډوډۍ پخې کړه. ځينې د زيتونو په تېلو
کې پخې کړه، ځينې بې له تېلو او ځينې يې د کلچو په شکل چې تېل
ورباندې موښل شوي وي پخې کړه. ۳ دا ټولې ډوډۍ په يوې
ټوکرۍ کې واچوه او کله چې ته راځې او هغه غويی او دوه پسونه
ماته قرباني کوې نو هغه درسره راوړه.

۴ بيا هارون او د هغه زامن د مقدسې خيمې د دروازې خولې ته
راوله او غسل ورته ورکړه. ۵ دا کالي واخله او هارون ته يې
ورواغونده: کميس، هغه چپنه چې د مقدس پېشبند لاندې اغوستل
کيږي، مقدس پېشبند او سينه پوښ. مقدس پېشبند په کمربند باندې
وتړه. ۶ هغه ته لونګۍ په سر کړه او په هغې باندې د وقف کولو
پاک نښان وتړه په کوم باندې چې نقش ايستل شوی دی. ۷ بيا د
مسح کولو تېل واخله او د هغه په سر باندې يې توی کړه او مسح يې
کړه.

۸ د هغه زامن راوله او کميسونه ورته واغونده ۹ او
خولۍ ګانې ورته په سر کړه. بيا د هارون او د هغه د زامنو په ملاګانو
باندې پټۍ ګانې وتړه. په دې ډول به هارون او د هغه زامن وټاکې.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی او د هغوی اولاده به د تل دپاره د کاهنانو په توګه زما خدمت
کوي.

۱۰ غویی د مقدسې خېمې مخې ته راوله او هارون او د هغه زامن
به د هغه په سر باندې خپل لاسونه کېږدي. ۱۱ هغه د خېمې د
دروازې په خوله کې زما په حضور کې حلال کړه. ۱۲ د غويي لږه
وينه واخله او په خپله ګوته يې په هغو برجونو باندې چې د قربانۍ د
ځای په کنجونو کې دي وسولوه. بيا پاتې وينه د قربانۍ د ځای په
بېخ کې توی کړه. ۱۳ بيا ټوله هغه وازګه چې په کولمو باندې پرته
وي، د اينې ډېره ښه برخه او د هغه دوه پښتورګي چې وازګه
ورباندې پرته وي واخله او هغه ماته د يوې نذرانې په توګه په
قربانګاه باندې وسوزوه. ۱۴ مګر د غويي غوښه، پوستکی او
خوشايي د کمپ څخه دباندې وسوزوه. دا د ګناه يوه نذرانه ده چې د
کاهنانو د ګناهونو د پاکولو دپاره ده.

۱۵ د هغو پسونو څخه يو پسه واخله او هارون او د هغه زامن به
خپل لاسونه د هغه په سر باندې کېږدي. ۱۶ هغه حلال کړه او وينه
يې واخله او د قربانۍ د ځای په څلورو خواو باندې يې وشينده.
۱۷ پسه ټوټې ټوټې کړه او د نس دننني برخې او پښې يې ومينځه
او د سر او د نورو ټوټو سره يې کېږده. ۱۸ بيا ټول پسه په قربانګاه
باندې وسوزوه. دا زما يعنې څښتن دپاره يوه سوزېدونکې نذرانه ده
چې بوی يې په ما باندې ښه لګيږي.

۱۹ هغه بل پسه واخله او هارون او د هغه زامن به خپل لاسونه د
هغه په سر باندې کېږدي. ۲۰ هغه حلال کړه. لږه وينه يې واخله او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هارون او د هغه د زامنو د ښي غوږونو په نرميو، د ښي لاسونو په
غټو ګوتو او د ښي پښو په غټو ګوتو باندې يې وسولوه. بيا پاتې وينه
د قربانۍ د ځای په څلورو خواو باندې وشينده. ۲۱ د هغې وينې
څخه لږه وينه چې د قربانۍ په ځای باندې پرته ده واخله او لږ د
مسح کولو تېل واخله او په هارون او د هغه په زامنو او د هغوی په
کاليو باندې يې وشينده. بيا به هغه، د هغه زامن او د هغوی لباس ماته
وقف شي.

۲۲ د پسه وازګه، لم، هغه وازګه چې په کولمو باندې پرته وي، د
اينې ډېره ښه برخه، دوه پښتورګي د وازګې سره چې ورباندې پرته
وي او ښي ورون، دا ټول ورڅخه پرې کړه. (دا پسه د ټاکنې د
مراسمو دپاره دی.) ۲۳ د هغې ټوکرۍ څخه د هر قسم ډوډۍ نه
يوه يوه ډوډۍ راواخله ۲۴ او دا ټول د هارون او د هغه د زامنو په
لاسونو کې کېږده. بيا هغوی دې هغه پورته ونيسي ترڅو دا وښايي
چې هغه ماته وقف شوي دي. ۲۵ بيا يې د هغوی د لاسونو څخه
راواخله او په قربانګاه باندې يې د سوزېدونکې نذرانې سره وسوزوه
چې بوی يې په ما څښتن باندې ښه لګيږي.

۲۶ کله چې ته د هارون د ټاکلو دپاره د پسه سينه واخلې، نو اول
بايد هغه پورته ونيسې ترڅو دا وښايې چې دا غوښه ماته وقف شوې
ده. دا به ستا برخه وي.

۲۷-۲۸ په راتلونکې کې کله چې د اسراييليانو څخه څوک د
کاهن د ټاکنې په مراسمو کې او يا د سلامتۍ د نذرانې د وړاندې کولو
په وخت کې د پسه سينه او ورون وړاندې کوي، نو غوښه به يې زما

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وي، خو کاهنان کولی شي هغه وخوري. دا قانون به هيڅکله نه
بدليږي.

۲۹ د هارون مقدس لباس به د هغه له مرګ څخه وروسته د هغه
اولادې ته پاتې شي، ترڅو هغوی په کې مسح شي او وټاکل شي.
۳۰ د هارون زوی چې د هغه څخه وروسته کاهن کيږي او مقدسې
خېمې ته ورننوزي چې په مقدس ځای کې خدمت وکړي، نو هغه
دې اووه ورځې دا لباس واغوندي.

۳۱ هغه پسه چې د ټاکنې د مراسمو دپاره دی واخله او غوښه يې
په يو پاک ځای کې پخه کړه. ۳۲ د مقدسې خېمې د دروازې په
خوله کې دې هارون او د هغه زامن د پسه غوښه او هغه ډوډۍ چې
په ټوکرۍ کې پاتې ده وخوري. ۳۳ يوازې هغوی کولی شي چې د
ټاکنې په مراسمو کې هغه غوښه او ډوډۍ چې د هغوی د کفارې د ادا
کولو دپاره ورڅخه کار اخيستل کيږي وخوري. عادي خلک نه شي
کولی هغه وخوري ځکه چې دا شيان مقدس دي. ۳۴ که چېرې
څه غوښه يا ډوډۍ ونه خوړل شي او تر سهاره پورې پاتې شي، هغه
وسوزوه. هغه بايد ونه خوړل شي ځکه چې هغه مقدس دي.

۳۵ لکه څنګه چې ما درته حکم کړی دی د هارون او د هغه د
زامنو د ټاکنې مراسم دې په اوو ورځو کې سرته ورسيږي. ۳۶ ته
بايد هره ورځ يو غويی حلال کړې او ماته يې وړاندې کړې ترڅو د
هغوی يعنې د هارون او د هغه د زامنو ګناه وبخښم او د قربانۍ ځای
پاک شي. برسېره پردې بايد د زيتون تېل واخلې او د قربانۍ ځای
ورباندې مسح کړې چې مقدس شي. ۳۷ اووه ورځې دا کار وکړه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بیا به د قربانۍ ځای دومره مقدس شي چې هرڅوک یا هر شی چې
د هغه سره ولګیږي، هغه به هم مقدس شي.

## ورځنۍ نذرانې

(شمېر ۲۸: ۱ – ۸)

۳۸ ته باید هره ورځ په قربانګاه باندې دوه یو کلن وري قرباني
کړې. ۳۹ یو په سهار کې قرباني کړه او بل په ماښام کې. ۴۰ د
اولني وري سره یو کیلوګرام ښه اوړه وړاندې کړه چې یو لیتر سوچه
د زیتونو تېل ورسره ګډ وي او د څښېلو د نذرانې په توګه یو لیتر د
انګورو شربت وړاندې کړه. ۴۱ دوهم وری په ماښام کې قرباني کړه
او د هغه سره هماغه اندازه اوړه، د زیتون تېل او د انګورو شربت
وړاندې کړه لکه څنګه چې په سهار کې دې وکړل. دا زما دپاره یوه
سوزېدونکې نذرانه ده او د هغې بوی په ما باندې ښه لګیږي. ۴۲
دا سوزېدونکې نذرانه دې د تل دپاره هره ورځ د مقدسې خېمې د
دروازې په خوله کې زما حضور ته وړاندې شي. زه به هلته د
اسراییلو د خلکو سره لیدنه او کتنه وکړم او تا سره به خبرې وکړم.
۴۳ د اسراییلیانو سره به هم هلته لیدنه او کتنه وکړم او هغه ځای به
زما د جلال په وسیله پاک شي. ۴۴ نو زه به خېمه او د قربانۍ
ځای پاک کړم او هارون او د هغه زامن به د دې دپاره پاک کړم چې
د کاهنانو په توګه زما خدمت وکړي. ۴۵ بیا به زه د اسراییلو د
خلکو په منځ کې اوسېږم او د هغوی خدای به یم. ۴۶ هغوی به په
دې پوه شي چې زه د هغوی څښتن خدای یم چا چې هغوی له مصر
څخه راوویستل ترڅو د هغوی په منځ کې واوسېږم. زه د هغوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څښتن خدای یم.

## د خوشبويۍ د سوزولو قربانګاه

(هجرت ۳۷: ۲۵ – ۲۸)

۳۰ ۱ د خوشبويۍ د سوزولو دپاره د غز د لرګي څخه يوه
قربانګاه جوړه کړه. ۲ هغه بايد څلور کنجه وي. پنځه څلوېښت
سانتي بايد اوږده وي او پنځه څلوېښت سانتي پلنه او نوي سانتي
بايد لوړه وي. د هغې برجونه چې په څلورو کنجونو کې دي، هغه دې
د قربانګاه سره د يوې ټوټې لرګي څخه جوړ شي. ۳ د هغې
پاسنۍ برخې، څلور واړه خواو او برجونو ته د سرو زرو پوښ ورکړه
او ګردچاپېره څنډې يې د سرو زرو څخه جوړې کړه. ۴ د څنډو
لاندې د قربانګاه دپاره دوه د سرو زرو کړۍګانې جوړې کړه، يعنې
په دواړو خواو باندې يې يوه يوه جوړه کړه چې هغه ميلې ونيسي
چې د هغې په وړلو کې ورڅخه کار اخيستل کيږي. ۵ ميلې د غز
د لرګي څخه جوړې کړه او د سرو زرو پوښ ورته ورکړه. ۶
قربانګاه د هغې پردې مخې ته کېږده چې د لوظ د صندوق په مخ کې
ده يعنې د هغه سرپوښ مخې ته چې د لوظ په صندوق باندې پروت
دی. په هغه ځای کې به زه ستا سره ليدنه کتنه کوم. ۷ هر سهار
کله چې هارون د څراغونو د تيارولو دپاره راځي، په هغې باندې دې
خوشبويي وسوزوي. ۸ کله چې هغه په مابنام کې څراغونه
لګوي، بايد همداسې وکړي. دغه د خوشبويۍ نذرانه دې پرته له کوم
ځنډه تل ترتله جاري وي. ۹ په دې قربانګاه باندې هيڅ حرامه
خوشبويي يا کومه سوزېدونکي نذرانه يا د غلې داني نذرانه مه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وړاندې کوئ او په هغې باندې د څښتن نذرانه مه تویوئ. ۱۰ په
کال کې دې یو ځل هارون د قربانګاه د پاکولو دپاره په ښکورو
برجونو باندې د هغه حیوان د وینې د سولولو مراسم سرته ورسوي
کوم چې د ګناه دپاره قرباني کیږي. دا کار دې تل ترتله هر کال
ترسره شي. دغه قربانګاه دې په بشپړه توګه مقدسه شي او ما یعنې
څښتن ته دې وقف شي.>

## د کفارې پیسې

۱۱ بیا څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۱۲ >کله چې ته د
اسراییلیانو سرشمېرنه کوې، هر یو باید څښتن ته د شمېرل کېدو په
وخت کې د خپل ژوند په خاطر بیه ادا کړي. بیا چې کله هغوی
شمېرې، هیڅ بلا به په هغوی باندې نازله نه شي. ۱۳ هر یو تن
چې په سرشمېرنه کې شاملیږي، هغه دې د هغه مثقال په مطابق چې
په مقدس ځای کې استعمالیږي او شپږ ګرامه وزن ولري یو مثقال
ورکړي. دغه یو مثقال ماته یوه نذرانه ده. ۱۴ هر یو تن چې په
سرشمېرنه کې شمېرل کیږي، یعنې هر یو سړی چې عمر یې شل کاله
یا د شلو کالو څخه زیات وي، هغه دې دا نذرانه څښتن ته ورکړي.
۱۵ کله چې تاسو څښتن ته نذرانه وړاندې کوئ چې د خپل ژوند
دپاره کفاره ادا کړئ، نو څوک چې شتمن وي هغه دې د یو مثقال
څخه زیات نه ورکوي او څوک چې غریب وي هغه دې د یو مثقال
څخه کم نه ورکوي. ۱۶ د اسراییلو د خلکو څخه د دغې کفارې
پیسې راټولې کړه او د مقدسې خېمې په ساتنه او څارنه کې یې
مصرف کړه. دا پیسې به د هغوی د ژوند په خاطر کفاره وي او زه به

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی رایادوم چې ویې ساتم.>

## برنجي تشت

۱۷ بیا څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۱۸ <د مینځلو دپاره
د برنجو یو تشت جوړ کړه چې د برنجو پایه ولري. د مقدسې خېمې
او د قربانۍ د ځای ترمنځ یې کېږده او اوبه په کې واچوه. ۱۹
هارون او د هغه زامن دې د هغه څخه اوبه واخلي او خپل لاسونه او
پښې دې ومینځي. ۲۰ هرکله چې هغوی مقدسې خېمې ته
ورننوزي، هغوی به خپل لاسونه او پښې مینځي ترڅو مړه نه شي.
همدارنګه کله چې هغوی د قربانۍ ځای ته ورنژدې کیږي چې ماته
په اور باندې یوه نذرانه وړاندې کړي ۲۱ نو هغوی باید خپل
لاسونه او پښې ومینځي ترڅو مړه نه شي. دا یو امر دی چې هارون
او د هغه اولاده باید د تل دپاره د هغه څخه پیروي وکړي.>

## د مسح کولو تېل

۲۲ بیا څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۲۳ <دا لاندینی ښې
مسالې واخله: شپږ کیلوګرامه کنډ چې د مایع په شکل وي، درې
کیلوګرامه خوشبویه دال چیني، درې کیلوګرامه خوشبویه بانس، ۲۴
شپږ کیلوګرامه د سناد د پاڼو شیره، (تول دې د هغه وزن په مطابق
وي چې په مقدس ځای کې ورڅخه کار اخیستل کیږي) او څلور
لیتره د زیتونو تېل. ۲۵ له هغو څخه د مسح کولو مقدس تېل جوړ
کړه. دا دې د عطرو په شان ګډوله وي. ۲۶ بیا د دغو شیانو په
مسح کولو کې ورڅخه کار واخله: مقدسه خېمه او د لوظ صندوق،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۷ مېز او د هغه ټول سامان، څراغدان او د هغه سامان، د
خوشبويۍ د سوزولو قربانګاه، ۲۸ د سوزېدونکې نذرانې د قربانۍ
ځای او د هغه ټول لوښي او تشت سره د پايې. ۲۹ په دې ډول
دغه شيان وقف کړه او هغه به دومره مقدس شي چې هرڅوک يا هر
شی د هغو سره ولګيږي، نو هغه به هم مقدس شي.

۳۰ هارون او د هغه زامن مسح کړه او وټاکه، ترڅو هغوی د
کاهنانو په توګه زما خدمت وکړي. ۳۱ اسراييليانو ته داسې ووايه:
دا د مسح کولو مقدس تېل به تل ترتله زما د خدمت دپاره
استعماليږي. ۳۲ هغه د عادي خلکو په بدنونو باندې مه تويوئ او د
دې ډول ترکيب څخه هيڅ تېل مه جوړوئ. هغه پاک دي او تاسو يې
بايد پاک وګڼئ. ۳۳ هرڅوک چې دا ډول عطر جوړ کړي او
هرڅوک چې هغه پرته له کاهنه په بل چا باندې وسولوي بايد زما د
قوم څخه وشړل شي.>

## خوشبويي

۳۴ بيا څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: <دغه خوشبويه مسالې
واخله لکه کندر، خوشبويه صدف او سوچه کندر. دا ټول دې په يوه
اندازه وي. ۳۵ د خوشبويۍ د جوړولو دپاره د هغو څخه کار واخله
او د عطرو په شان يوه ګډوله جوړه کړه. په هغو کې مالګه ورزياته
کړه چې هغه سوچه او پاکه وساتي. ۳۶ له هغې څخه لږ ميده ميده
کړه او په مقدسه خيمه کې يې د لوظ د صندوق مخې ته په هغه ځای
کې کېږده چې زه درسره ليدنه او کتنه کوم. هغه به تاسو ته ډېره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مقدسه وي. ۳۷ د خپلو ځانونو دپاره له دې ترکيب څخه هيڅ
خوشبويي مه جوړوئ. هغه زما څښتن په خاطر مقدسه وګڼئ. ۳۸
هرڅوک چې داسې يو شی جوړ کړي چې د خوشبويۍ څخه يې
خوند واخلي بايد زما له قوم څخه وشړل شي.>

## بصلئيل او اهولياب

(هجرت ۳۵: ۳۰ – ۳۶: ۱)

۳۱ ۱ بيا څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۲ <ګوره، ما
بصلئيل د اوري زوی او د حور لمسی د يهودا له قبيلې څخه انتخاب
کړی دی ۳ او هغه مې د خپل روح څخه ډک کړی دی او په هر
ډول هنري کار کې مې ورته مهارت، توان او پوهه ورکړې ده. ۴
هغه کولی شي چې د سرو زرو، سپينو زرو او برنجو څخه ښکلي
شيان جوړ کړي، ۵ قيمتي تيږې پرې کړي او تيارې يې کړي، د
لرګيو کار او هر ډول هنري کار وکړي. ۶ ما اهولياب د اخيسامک
زوی چې د دان له قبيلې څخه دی، د دې دپاره ټاکلی دی چې د هغه
مرستيال وي. برسيره پردې ما ټولو کسبګرو ته چې د هغوی سره کار
کوي خاص مهارت ورکړی دی ترڅو وکولی شي هغه ټول شيان
جوړ کړي چې په تا باندې مې امر کړی دی: ۷ لکه مقدسه خيمه،
د لوظ صندوق د سرپوښ سره چې ورباندې پروت وي او د خيمې
نور ټول سامان، ۸ مېز او د هغه سامان، د سوچه سرو زرو
څراغدان او د هغه ټول سامان، د خوشبويۍ د سوزولو دپاره قربانګاه،
۹ د سوزېدونکې نذرانې د قربانۍ ځای او د هغه ټول لوښي،
تشت او د هغه پايه، ۱۰ د هارون کاهن او د هغه د زامنو دپاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښکلی لباس چې کله هغوی د کاهنانو په توګه خدمت کوي ١١ او
د مسح کولو تېل او د مقدس ځای دپاره خوشبويي. هغوی دې دا
شیان هماغسې جوړ کړي لکه څنګه چې ما درته امر کړی دی.>

## سبت يعني د ارام کولو ورځ

١٢ بیا څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ١٣ <د اسراییلو
خلکو ته داسې ووايه: تاسو باید سبت يعني د ارام کولو ورځ
ولمانځئ. دا به تل ترتله زما او ستاسو ترمنځ یوه نښه وي ترڅو تاسو
پوه شئ چې زه څښتن یم او تاسو مې د خپل قوم په توګه انتخاب
کړي يئ. ١٤ د سبت ورځ ولمانځئ ځکه چې دا ستاسو دپاره
مقدسه ده. هرڅوک چې د هغې بې حرمتي کوي باید ووژل شي او
هرڅوک چې په دې ورځ کار وکړي باید زما له قوم څخه وشړل
شي. ١٥ تاسو د کار کولو دپاره شپږ ورځې لرئ، مګر اوومه ورځ
سبت يعني د ارام کولو ورځ ده چې ما څښتن ته وقف کړای شوې
ده. هرڅوک چې په دې ورځ کار وکړي هغه دې ووژل شي. ١٦
اسراییلیان دې د سبت د ورځې څخه پیروي وکړي. هغه دې د یو
لوظ په توګه د تل دپاره ولمانځي. ١٧ دا به همېشه زما او د
اسراییلیانو ترمنځ یوه نښه وي، ځکه چې ما څښتن اسمان او ځمکه
په شپږو ورځو کې جوړ کړل او په اوومه ورځ مې کار بس کړ او ارام
مې وکړ.>

١٨ کله چې د سینا په غره باندې څښتن د حضرت موسیٰ سره
خبرې خلاصې کړې، نو د تیږو هغه دوه لوحې چې په خپله یې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وربانديِ حکمونه ليکلي وو حضرت موسیٰ ته ورکړې.

## د سرو زرو خوسی

(تثنيه ۹: ۶ – ۲۹)

**۳۲** ۱ کله چې خلکو وليدل چې حضرت موسیٰ په غره کې
ډېر وخت تېر کړ، نو هغوی د حضرت هارون په شاوخوا راټول شول
او هغه ته يې وويل: <مونږ نه پوهېږو چې په دې موسیٰ باندې چې
مونږ يې له مصر څخه راوويستلو څه وشول. نو مونږ ته يو خدای
جوړ کړه چې لارښودنه راته وکړي.>

۲ حضرت هارون هغوی ته په ځواب کې وفرمايل: <د خپلو
ښځو، زامنو او لورګانو څخه د سرو زرو غوږوالۍ راوباسئ او ماته
يې راوړئ.> ۳ نو ټولو خلکو خپلې د سرو زرو غوږوالۍ
راوويستلې او حضرت هارون ته يې راوړې. ۴ هغه له هغوی
څخه غوږوالۍ واخيستلې او په يو قالب کې يې ورڅخه د خوسي په
شکل د سرو زرو يو بت جوړ کړ. بيا خلکو وويل: <ای اسراييلو، دا
زمونږ خدای دی چې مونږ يې د مصر څخه راوويستلو!>

۵ بيا حضرت هارون د هغه طلايي خوسي په مخ کې د قربانۍ يو
ځای جوړ کړ او اعلان يې وکړ: <سبا به ښښتن ته د احترام کولو په
خاطر اختر وي.> ۶ نو بله ورځ خلک وختي پاڅېدل او
سوزېدونکې نذرانې يې قرباني کړې او د سلامتۍ نذرانې يې وړاندې
کړې. بيا هغوی دومره وخوړل او وڅښل چې مستي او عياشي يې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شروع کړه.

7 بیا ښښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <همدا اوس لاندې
ښکته شه، ځکه چې ستا خلک چې تا له مصر څخه راوویستل، فاسد
شوي دي. 8 هغوی له هغې لارې څخه چې ما ورته ښودلې ده
ګرځېدلي دي او د ځان دپاره يې د خوسي په شکل يو بت جوړ کړی
دی او سجده ورته کوي. هغه ته يې قرباني وړاندې کړې دي او داسې
وايي چې ای اسراییلو، دا زموږ هغه خدای دی چې موږ يې له مصر
څخه راوویستلو.> 9 ښښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <زه
پوهېږم چې دا سرزوري او سرکشه خلک دي. 10 اوس ته ما مه
منع کوه. زه هغوی ته په قهر یم او غواړم چې هغوی له منځه یوسم.
بیا به ستا او ستا د اولادې څخه یو لوی قوم جوړ کړم.>

11 مګر حضرت موسیٰ خپل ښښتن خدای ته زاري وکړې او ويې
فرمایل: <ښښتنه، ته ولې په خپل قوم باندې چې په خپل لوی
قدرت سره دې له مصر څخه راوویست، دومره په قهر کېږې؟ 12
مصریان ولې ووايي چې تا خپل قوم د دې دپاره له مصر څخه
راوویست چې په غرونو کې يې ووژنې او د ځمکې له مخ څخه يې
ورک کړې؟ د خپل قهر څخه تېر شه، خپله اراده بدله کړه او په خپل
قوم باندې دا آفت مه نازلوه. 13 خپل خدمتګاران ابراهیم، اسحاق
او یعقوب در په یاد کړه چې تا ورته په خپل ذات باندې دا قسم
خوړلی ؤ: زه به ستاسو اولاده د اسمان د ستورو په شان زیاته کړم او
ستاسو اولادې ته به هغه ټوله ځمکه ورکړم د کومې لوظ چې ما د
هغوی سره کړی دی او هغه ځمکه به تر ابده پورې د هغوی ملکیت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وي.> ١۴ نو څښتن خپله اراده بدله کړه او په خپل قوم باندې يې
هغه آفت نازل نه کړ چې هغوی ته يې اخطار ورکړی ؤ.

١۵ حضرت موسیٰ بېرته له غره څخه راښکته شو او د تيږو هغه
دوه لوحې چې په دواړو خواو باندې يې د خدای پاک حکمونه ليکل
شوي وو په لاس کې وې. ١۶ خدای پاک په خپله هغه لوحې
جوړې کړې وې او په هغو باندې يې حکمونه ليکلي وو.

١٧ کله چې يوشع د خلکو د چيغو اواز واورېده، هغه حضرت
موسیٰ ته وويل: <د کمپ څخه د جګړې اواز راځي.>

١٨ حضرت موسیٰ په ځواب کې وفرمايل: <دا د بري يا د ماتې
اواز نه دی، بلکه دا د سندرې اواز دی.>

١٩ کله چې حضرت موسیٰ کمپ ته نژدې شو او هغه خوسی او د
خلکو نڅا يې وليدله، نو ډېر په قهر شو او لوحې يې وغورزولې او
هغه يې د غره په لمن کې ټوټې ټوټې کړې. ٢٠ حضرت موسیٰ
هغه خوسی چې هغوی جوړ کړی ؤ راواخيست او په اور کې يې
وسوزاوه. بيا يې هغه د پوډرو په شان مېده مېده کړ او د اوبو سره يې
ګډ کړل او په اسراييليانو باندې يې وڅښل. ٢١ حضرت موسیٰ
هارون ته وفرمايل: <دغو خلکو تا سره څه کړي دي چې په دومره
لويه ګناه باندې دې اخته کړل؟>

٢٢ حضرت هارون په ځواب کې وفرمايل: <زما باداره، مه په
قهرېږه، ته دا خلک پېژنې چې د بدو کارونو سره څومره شوق لري.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۳ هغوی ماته وویل: مونږ نه پوهېږو چې په دې موسیٰ باندې
چې مونږ یې له مصر څخه راوویستلو څه وشول، نو مونږ ته یو
خدای جوړ کړه چې لارښودنه راته وکړي. ۲۴ نو ما هغوی ته
وویل: هرڅوک چې د سرو زرو ګاڼې لري هغه دې راوباسي. بیا
هغوی ماته سره زر راکړل او ما هغه په اور کې واچول او دا خوسی
ورڅخه راووت!>

۲۵ حضرت موسیٰ ولیدل چې حضرت هارون دا خلک په خپل
سر پرېښي وو، نو هغوی د خپلو دښمنانو د خندا شول. ۲۶ نو
حضرت موسیٰ د کمپ د دروازې په خولې کې ودرېد او داسې غږ
یې وکړ: <هرڅوک چې د څښتن په خوا وي ماته دې راشي!> نو
ټول لاویان د هغه په شاوخوا راټول شول. ۲۷ بیا حضرت موسیٰ
هغوی ته وفرمایل: <د اسراییلو څښتن خدای امر کوي چې هرڅوک
دې خپله توره له ځانه سره واخلي او په کمپ کې دې له دې دروازې
څخه تر بلې دروازې پورې لاړ شي او خپل ورونه، ملګري او
ګاونډیان دې ووژني.> ۲۸ لاویانو د حضرت موسیٰ امر په ځای
کړ او په هغه ورځ یې نږدې درې زره خلک ووژل. ۲۹ بیا حضرت
موسیٰ لاویانو ته وفرمایل: <تاسو نن څښتن ته وقف شوي یئ،
ځکه چې خپل ورونه او زامن مو ووژل، نو څښتن تاسو ته خپل
برکت درکړی دی.>

۳۰ بله ورځ حضرت موسیٰ خلکو ته وفرمایل: <تاسو لویه ګناه
کړې ده. مګر اوس به زه بیا څښتن ته غره ته وروخېژم، کېدای شي
چې زه وکولی شم د خدای پاک څخه ستاسو د ګناهونو دپاره بخښنه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وغواړم.> ۳۱ نو حضرت موسیٰ بېرته څښتن ته ورغی او ویې
فرمایل: <دغه قوم لویه ګناه کړې ده او د ځانونو دپاره یې د سرو
زرو خدای جوړ کړی دی. ۳۲ مګر اوس د هغوی ګناه وبخښه. که
چېرې دا کار نه کوې، بیا زما نوم د هغه کتاب څخه چې د خپل قوم
د خلکو نومونه دې په کې لیکلي دي لیرې کړه.>

۳۳ څښتن حضرت موسیٰ ته په ځواب کې وفرمایل: <هرڅوک چې
زما په مقابل کې ګناه کړې وي، زه به د هغه نوم د خپل کتاب څخه
لیرې کړم. ۳۴ اوس لاړ شه، دغه قوم هغه ځای ته بوځه چې ما
درته وویل او زما فرښته به ستا لارښودنه کوي. نو کله چې د هغوی
د سزا وخت راشي، زه به هغوی ته د خپلې ګناه سزا ورکړم.>

۳۵ بیا څښتن په قوم باندې بلا نازله کړه، ځکه چې هغوی په
حضرت هارون باندې د سرو زرو خوسی جوړ کړی ؤ.

## څښتن اسراییلیانو ته حکم کوي چې د سینا د غره څخه لاړ شي

۳۳ ۱ بیا څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <ته او دا قوم
چې د مصر څخه دې راوویست له دې ځای څخه لاړ شئ او هغې
ځمکې ته ورشئ چې ما وعده کړې وه چې هغه به ابراهیم، اسحاق،
یعقوب او د هغوی اولادې ته ورکړم. ۲ زه به ستاسو څخه مخکې
یوه فرښته ولیږم او کنعانیان، اموریان، حیتیان، فرزیان، حویان او
یبوسیان به له هغه ځای څخه راوباسم. ۳ تاسو ډېرې ښې او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حاصلخېزې ځمکې ته ځئ! مګر زه به ستاسو سره لاړ نه شم، ځکه
چې تاسو سرزورى قوم يئ او کېداى شي چې په لار کې مو له منځه
يوسم.>

۴-۵ مخکې هم ښبنتن داسې سختې خبرې کړې وې او
حضرت موسیٰ ته يې داسې فرمايلي وو: په رښتيا سره دا قوم
سرزورى دى. که زه د هغوى سره لاړ شم نو هغوى به سمدستي
ووژنم. خو هغوى ته ووايه چې خپلې ګاڼې وباسي، بيا به زه پرېکړه
وکړم چې د هغوى سره څه وکړم. نو خلکو په ژړا شروع وکړه. ۶
کله چې هغوى د سينا د غره څخه لاړل، نور يې د ګاڼو اچول بس
کړل.

## د ښبنتن د حضورۍ خېمه

۷ حضرت موسیٰ به د کمپ څخه دباندې په يوې لېرې فاصله
کې يوه خېمه ودروله او هغه به يې د ښبنتن د حضورۍ د خېمې په
نوم يادوله. هرچا چې به غوښتل د کوم شي په باره کې د ښبنتن رضا
معلومه کړي، نو هغې خېمې ته به ورتلل. ۸ کله به چې حضرت
موسیٰ هغې خېمې ته ورتله، ټول قوم به د خپلو خېمو په دروازو کې
ودرېده او حضرت موسیٰ ته به يې تر هغه وخته پورې کتل ترڅو به
هغه خېمې ته ورننوت. ۹ د حضرت موسیٰ د ننوتلو څخه
وروسته به ورېځ راښکته کېدله او د خېمې د دروازې په خوله کې به
ودرېدله او ښبنتن به د حضرت موسیٰ سره د هغې ورېځې له منځ
څخه خبرې کولې. ۱۰ څنګه به چې قوم د خېمې په دروازه کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وربځ ليدله چې ولاړه به وه، نو ټول به په سجده پرېوتل. ۱۱
ښبنتن به حضرت موسیٰ سره مخامخ خبرې کولې لکه څنګه چې يو
سړی د خپل ملګري سره خبرې کوي. بيا به حضرت موسیٰ کمپ ته
راستنېده، مګر د هغه ځوان مرستيال د نون زوی يوشع به په خېمه
کې پاتې کېده.

## حضرت موسیٰ د ښبنتن جلالويني

۱۲ حضرت موسیٰ ښبنتن ته وفرمايل: <ته ماته وايې چې دغه
قوم بوځه، خو دا دې راته ونه ويل چې څوک راسره لېږې. تا ماته
ويلي دي چې زه تا ښه پېژنم او ستا څخه خوشاله يم. ۱۳ که
چېرې ته زما څخه خوشاله يې، نو ماته دې خپل پلانونه ووايه،
ترڅو تا وپېژنم او همېشه دې خوشاله کړم. دا مه هېروه چې دا قوم
ستا خپل قوم دی.>

۱۴ ښبنتن په ځواب کې وفرمايل: <زه به په خپله ستا سره لاړ
شم او بری به درکړم.>

۱۵ حضرت موسیٰ هغه ته وفرمايل: <که چېرې ته زمونږ سره نه
ځې، نو مونږ مه مجبوروه چې له دې ځای څخه لاړ شو. ۱۶ خو
که چېرې ته زمونږ سره لاړ شې، نو هرڅوک به په دې پوه شي چې
ته د خپل قوم او زما څخه خوشاله يې. په دې ډول به د دنيا د نورو
ټولو قومونو څخه زمونږ فرق وشي.>

۱۷ ښبنتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: <کومه غوښتنه چې تا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړي ده زه به هماغسې وکړم، ځکه چې زه تا ډېر ښه پېژنم او ستا
څخه خوشاله یم.>

١٨ بیا حضرت موسیٰ وفرمایل: <اوس دي خپل جلال ماته
وښایه.>

١٩ څښتن په ځواب کې وفرمایل: <زه به ستا په مخکې تېر شم او
ته به زما شان او شوکت وګورې او خپل پاک نوم به درته ووایم. زه
څښتن یم او په چا باندې چې وغواړم رحم وکړم نو په هغوی باندې
رحم کوم او په چا باندې چې وغواړم مهربانه شم نو په هغوی باندې
مهرباني کوم.> ٢٠ هغه زیاته کړه: <خو تا نه پرېږدم چې زما مخ
ووینې، ځکه هیڅوک نه شي کولی چې زما مخ ووینې او ژوندی
پاتې شي.> ٢١ بیا څښتن وفرمایل: <دلته زما په خوا کې یو
ځای شته، ته کولی شې چې په یو ګټ باندې ودرېږې. ٢٢ کله
چې زما جلال تېرېږي، زه به تا د ګټ په یو چاود کې واچوم او په
خپل لاس به دې پټ کړم ترڅو زه تېر شم. ٢٣ بیا به زه خپل
لاس لېرې کړم او ته به زما شا ووینې، مګر مخ به مې ونه وینې.>

## د تیږو نوې لوحې

(تثنیه ١٠: ١ – ٥)

٣۴ ١ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <د اولنیو لوحو په
شان د تیږو دوه لوحې تیارې کړه، زه به په هغو باندې هغه خبرې
ولیکم چې په اولنیو لوحو باندې لیکل شوې وې او تا ماتې کړې.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢ سبا سهار تيار اوسه او د سينا غره ته راوخېژه او د غره په سر
باندې ماته ځان حاضر کړه. ٣ ستا سره دې هيڅوک نه راځي او
په غره باندې دې په هيڅ ځای کې څوک ونه ليدل شي، حتیٰ رمې
او پادې دې هم د غره په لمنه کې نه څري.> ٤ نو حضرت
موسیٰ د ښبتن د امر سره سم د اولنيو لوحو په شان دوه د تيږو
لوحې تيارې کړې. هغه سهار وختي پاڅېده او لوحې يې د ځان سره
واخيستلې او د سينا غره ته پورته شو.

٥ بيا ښبتن په ورېځ کې راښکته شو او د هغه سره هلته ودرېد
او خپل مقدس نوم يې ښبتن اعلان کړ. ٦ بيا ښبتن د حضرت
موسیٰ په مخ کې تېر شو او دا غږ يې وکړ: <زه ښبتن يعنې ښبتن
خدای يم، زه خواخوږی او مهربانه خدای يم. په اسانۍ سره نه په
قهرېږم او ډېره مينه او وفاداري کوم. ٧ د زرګونو خلکو سره
دوامداره مينه کوم او زه بدي، سرغړونه او ګناه بخښنم. خو ګناهکاران
هيڅکله بې سزا نه پرېږدم او د پلرونو د ګناه سزا به د هغوی اولادونو
او لمسيو ته تر دريم او څلورم نسله پورې ورکړم.>

٨ حضرت موسیٰ سمدستي په ځمکه پرېوت او په سجده شو.
٩ هغه وفرمايل: <ای ښبتنه، که چېرې ته په رښتيا سره زما
څخه خوشاله يې، نو ستا څخه غوښتنه کوم چې زمونږ سره لاړ شه.
که څه هم دا قوم سرزوری دی، خو ته زمونږ بدي او ګناه وبخښه او
مونږ د خپل قوم په توګه قبول کړه.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## ښښتن د اسراییلو سره خپل لوظ نوی کوي

(هجرت ۲۳: ۱۴ – ۱۹ او تثنیه ۷: ۱ – ۵، ۱۶: ۱ – ۱۷)

۱۰ بیا ښښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ”زه اوس د اسراییلو د
خلکو سره یو لوظ کوم. زه به د هغوی په مخ کې داسې عجیبه
کارونه وکړم چې د دې ټولې دنیا په هیڅ یو قوم کې شوي نه وي.
کوم خلک چې تاسو یې په منځ کې اوسېږئ، هغوی به وویني چې زه
ښښتن ستاسو دپاره څومره هیبتناکه کارونه کوم. ۱۱ نن چې زه
تاسو ته کوم حکمونه درکوم هغو ته غاړه کېږدئ. نو بیا به زه
اموریان، کنعانیان، حیتیان، فرزیان، حویان او یبوسیان ستاسو له مخې
څخه لېرې کړم. ۱۲ کوم وطن ته چې تاسو روان یئ، پام کوئ چې
د هغه وطن له اوسېدونکو سره کوم تړون ونه کړئ. که نه، نو د هغوی
په دام کې به راګېر شئ. ۱۳ د هغوی د قربانۍ ځایونه وران کړئ،
هغه لویې تیږې چې د عبادت دپاره استعمالیږي ماتې کړئ او د اشیره
بتان یې راوغورزوئ.

۱۴ د بل خدای عبادت مه کوئ، ځکه ښښتن چې نوم یې غیرتي
دی، هغه غیرتي خدای دی. ۱۵ پام کوئ چې د هغه وطن د
اوسېدونکو سره کوم تړون ونه کړئ، ځکه کله چې هغوی د خپلو
خدایانو عبادت کوي او قرباني ورته وړاندې کوي، نو تاسو ته به هم
بلنه درکړي او تاسو به بې لارې کړي ترڅو د هغوی قربانۍ وخورئ.
۱۶ که چېرې تاسو د هغوی لورګانې خپلو زامنو ته په نکاح کړئ
نو څرنګه چې هغوی د خپلو خدایانو عبادت کوي، نو ستاسو زامن
به هم خپلې لارې ته راواړوي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٧ خپلو ځانونو ته د فلز څخه بتان مه جوړوئ.

١٨ د فطیرې ډوډۍ اختر ولمانځئ. لکه څنګه چې ما په تاسو
باندې امر کړی دی، اووه ورځې فطیره ډوډۍ وخورئ. دا کار د ابیب
په میاشت کې په ټاکل شوي وخت وکړئ، ځکه چې په دې میاشت
کې تاسو له مصر څخه راووتلئ.

١٩ ستاسو په کورنیو کې هر اولني پیدا شوي نران او ستاسو د رمو
او پادو اولني زیږېدل شوي نران بچي زما دي. ٢٠ اولنی زیږېدل
شوی خر د یو وري سره بدل کړئ، مګر که چېرې تاسو هغه بدل نه
کړ، نو د هغه خر اورمېږ مات کړئ. خپل ټول اولني زامن بېرته په بیه
واخلئ.

هیڅوک دې ماته تش لاس رانه شي.

٢١ شپږ ورځې کار وکړئ. مګر په اوومه ورځ ارام وکړئ، حتیٰ د
قلبې او لو په وخت کې هم باید کار ونه کړئ.

٢٢ کله چې تاسو د غنمو د اولني حاصل لو کول شروع کوئ نو د
لو کولو اختر ولمانځئ او د حاصل د راټولولو اختر په مني کې
ولمانځئ.

٢٣ ستاسو ټول نارینه باید په کال کې درې ځلې د اسراییلو څښتن
خدای ته د عبادت دپاره راشي. ٢٤ کله چې تاسو په هر کال کې
درې ځلې د خپل څښتن خدای حضور ته د عبادت دپاره راځئ نو
هیڅوک به په تاسو باندې حمله نه کوي او ستاسو جایداد به نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نیسي. زه به هغه قومونه چې ستاسو په مقابل کې ودرېږي لېرې کړم
او ستاسو سیمه به پراخه کړم.

۲۵ کله چې تاسو ماته یو حیوان قرباني کوئ نو هغه د خمیرې
ډوډۍ سره مه وړاندې کوئ. کوم حیوان چې د فسحې په اختر کې
حلالېږي، د هغه د غوښې څخه تر سهاره پورې هیڅ شی مه ساتئ.

۲۶ هر کال د خپل څښتن خدای کور ته د خپل اولني حاصل
ډېرې ښې غلې دانې راوړئ.

یو سېرلی د خپلې مور په شیدو کې مه پخوئ.>

۲۷ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <دا خبرې ولیکه، ځکه
چې دا د هغه لوظ شرطونه دي چې ستا سره او د اسراییلو د قوم سره
مې کړی دی.> ۲۸ حضرت موسیٰ څلوېښت شپې او څلوېښت
ورځې د څښتن سره په غره کې پاتې شو، په دې ټوله موده کې هغه
نه څه وښېل او نه یې څه وخوړل. هغه د لوظ خبرې یعنې لس
حکمونه په لوحو باندې ولیکل.

## حضرت موسیٰ د سینا د غره څخه راکوزېږي

۲۹ کله چې حضرت موسیٰ د تیږو د دوو لوحو سره چې حکمونه
ورباندې لیکل شوي وو د سینا له غره څخه رابښکته شو، نو د هغه
مخ ځلیده، ځکه چې هغه د څښتن سره خبرې کړې وې خو هغه
ورڅخه خبر نه ؤ. ۳۰ کله چې حضرت هارون او د اسراییلو خلکو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د حضرت موسیٰ مخ ولید چې ځلیږي نو هغوی له وېرې حضرت
موسیٰ ته ورنژدې نه شول. ۳۱ مګر حضرت موسیٰ هغوی
راوغوښتل. نو حضرت هارون او د قوم ټول مشران حضرت موسیٰ
ته ورغلل او حضرت موسیٰ د هغوی سره خبرې وکړې. ۳۲
وروسته ټول اسراییلیان حضرت موسیٰ ته نژدې ورغلل او حضرت
موسیٰ هغوی ته هغه ټول حکمونه ورکړل کوم چې څښتن هغه ته د
سینا په غره باندې ورکړي وو. ۳۳ کله چې حضرت موسیٰ د
هغوی سره خپلې خبرې خلاصې کړې، هغه خپل مخ په پردې باندې
پټ کړ. ۳۴ مګر کله به چې حضرت موسیٰ مقدسې خېمې ته
ورننواته چې د څښتن سره خبرې وکړي، نو خپله پرده به یې لرې
کوله. چې کله به هغه راووت، نو خلکو ته به یې د څښتن حکمونه
بیانول ۳۵ او هغوی به لیدل چې د حضرت موسیٰ مخ ځلیږي. تر
هغه وخته پورې چې هغه به بیا څښتن ته د خبرو کولو دپاره تله، نو
په خپل مخ باندې به یې پرده اچوله.

## د سبت دپاره مقررات

۳۵ ۱ حضرت موسیٰ د اسراییلو ټول قوم سره راغونډ کړ او
ورته ویې فرمایل: <دا د څښتن حکمونه دي چې تاسو به ورباندې
عمل کوئ: ۲ تاسو باید په هفته کې شپږ ورځې کار وکړئ، مګر
په اوومه ورځ چې د څښتن مقدسه ورځ ده ارام وکړئ. هرڅوک چې
په هغې ورځ کار وکړي، هغه دې ووژل شي. ۳ حتیٰ د سبت په
ورځ په خپلو کورونو کې اور هم مه بلوئ.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مقدسې خېمې دپاره نذرانې

(هجرت ۲۵: ۱ – ۹)

۴ حضرت موسیٰ د اسراييلو ټول قوم ته وفرمايل: <څښتن
داسې امر کړې دی: ۵ څه چې تاسو لرئ د هغو څخه د څښتن
دپاره يوه نذرانه يوسئ. هرڅوک چې په خپله خوښه څښتن ته
نذرانې راوړي نو دا نذرانې دې راوړي: سره زر، سپين زر او برنج،
۶ ښه کتان او آبي، بانجاني او سرې وړی، هغه ټوکر چې د وزو د
وړيو څخه جوړ شوی وي، ۷ سره رنګ شوي د پسه پوستکي،
ښه څرمن، د غز لرګی، ۸ د څراغونو دپاره تېل، د مسح کولو د
تېلو او د خوشبويۍ دپاره مسالې، ۹ سليماني تيږې او نورې
قيمتي تيږې چې د مشر کاهن په مقدس پېشبند او د هغه په
سينه پوښ باندې ولګول شي.

## د مقدسې خېمې دپاره سامان

(هجرت ۳۹: ۳۲ – ۴۳)

۱۰ په تاسو کې چې څومره ماهر خلک دي هغوی دې راشي او
هغه ټول شيان دې جوړ کړي چې څښتن يې امر کړې دی: ۱۱ لکه
مقدسه خېمه او د هغې پوښونه، چنګکونه، چوکاټونه، اړمونه، ستنې او
پايې، ۱۲ د لوظ صندوق او د هغه ميلې او د هغه سرپوښ چې
کفاره ورباندې ادا کيږي او پرده چې هغه ورباندې پټيږي، ۱۳ مېز د
پايو او ټول سامان سره او مقدسه ډوډۍ، ۱۴ د رڼا دپاره څراغدان
د هغه د سامان سره، د رڼا دپاره څراغونه او تېل، ۱۵ د خوشبويۍ
قربانګاه د هغې د ميلو سره، د مسح کولو تېل او خوشبويي، د مقدسې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خېمې د دروازې دپاره پرده، ۱۶ د سوزېدونکې نذرانې د قربانۍ
ځای او د هغه برنجي جالۍ، ميلې او ټول لوښي، برنجي تشت د پايې
سره، ۱۷ د حويلۍ پردې د هغو د ستنو او پايو سره او د حويلۍ د
دروازې دپاره پرده، ۱۸ د خېمې او حويلۍ دپاره مېخونه او رسۍ،
۱۹ ښکلې کالي چې په مقدس ځای کې د خدمت دپاره اغوستل
کيږي، د هارون کاهن دپاره خاص لباس او د هغه د زامنو دپاره
لباس چې د کاهنۍ د خدمت په وخت کې يې اغوندي.>

## خلک خپلې نذرانې راوړي

۲۰ وروسته بيا د اسرائيلو ټول خلک د حضرت موسیٰ د حضور
څخه لاړل. ۲۱ بيا هغو خلکو چې زړونو يې غوښتل چې ښتن
ته نذرانې راوړي، نو هغه يې راوړلې چې په مقدسه خېمه، د عبادت
په خدمتونو او د کاهنانو د کاليو په جوړولو کې ورڅخه کار واخيستل
شي. ۲۲ نو ټول خلک يعنې نارينه او ښځې په خپله خوښه راغلل
او هغوی د سينې ګلان، غوږوالۍ، ګوتې او غاړه کۍ او هر ډول د سرو
زرو ګاڼې راوړلې او ښتن ته يې وقف کړل. ۲۳ د هرچا سره چې
آبي، بانجاني يا سرې وړۍ، ښه کتان، د وزو د وړيو څخه جوړ شوی
ټوکر، سره رنګ شوي د پسه پوستکي يا ښې څرمنې وې هغه يې
راوړلې. ۲۴ د چا سره چې سپين زر يا برنج او يا د غز لرګي وو
هغه يې راوړل او ښتن ته يې د سوغات په توګه وړاندې کړل. ۲۵
هغو ټولو ښځو چې د ګنډلو او اوبدلو په کار کې يې مهارت درلود
آبي، بانجاني يا سرې وړۍ يا ښه کتان چې هغوی په خپله جوړ کړي
وو راوړل. ۲۶ ټولو ښځو چې زړونو يې غوښتل او مهارت يې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

درلود، هغوی به د وزو د وړيو څخه تارونه جوړول او اوبدل به يې.
٢٧ مشرانو سليماني تيږې او نور غمي راوړل چې په مقدس پېشبند
او سينه پوښ باندې ولګول شي. ٢٨ همدارنګه هغوی د څراغونو
دپاره تېل راوړل او خوشبويه مسالې يې راوړلې چې د خوشبويۍ او
مسح کولو د تېلو سره ګډ شي. ٢٩ د اسراييلو ټولو نارينه او ښځو
چې غوښتل يې د هغه کار دپاره خپلې نذرانې راوړلې چې څښتن د
حضرت موسیٰ په وسيله هغوی ته حکم کړی ؤ چې هغه وکړي.

## بصلئيل او اهولياب

(هجرت ٣١: ١ – ١١)

٣٠ بيا حضرت موسیٰ اسراييليانو ته وفرمايل: «ګورئ، څښتن
بصلئيل د اوري زوی او د حور لمسی د يهودا له قبيلې څخه انتخاب
کړی دی. ٣١ څښتن هغه د خپل روح څخه ډک کړی دی او په هر
ډول هنري کار کې يې ورته مهارت، توان او پوهه ورکړې ده. ٣٢
هغه کولی شي چې د سرو زرو، سپينو زرو او برنجو څخه ښکلي
شيان جوړ کړي، ٣٣ تيږې پرې کړي او تيارې يې کړي، د لرګيو
کار او هر ډول هنري کار وکړي. ٣٤ څښتن هغه او د دان د قبيلې
د اخيسامک زوی اهولياب دواړو ته دا توان ورکړی دی چې نورو ته
خپل هنر ورزده کړي. ٣٥ هغه ورته په هر قسم کار کې مهارت
ورکړی دی چې د زرګرانو، نقشه جوړوونکو، د آبي، بانجاني او سرو
وړيو او د ښه کتان د ګلدوزانو او اوبدونکو په توګه کار وکړي. هغوی
کولی شي چې هر قسم کارونه وکړي او هغوی تکړه نقشه
جوړوونکي دي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ٣۶ 

١ بصلئيل، اهولياب او نور کارګران چې څښتن ورته
مهارت او پوهه ورکړې ده د څښتن د حکم سره سم به مقدسه خېمه
جوړه او تياره کړي.>

## خلک زياتې نذرانې راوړي

٢ بيا حضرت موسیٰ بصلئيل او اهولياب او ټول ماهر خلک چې
څښتن ورته توان ورکړی ؤ او غوښتل يې چې کار وکړي، راوغوښتل
چې راشي او کار شروع کړي. ٣ هغوی د حضرت موسیٰ څخه
هغه ټولې نذرانې چې د اسراييلو خلکو د مقدسې خېمې د جوړولو د
کار دپاره راوړې وې واخيستلې. خو خلکو به حضرت موسیٰ ته هر
سهار د رضاکارۍ نذرانې راوړلې. ۴ نو هغو ټولو ماهرو کسبګرو
چې په مقدسې خېمې باندې يې کار کاوه، خپل کار پرېښود ۵ او
حضرت موسیٰ ته يې وويل: <د هغه کار دپاره چې څښتن يې امر
کړی دی، خلک له ضرورت څخه زياتې نذرانې راوړي.>

۶ بيا حضرت موسیٰ حکم وکړ او هغوی دا خبره ټول کمپ ته
ورسوله: <هيڅ سړی يا ښځه دې د مقدسې خېمې دپاره نور هيڅ
شی د نذرانې په توګه نه راوړي.> نو خلک نور د نذرانو د راوړلو
څخه منع کړای شول، ٧ ځکه څه چې مخکې راوړل شوي وو،
هغه د ټول کار د بشپړولو دپاره ډېر وو.

## د مقدسې خېمې جوړېدل

(هجرت ٢۶: ١ – ٣٧)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ د کارګرانو څخه ټولو ماهرو نفرو د ښه کتان او د آبي، بانجاني
او سرو وړيو د لسو پردو څخه مقدسه خېمه جوړه کړه او په هغو کې
يې د کروبيانو نقش ګلدوزي کړی ؤ. ۹ د ټولو پردو اندازه يوشان
وه، دولس متره اوږدې او دوه متره پلنې وې. ۱۰ د دې پردو څخه
پنځه پردې سره يوځای شوې او يوه جوړه ورڅخه جوړه شوه او
دوهمه جوړه د نورو پنځو څخه جوړه شوه. ۱۱ هغوی په هره
جوړه کې د بيرونی پردې په څنډه باندې د آبي رنګه ټوټې کړی ګانې
جوړې کړې. ۱۲ همدارنګه هغوی پنځوس کړی ګانې په يوې
پردې باندې او پنځوس د بلې جوړې په اخرنی پردې باندې په داسې
ډول جوړې کړلې چې هغه کړی ګانې يو بل ته مخامخ وې. ۱۳ بيا
هغوی پنځوس د سرو زرو چنګکونه جوړ کړل او د پردو د دوه
جوړو په يوځای ترلو کې يې ورڅخه کار واخيست، ترڅو ټوله يوه
خېمه ورڅخه جوړه شي.

۱۴ هغوی د مقدسې خېمې د پوښ دپاره د وزو د وړيو څخه پردې
جوړې کړې چې ټولې يوولس دانې وې. ۱۵ يوولس واړه پردې په
يوه اندازه وې، يعنې ديارلس متره اوږدې او دوه متره پلنې وې. ۱۶
هغوی پنځه پردې په يوه جوړه کې سره يوځای کړې او نورې شپږ
يې په بله جوړه کې. ۱۷ بيا يې پنځوس کړی ګانې د يوې جوړې د
اخرنی پردې په څنډه کې جوړې کړلې او د بلې جوړې د اخرنی
پردې په څنډه کې يې همداسې جوړې کړلې. ۱۸ د برنجو پنځوس
چنګکونه يې جوړ کړل او په کړی ګانو کې يې واچول چې خېمه
يوځای سره وترې. ۱۹ بيا يې د خېمې دپاره د پسه د داسې
پوستکي څخه پوښ جوړ کړ چې سور رنګ ورکړل شوی ؤ او په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه باندې یې د ښې څرمنې څخه یو پوښ جوړ کړ.

۲۰ هغوی د خېمې دپاره د غز د لرګي څخه ولاړ چوکاټونه جوړ
کړل. ۲۱ هر چوکاټ څلورنیم متره اوږد او پنځه شپېته سانتي پلن
ؤ، ۲۲ دوه یوشان نښلوونکي تختې یې درلودلې، ترڅو چوکاټونه
سره یوځای شي. ټولو چوکاټونو دا تختې درلودلې. ۲۳ هغوی د
خېمې د جنوب خوا دپاره شل چوکاټونه جوړ کړل، ۲۴ او
څلوېښت د سپینو زرو پایې یې جوړې کړې چې ورلاندې شي، د هر
چوکاټ لاندې دوه دوه پایې وې، د دې دپاره چې دوه تختې یې
ونیسي. ۲۵ هغوی د بلې خوا یعنې د خېمې د شمال خوا دپاره شل
چوکاټونه جوړ کړل، ۲۶ او څلوېښت د سپینو زرو پایې یې جوړې
کړلې چې د هر چوکاټ لاندې دوه دوه وې. ۲۷ د خېمې د شا
دپاره یې چې د لوېدیځ خواته وه، شپږ چوکاټونه جوړ کړل، ۲۸ او
دوه چوکاټونه یې د خېمې د کنجونو دپاره جوړ کړل کوم چې شاته
وو. ۲۹ په دغو دوو کنجونو کې هغه چوکاټونه د ښخ څخه نیولې تر
سره پورې سره یوځای وو او په یوې کړۍ کې لګول شوي وو، دا
دواړه یوشان وو. ۳۰ نو اته چوکاټونه او شپاړس د سپینو زرو پایې
وې، د هر چوکاټ لاندې دوه دوه پایې وې.

۳۱ هغوی د غز د لرګي څخه پنځلس اړمونه جوړ کړل، پنځه یې د
هغو چوکاټونو دپاره جوړ کړل چې د خېمې په یوې خوا باندې وو،
۳۲ پنځه د هغو چوکاټونو دپاره چې په بلې خوا باندې وو او پنځه
د هغو چوکاټونو دپاره چې شاته د لوېدیځ خواته په آخر سر کې وو.
۳۳ منځنی اړم چې د چوکاټونو تر نیمایي پورې ایښودل شوی ؤ،
هغه د خېمې د یو سر څخه تر بل سره پورې غزېدلی ؤ. ۳۴

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چوکاټونو ته يې د سرو زرو پوښ ورکړ او د سرو زرو کړيو سره يې
ولګول چې اړمونه ونيسي. همدارنګه هغوی اړمونو ته هم د سرو زرو
پوښ ورکړ.

۳۵ هغوی د ښه کتان او آبي، بانجاني او سرو وړيو څخه يوه پرده
جوړه کړه او په هغې کې يې د کروبيانو نقش ګلدوزي کړی ؤ. ۳۶
د هغې دپاره يې د غز د لرګي څخه څلور ستنې جوړې کړې او د
سرو زرو پوښ يې ورته ورکړ او د هغو دپاره يې د سرو زرو
چنګکونه جوړ کړل او څلور پايې يې ورته جوړې کړې. ۳۷ هغوی
د خېمې د دروازې دپاره د آبي، بانجاني او سرو وړيو او د ښه کتان
څخه يوه پرده جوړه کړه چې ګلدوزي په کې شوې وه. ۳۸ د دې
پردې دپاره هغوی پنځه ستنې جوړې کړې چې د چنګکونو سره
لګېدلې وې، د هغو سرونو او سيخونو ته يې د سرو زرو پوښ ورکړ
او د ستنو دپاره يې پنځه برنجي پايې جوړې کړلې.

## د لوظ صندوق

(هجرت ۲۵: ۱۰ – ۲۲)

۳۷ ۱ بصلئيل د غز د لرګي څخه د لوظ صندوق جوړ کړ چې
يو متر او لس سانتي اوږد ؤ، پنځه شپېته سانتي پلن ؤ او پنځه شپېته
سانتي لوړ ؤ. ۲ د هغه منځنۍ او بيرونۍ برخې ته يې د سوچه
سرو زرو پوښ ورکړ او د هغه ګردچاپېره څنډه يې د سرو زرو څخه
جوړه کړه. ۳ د هغه دپاره يې څلور د سرو زرو کړۍ ګانې جوړې
کړې او د هغه په څلورو پايو باندې يې وتړلې، چې دوه کړۍ ګانې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې په يو خوا او دوه په بلې خوا وې. ۴ بيا هغه د غز د لرګي
څخه ميلې جوړې کړې او د سرو زرو پوښ يې ورته ورکړ. ۵
ميلې يې هغو کړيو ته د وړلو دپاره ورننويستلې چې د صندوق په
څنګونو کې وې. ۶ د سوچه سرو زرو څخه يې د صندوق
سرپوښ چې کفاره ورباندې ادا کيږي جوړ کړ چې يو متر او لس
سانتي اوږد ؤ او پنځه شپېته سانتي پلن ؤ. ۷ بيا هغه د سرپوښ
په سرونو کې د ټکول شويو سرو زرو څخه دوه کروبيان جوړ کړل.
۸ يو کروب يې په يو سر او دوهم کروب يې په بل سر کې جوړ
کړ، په دوو سرونو کې يې د سرپوښ سره کروبيان د سرو زرو د يوې
ټوټې څخه جوړ کړل. ۹ د کروبيانو وزرونه د دې دپاره پورته
خپاره وو چې په سرپوښ باندې سيورى وکړي. کروبيان يو بل ته
مخامخ وو او د سرپوښ خواته يې کتل.

## د مقدسې ډوډۍ دپاره مېز

(هجرت ۲۵: ۲۳ – ۳۰)

۱۰ بصلئيل د غز د لرګي څخه يو داسې مېز جوړ کړ چې نوي
سانتي اوږد ؤ، پنځه څلوېښت سانتي پلن ؤ او پنځه شپېته سانتي لوړ
ؤ. ۱۱ بيا يې هغه ته د سوچه سرو زرو پوښ ورکړ او د هغه
ګردچاپېره څنډه يې د سرو زرو څخه جوړه کړه. ۱۲ همدارنګه د
هغه ګردچاپېره يې يو چوکاټ جوړ کړ چې پراخوالى يې پنځه اويا
ملي متره ؤ او په چوکاټ باندې يې د سرو زرو څنډه جوړه کړه.
۱۳ هغه د مېز دپاره څلور د سرو زرو کړۍ ګانې جوړې کړې او په
هغو څلورو کنجونو کې يې وتړلې چېرته چې څلور پايې وې. ۱۴

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړۍ ګانې چوکاټ ته نژدې وې، د دې دپاره چې هغه میلې ونیسي
چې د مېز په وړلو کې ورڅخه کار اخیستل کېده. ۱۵ د مېز د وړلو
میلې د غز د لرګي څخه جوړې شوې وې او د سرو زرو پوښ ورته
ورکړل شوی ؤ. ۱۶ هغه ټول شیان چې په مېز باندې ایښودل کېدل
یعنې کاسې، قابونه او د څښلو د نذرانو دپاره منګې او جامونه د
سوچه سرو زرو څخه جوړ شول.

## څراغدان

(هجرت ۲۵: ۳۱ – ۴۰)

۱۷ بصلئیل د سوچه سرو زرو څخه یو څراغدان جوړ کړ او د هغه
پایه او میله، د هغه د پیالو په شان ګلان، غوټۍ ګانې او ګلپاڼې یې د
ټکول شویو سرو زرو څخه جوړ کړل. هغه ټول شیان د یوې ټوټې
سرو زرو څخه جوړ شوي وو. ۱۸ شپږ څانګې د څراغدان د
څنګونو څخه غزېدلې وې، یعنې درې د یو څنګ څخه او درې د بل
څخه. ۱۹ درې پیالې چې شکل یې د بادام د ګل په شان ؤ، د
غوټیو او ګلپاڼو سره په یوې څانګې باندې وې، درې په بلې څانګې
باندې او په همدې ډول د شپږو واړو څانګو دپاره وې چې د
څراغدان څخه غزېدلې وې. ۲۰ په خپله په څراغدان باندې څلور
د بادام د ګل په شان پیالې وې، د غوټۍ ګانو او ګلپاڼو سره. ۲۱ یوه
غوټۍ د څانګو د اولې جوړې لاندې وه چې د څراغدان څخه
غزېدلې وه، دوهمه غوټۍ د دوهمې جوړې لاندې وه او دریمه غوټۍ
د دریمې جوړې لاندې وه یعنې ټولې شپږ څانګې وې. ۲۲
غوټۍ ګانې، څانګې او څراغدان د ټکول شویو سوچه سرو زرو د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يوې ټوټې څخه وو. ۲۳ د څراغدان دپاره يې اووه څراغونه جوړ
کړل او پلته پاکوونکي او پتنوسونه يې د سوچه سرو زرو څخه جوړ
کړل. ۲۴ هغه د څراغدان او د هغه د ټول سامان په جوړولو کې د
څلوردېرشو کيلوګرامه سوچه سرو زرو څخه کار واخيست.

## د خوشبويۍ د سوزولو قربانګاه

(هجرت ۳۰: ۱ – ۵، ۲۲ – ۳۸)

۲۵ بصلئيل د غز د لرګي څخه د خوشبويۍ د سوزولو دپاره يوه
قربانګاه جوړه کړه. هغه څلور کنجه وه، پنځه څلوېښت سانتي اوږده
وه او پنځه څلوېښت سانتي پلنه وه او نوي سانتي لوړه وه. د هغې
برجونه چې په څلورو کنجونو کې وو، هغه د قربانګاه سره د يوې
ټوټې لرګي څخه جوړ شول. ۲۶ د هغې پاسنۍ برخې، څلور واړو
خواو او برجونو ته يې د سرو زرو پوښ ورکړ او د هغه ګردچاپېره
څنډه يې د سرو زرو څخه جوړه کړه. ۲۷ د څنډې لاندې د
قربانګاه دپاره يې دوه د سرو زرو کړۍ ګانې جوړې کړې، يعنې په
دواړو خواو باندې يې يوه يوه جوړه کړه چې هغه ميلې ونيسي چې د
هغې په وړلو کې ورڅخه کار اخيستل کيږي. ۲۸ هغه ميلې د غز د
لرګي څخه جوړې کړې او د سرو زرو پوښ يې ورته ورکړ.

۲۹ همدارنګه بصلئيل د مسح کولو دپاره مقدس تېل او د
خوشبويۍ دپاره سوچه مسالې جوړې کړې لکه څنګه چې يو عطر
جوړوونکی يې جوړوي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د سوزېدونکي نذرانې د قربانۍ ځای

(هجرت ۲۷: ۱ – ۸)

۳۸ ۱ بصلئيل د غز د لرګي ښخه يو د قربانۍ ځای جوړ کړ
چې يو متر او دېرش سانتي لوړ ؤ. هغه څلور کنجه ؤ، دوه متره او
شل سانتي اوږد ؤ او دوه متره او شل سانتي پلن ؤ. ۲ هغه د
څلورو کنجونو دپاسه برجونه جوړ کړل چې هغه د قربانګاه سره ټول
د يوې ټوټې لرګي ښخه جوړ شول او ټولو ته يې د برنجو پوښ
ورکړ. ۳ د هغه ټول سامان يې د برنجو ښخه جوړ کړ، يعنې د
ايرو د لېرې کولو لوښي او د هغه بېلچې، د وينې د شيندلو کاسې، د
غوښې قاشق پنجې او د اور لوښي. ۴ هغه يوه د برنجو جالۍ
جوړه کړه او د قربانۍ د ځای د څنډې لاندې يې کېښودله، ترڅو د
قربانګاه تر نيمايي پورې ورسيږي. ۵ د دې دپاره يې د برنجو
کړۍ ګانې جوړې کړې چې د جالۍ د څلورو کنجونو ميلې ونيسي.
۶ د غز د لرګي ښخه يې د وړلو ميلې جوړې کړې او د برنجو
پوښ يې ورته ورکړ ۷ او د قربانۍ د ځای د دواړو اړخونو په
کړيو کې يې ولګولې. د قربانۍ ځای د تختو ښخه جوړ شوی ؤ او
تش ؤ.

## د برنجي تشت جوړول

(هجرت ۳۰: ۱۸)

۸ بصلئيل برنجي تشت او د هغه برنجي پايه د هغو ښځو د برنجي
آئينو ښخه جوړ کړل چې د مقدسې خېمې په دروازه کې يې خدمت
کاوه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مقدسې خېمې حویلۍ

(هجرت ۲۷: ۹ – ۱۹)

۹ بصلئیل د مقدسې خېمې دپاره يوه حویلۍ جوړه کړه. جنوب
خوا يې پنځه خلوېښت متره اوږده وه او د ښه کتان پردې يې
درلودلې، ۱۰ چې د برنجو په شلو پايو کې د شلو برنجي ستنو په
وسيله ټينګې شوې وې، چې د سپينو زرو څخه جوړ شوي چنګکونه
او سيخونه په کې وو. ۱۱ حویلۍ د شمال خواته هم همداسې وه.

۱۲ د حویلۍ په لوېديځه خوا کې پردې وې چې دوه ويشت متره
اوږدې وې او لس ستنې او پايې يې درلودلې چې د سپينو زرو څخه
جوړ شوي چنګکونه او سيخونه ورسره وو. ۱۳ ختيځې خواته
يعنې هغه ځای کې چې د ننوتلو دروازه وه، هم حویلۍ دوه ويشت
متره پلنه وه. ۱۴-۱۵ د دروازې دواړو خواو ته د درې ستنو او
پايو سره اووه متره پردې وې. ۱۶ د حویلۍ ګردچاپېره ټولې پردې
د ښه کتان څخه جوړې شوې وې. ۱۷ د ستنو دپاره چې کومې
پايې وې، هغه د برنجو څخه جوړې شوې وې او چنګکونه، سيخونه
او د ستنو د سرونو پوښونه د سپينو زرو څخه جوړ شوي وو. د
حویلۍ ګردچاپېره ټولې ستنې د سپينو زرو د سيخونو سره نښلول
شوې وې.

۱۸ د حویلۍ د دروازې پرده د آبي، بانجاني او سرو ورېو او د ښه
کتان څخه جوړه شوې وه او ګلدوزي په کې شوې وه. هغه نهه متره
اوږده او د حویلۍ د پردو په شان دوه متره او شل سانتي لوړه وه.
۱۹ هغه په څلورو داسې ستنو باندې ټينګه شوې وه چې په څلورو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

برنجي پايو کې وې. چنګکونه، د سرونو پوښونه او سيخونه يې د
سپينو زرو څخه جوړ شوي وو. ۲۰ د خېمې او د هغې د
ګردچاپېره حويلۍ ټول مېخونه برنجي وو.

## هغه فلزات چې په مقدسه خېمه کې ورڅخه کار اخيستل شوی ؤ

۲۱ دا هغه لست دی چې د فلزاتو هغه اندازه په کې ده چې په
مقدسه خېمه کې په هغه ځای کې ورڅخه کار واخيستل شو چې د
تېرو دوه لوحې چې لس حکمونه ورباندې ليکل شوي وو ساتل
شوې وې. د لست فرمايش حضرت موسیٰ ورکړی ؤ او هغو لاويانو
جوړ کړ چې د حضرت هارون کاهن د زوی ايتامار تر لارښوونې
لاندې يې کار کاوه.

۲۲ د يهودا د قبيلې بصلئيل د اوري زوی او د حور لمسي هغه ټول
شيان جوړ کړل چې د هغو د جوړولو امر څښتن په حضرت موسیٰ
باندې کړی ؤ. ۲۳ د هغه سره د دان د قبيلې د اخيسامک زوی
اهولياب ؤ، هغه يو کسبګر او طرح کوونکی ؤ او د آبي، بانجاني او
سرو ورېښو او د ښه کتان ګلدوز ؤ.

۲۴ د هغو ټولو سرو زرو وزن چې خلکو څښتن ته وقف کړي وو
او د مقدس ځای په کار کې ورڅخه کار واخيستل شو زر کيلوګرامه
ؤ. دا د هغه وزن په مطابق وو چې په مقدس ځای کې ورڅخه کار
اخيستل کېده. ۲۵ د هغو سپينو زرو اندازه چې د اسراييلو د قوم د
هغو خلکو څخه ترلاسه شول چې په سرشمېرنه کې شمېرل شوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وو، ۳۴۲۵ کیلوګرامه وه، د هغه وزن په مطابق چې په مقدس ځای
کې ورڅخه کار اخیستل کېده. ۲۶ د نفر په سر یو مثقال راتله، (دا
مثقال د مقدس ځای د مثقال په مطابق ؤ)، ټول خلک چې شمېرل
شوي وو او عمر یې د شلو کالو څخه زیات ؤ، ټول ۶۰۳۵۵۰ نفره
وو. ۲۷ د سپینو زرو څخه ۳۴۰۰ کیلوګرامه د دې دپاره استعمال
شول چې د مقدس ځای او پردې دپاره سل پایې جوړې شي او د
هرې پایې دپاره څلوردېرش کیلوګرامه وو. ۲۸ د پاتې پنځه ویشتو
کیلوګرامو سپینو زرو څخه بصلئیل سیخونه، د ستنو دپاره چنګکونه
او د هغو د سرونو دپاره پوښونه جوړ کړل.

۲۹ د هغو برنجو اندازه چې خلکو ښښتن ته وقف کړي وو، ۲۴۰۰
کیلوګرامه وه. ۳۰ هغه له دې برنجو څخه د لاندینیو شیانو په
جوړولو کې کار واخیست: د مقدسې خېمې د دروازې دپاره پایې،
برنجي قربانګاه او د هغې جالۍ او ټول لوښي، ۳۱ د ګردچاپېره
حویلۍ او د هغې د دروازې دپاره پایې او د خېمې او ګردچاپېره
حویلۍ دپاره ټول مېخونه.

## د کاهنانو دپاره لباس

(هجرت ۲۸: ۱ – ۱۴)

**۳۹** ۱ د آبي، بانجاني او سرو وړیو څخه هغوی په مقدس
ځای کې د خدمت کولو دپاره ښکلي کالي جوړ کړل. هغوی د
حضرت هارون دپاره هم د ښښتن د حکم په مطابق چې حضرت
موسیٰ ته یې کړی ؤ، خاص لباس جوړ کړ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲ هغوی د سرو زرو او د آبي، بانجاني او سرو وړیو او د ښه کتان
څخه مقدس پېشبند جوړ کړ. ۳ هغوی سره زر وټکول او نرۍ
پاڼې يې ورڅخه جوړې کړې او تارونه يې ورڅخه پرې کړل چې په
آبي، بانجاني او سرو وړيو او ښه کتان کې ورڅخه کار واخيستل شي،
دا د يو ماهر کسبګر کار ؤ. ۴ هغوی د مقدس پېشبند دپاره د
اوږې دوه تسمې جوړې کړې او د هغه په دواړو خواو باندې يې
ونښلولې چې پېشبند ورسره وتړل شي. ۵ ښه اوبدل شوی کمربند
چې د همدغه شان موادو څخه جوړ شوی ؤ، هغه د مقدس پېشبند
سره ونښلول شو چې د يوې ټوټې په شان ښکاره شي. هغوی دا کار
د څښتن د امر سره سم چې حضرت موسیٰ ته يې کړی ؤ وکړ. ۶
هغوی سليماني تيږې په هغو ځايونو کې ولګولې چې د سرو زرو د
قابونو په شان جوړ شوي دي او په هغو باندې يې د مهر په شان د
حضرت يعقوب د زامنو د نومونو نقش وويست. ۷ لکه څنګه چې
څښتن په حضرت موسیٰ باندې امر کړی ؤ هغوی هغه تيږې د
مقدس پېشبند د اوږې په تسمو باندې ولګولې چې د اسراييلو د
دولسو قبيلو استازيتوب وکړي.

## سينه پوښ

(هجرت ۲۸: ۱۵ – ۳۰)

۸ هغوی سينه پوښ د هماغو موادو څخه جوړ کړ چې مقدس
پېشبند ورڅخه جوړ شوی ؤ او هماغسې ګلدوزي په کې وشوه. ۹
هغه څلور کنجه ؤ، دوه ويشت سانتي اوږد ؤ او دوه ويشت سانتي
پلن ؤ او دوه قاته ؤ. ۱۰ بيا هغوی په هغه باندې څلور قطاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قیمتي تیږې ولګولې. په اول قطار کې یې یو یاقوت، یو ژیړ یاقوت او
یو لعل ولګاوه، ۱۱ په دوهم قطار کې یې یو زمروت، یو شین
یاقوت او یو الماس ولګاوه، ۱۲ په دریم قطار کې یې یوه فیروزه،
یو عقیق او یو ارغواني یاقوت ولګاوه، ۱۳ په څلورم قطار کې یې
یو شینکی یاقوت، یوه سلیماني تیږه او یو یشم ولګاوه. هغه په داسې
ځایونو کې ولګول شول چې د سرو زرو د قابونو په شان جوړ شوي
دي. ۱۴ دولس تیږې وې، د حضرت یعقوب د زامنو د هر نوم
دپاره یوه یوه تیږه، په هرې یوې کې د یو مهر په شان نقش ایستل
شوی ؤ او د دولسو قبیلو څخه د یوې قبیلې نوم په کې ؤ.

۱۵ هغوی د سینه پوښ دپاره د سوچه سرو زرو څخه داسې
ځنځیرونه جوړ کړل چې د یوې رسۍ په شان تاو شوي وو. ۱۶
دوه د سرو زرو د قابونو په شان ځایونه او دوه د سرو زرو کړۍ ګانې
یې جوړې کړې او د سینه پوښ په پورتنیو کنجونو پورې یې
ونښلولې. ۱۷ په دغو دوو کړیو باندې یې دوه د سرو زرو
ځنځیرونه وتړل، ۱۸ او د ځنځیرونو دوه نور سرونه یې په هغو
ځایونو باندې چې د سرو زرو د قابونو په شان وو وتړل او په دې
ډول یې د مقدس پېشبند د اوږې د تسمو په مخکینۍ برخې باندې
ونښلول. ۱۹ هغوی د سرو زرو دوه کړۍ ګانې جوړې کړې او د
سینه پوښ په لاندینیو کنجونو پورې یې په دننۍ څنډې باندې د
مقدس پېشبند په څنګ کې ونښلولې. ۲۰ دوه نورې کړۍ ګانې یې
جوړې کړې او د اوږې د تسمو په لاندینۍ برخه کې یې ونښلولې
چې د مقدس پېشبند په مخکینۍ برخې باندې بخیې ته نژدې او د
مقدس پېشبند د کمربند دپاسه وې. ۲۱ لکه څنګه چې څښتن

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حضرت موسیٰ ته امر کړی ؤ، هغوی د سینه پوښ کړی ګانې د
مقدس پېشبند د کړی ګانو سره په آبي مزي باندې وتړلې چې د
کمربند سره وصل شي، ترڅو سینه پوښ د مقدس پېشبند څخه لېرې
نه شي.

## د کاهنانو نور لباس

(هجرت ۲۸: ۳۱ – ۴۳)

۲۲ هغه چپنه چې د مقدس پېشبند لاندې اغوستل کېدله ټوله د
آبي ټوکر څخه جوړه شوه. ۲۳ د هغې په منځ کې يې د سر دپاره
يو سوری پرېښود او د سوري ګردچاپېره يې يوه غاړه وګنډله ترڅو
چپنه ونه شلېږي. ۲۴ هغوی د چپنې د لمنې په څنډه باندې د آبي،
بانجاني او سرو وړيو او ښه کتان څخه انار جوړ کړل. ۲۵ د سوچه
سرو زرو څخه يې زنګونه جوړ کړل او هغه يې د لمنې په څنډه
باندې د انارو ترمنځ ونښلول. ۲۶ لکه څنګه چې څښتن په
حضرت موسیٰ باندې امر کړی ؤ زنګونه او انار د هغې چپنې د لمنې
په څنډه باندې چې د خدمت کولو دپاره به اغوستل کېدله، د يو او بل
ترمنځ راغلل.

۲۷ هغوی د حضرت هارون او د هغه د زامنو دپاره د ښه کتان
څخه کمیسونه جوړ کړل ۲۸ او لونګۍ، خولۍ ګانې او نیکرونه يې
ورته د ښه کتان څخه جوړ کړل. ۲۹ پټۍ د ښه کتان او د آبي،
بانجاني او سرو وړيو څخه جوړه شوې وه او هغه ګلدوزي شوې وه،
لکه څنګه چې څښتن په حضرت موسیٰ باندې امر کړی ؤ ۳۰

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی د سوچه سرو زرو ښخه یو ګل جوړ کړ او په هغه باندې یې د
دې لغتونو یعنې ښبنتن ته وقف شوی یو نقش وویست لکه ښنګه
چې په یو مهر باندې ایستل کیږي. ۳۱ لکه ښنګه چې ښبنتن په
حضرت موسیٰ باندې امر کړی ؤ هغوی هغه ګل په یو آبي مزي
باندې د لونګۍ په مخکینۍ برخې پورې وتاړه.

## د کار بشپړېدل

(هجرت ۳۵: ۱۰ – ۱۹)

۳۲ په دې ډول هغه ټول کار چې په مقدسې خېمې باندې روان ؤ
هغه ختم شو. اسراییلیانو ټول شیان د ښبنتن د امر سره سم چې
حضرت موسیٰ ته یې کړی ؤ جوړ کړل. ۳۳ بیا هغوی دا شیان
حضرت موسیٰ ته راوړل: خېمه او د هغې ټول سامان، د هغې
چنګکونه، چوکاټونه، اړمونه، ستنې او پایې، ۳۴ د پسه د داسې
پوستکي ښخه پوښ چې سور رنګ ورکړل شوی ؤ، د ښېې خرمنې
پوښ او دننني پرده، ۳۵ د لوظ صندوق چې د تیږو لوحې په کې
دي، د هغه د میلو سره او د هغه سرپوښ چې کفارهورباندې ادا
کیږي، ۳۶ مېز د هغه د ټول سامان سره او مقدسه ډوډۍ، ۳۷ د
سوچه سرو زرو ښراغدان، د هغه ښراغونه، د هغه ټول سامان او د
ښراغونو دپاره تېل، ۳۸ د سرو زرو قربانګاه، د مسح کولو تېل او
خوشبویي، د مقدسې خېمې د دروازې دپاره پرده، ۳۹ برنجي
قربانګاه د هغې د برنجي جالۍ سره، د هغې ستنې او ټول لوښي،
تشت د پایې سره، ۴۰ د حویلۍ پردې د هغو د ستنو او پایو سره
او د حویلۍ د دروازې دپاره پرده، د حویلۍ دپاره رسۍ ګانې او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مېخونه، د مقدسې خېمې دپاره ټول سامان ۴۱ او ښکلې کالي چې
په مقدس ځای کې د خدمت دپاره اغوستل کيږي، د حضرت هارون
کاهن دپاره خاص لباس او د هغه د زامنو دپاره لباس کله چې هغوی
د کاهنانو په توګه خدمت کوي.

۴۲ لکه څنګه چې ښتن په حضرت موسیٰ باندې امر کړی ؤ،
اسراييليانو ټول کارونه سرته رسولي وو. ۴۳ حضرت موسیٰ ټول
کار وکاته او ويې ليدل چې هغوی د ښتن د امر سره سم کار کړی
ؤ. نو هغوی ته يې برکت ورکړ.

## د مقدسې خېمې ودرول

**۴۰** ۱ بيا ښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۲ <د اولې
مياشتې په اوله ورځ مقدسه خېمه ودروه. ۳ په هغې کې د لوظ
صندوق چې لس حکمونه په کې دي کېږده او هغه په پردې باندې
پټ کړه. ۴ مېز دننه راوړه او سامانورباندې کېږده. همدارنګه
څراغدان هم دننه راوړه او څراغونه ورباندې کېږده. ۵ د سرو
زرو د خوشبويۍ قربانګاه د لوظ د صندوق په مخ کې کېږده او د
خېمې په دروازه باندې پرده ځوړنده کړه. ۶ د سوزېدونکې
نذرانې قربانګاه د مقدسې خېمې د دروازې په مخ کې کېږده. ۷ د
خېمې او قربانګاه ترمنځ تشت کېږده او اوبه په کې واچوه. ۸ د
هغې ګردچاپېره يوه حويلۍ جوړه کړه او د حويلۍ په دروازه باندې
پرده ځوړنده کړه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ د مسح کولو تېل واخله او خېمه او هرڅه چې په کې دي هغه
ورباندې مسح کړه. خېمه او د هغې ټول سامان وقف کړه او هغه به
مقدس شي. ١٠ بيا د سوزېدونکې نذرانې د قربانۍ ځای او د هغه
ټول لوښې مسح کړه. د قربانۍ ځای وقف کړه او هغه به په بشپړه
توګه مقدس شي. ١١ تشت او د هغه پايه مسح کړه او وقف يې
کړه.

١٢ هارون او د هغه زامن د مقدسې خېمې د دروازې خولې ته
راوله او غسل ورته ورکړه. ١٣ بيا هارون ته خاص لباس
ورواغونده او مسح او وقف يې کړه ترڅو هغه د کاهن په توګه زما
خدمت وکړي. ١٤ د هغه زامن راوله او کميسونه ورته ورواغونده.
١٥ هغوی کټ مټ داسې مسح کړه لکه څنګه چې تا د هغوی پلار
مسح کړ، ترڅو هغوی د کاهنانو په توګه زما خدمت وکړي. د هغوی
مسح کېدل به د يو داسې کاهنتوب دپاره وي چې تل ترتله به دوام
ومومي.>

١٦ حضرت موسیٰ هرڅه کټ مټ د ښښتن د امر په مطابق وکړل.
١٧ نو په دوهم کال وروسته له دې چې هغوی له مصر څخه لاړل،
د اولې مياشتې په اوله ورځ خېمه ودروله شوه. ١٨ کله چې
حضرت موسیٰ خېمه ودروله نو د هغې پايې يې په خپل ځای کې
کېښودلې. چوکاټونه يې ودرول، اړمونه يې ورننه ايستل او ستنې يې
ودرولې. ١٩ لکه څنګه چې ښښتن امر کړی ؤ، هغه په خېمه باندې
پوښ وغوړاوه او په هغه باندې يې بيروني پوښ واچاوه.

٢٠ هغه د تيږو دوه لوحې واخيستلې او د لوظ په صندوق کې يې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کېښودلې. ميلې يې د صندوق په کړۍ ګانو کې واچولې او هغه
سرپوښ يې ورباندې واچاوه چې کفاره ورباندې ادا کيږي. ۲۱ لکه
څنګه چې څښتن امر کړی ؤ، حضرت موسیٰ د لوظ صندوق خېمې
ته دننه راوړ او پرده يې ځوړنده کړه. په دې ډول يې صندوق پټ کړ.

۲۲ حضرت موسیٰ مېز په خېمه کې شمال خواته د پردې څخه
بيرون کېښود ۲۳ او لکه څنګه چې څښتن امر کړی ؤ، په هغه
باندې يې هغه مقدسه ډوډۍ کېښودله چې څښتن ته وړاندې کيږي.
۲۴ څراغدان يې په خېمه کې مېز ته مخامخ جنوب خواته کېښود
۲۵ او لکه څنګه چې څښتن امر کړی ؤ، د څښتن په حضور کې
يې څراغونه کېښودل. ۲۶ حضرت موسیٰ د سرو زرو قربانګاه په
خېمه کې د پردې په مخ کې کېښودله ۲۷ او لکه څنګه چې څښتن
امر کړی ؤ، په هغې باندې يې خوشبويي وسوزوله. ۲۸ بيا يې پرده
د خېمې په دروازه کې ځوړنده کړه. ۲۹ لکه څنګه چې څښتن امر
کړی ؤ، هغه د سوزېدونکې نذرانې قربانګاه د خېمې دروازې ته نژدې
ودروله او په هغې باندې يې سوزېدونکې او د غلې دانې نذرانې
وړاندې کړې. ۳۰ تشت يې د خېمې او د قربانۍ د ځای ترمنځ
کېښود او د مينځلو دپاره يې اوبه په کې واچولې ۳۱ او حضرت
موسیٰ، حضرت هارون او د هغه زامنو به د هغه څخه د خپلو لاسونو
او پښو د مينځلو دپاره کار اخيست. ۳۲ هرکله به چې هغوی
خېمې ته ورننوتل يا به د قربانۍ ځای ته ورتلل، نو خپل لاسونه او
پښې به يې مينځلې، لکه څنګه چې څښتن په حضرت موسیٰ باندې
امر کړی ؤ. ۳۳ بيا حضرت موسیٰ د خېمې او د قربانۍ د ځای
ګردچاپېره حويلۍ جوړه کړه او د حويلۍ په دروازې باندې يې پرده

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځوړنده کړه. نو حضرت موسیٰ کار پای ته ورساوه.

## د څښتن جلال

(شمېر ۹: ۱۵ – ۲۳)

۳۴ بیا ورېځ خېمه پټه کړه او د څښتن د جلال څخه ډکه شوه.
۳۵ نو له دې کبله حضرت موسیٰ نه شو کولی چې خېمې ته
ورننوزي. ۳۶ اسراییلیانو به یوازې هغه وخت خپل کمپ بل ځای
ته انتقالاوه چې کله به ورېځ د خېمې څخه پورته کېدله. ۳۷ ترڅو
پورې چې ورېځ به هلته ولاړه وه نو هغوی به خپل کمپ نه انتقالاوه.
۳۸ د ټولو سفرونو په دوران کې ټولو اسراییلیانو د ورځې له خوا د
څښتن د حضور ورېځ د خېمې دپاسه لیدلی شوه او د شپې له خوا به
یې لیدل چې په ورېځ کې اور بلیږي.